د عذاب د اوور نه * صبر کونکي او رشتيني

وَ الْقٰنِتِيْنَ وَ الْمُنْفِقِيْنَ وَ الْمُسْتَغْفِرِيْنَ

او عاجزي کونکي او خرچ کونکي او ښښنه غوختونکي

بِالْاَسْحَارِ ﴿١٧﴾ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ

په وخت د صبا كښې * بيان كړې الله شان دا دے نشته بل حاجت روا مګر دا الله دے

وَ الْمَلٰٓئِكَةُ وَ اُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ؕ

او فرشتے او خاوندان د علم ولاړ دي په بيان د توحيد باندې په انصاف ،

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾ ؕ اِنَّ

نشته بل حاجت روا مګر دا الله غالب حكمت والا * يقينًا

الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ ۫ وَ مَا اخْتَلَفَ

كامل دين په نزد د الله اسلام دے ، او اختلاف نه وو كړے

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا

هغه كسانو چې وركړے شوے دے ورته كتاب مګر پس د هغه نه چې

جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ؕ وَ مَنْ

راغے دوی ته علم د وجې دضد او د عناد نه په خپل مينځ كښې (حق پرستو سره)، او چا چې

يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

كفر اوكه په آيتونو د الله باندې پس يقينًا الله زر

الْحِسَابِ ﴿١٩﴾ فَاِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ

حساب كونكے دے * پس كه دوی جګړې كړې تا سره نو اووايه : ما اينبے ده

وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَ مَنِ اتَّبَعَنِ ؕ وَ قُلْ لِّلَّذِيْنَ

خپله غاړه الله ته او چا چې تابعداري كړې ده زما ، او اووايه هغه كسانو ته

اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَ الْاُمِّيّٖنَ ءَ اَسْلَمْتُمْ ؕ

چې وركړے شوے دے ورته كتاب او اميانو ته آيا تاسو غاړه كيخودې ده ؟

فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَ اِنْ تَوَلَّوْا

پس كه دوی غاړه كيخوده نو تحقيق سره دوی به سمه لار اومومي ، او كه دوی واوړېدل

فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ؕ وَ اللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝٢٠ ع ١١ / ١٠

پس بے شکه په تا باندې رسول (د مسئلې) دي، او الله ليدونکے دے په خپلو بندګانو باندې *

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ يَقْتُلُوْنَ

يقيناً هغه کسان چې انکار کوي د آيتونو د الله نه او وژني

النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ وَّ يَقْتُلُوْنَ الَّذِيْنَ

پيغمبران بے جرمه ، او وژني هغه کسان چې

يَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ ۙ فَبَشِّرْهُمْ

حکم کوي په توحيد د خلقو نه ، نو زيرے ورکه دوی ته

بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٢١ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ حَبِطَتْ

په عذاب دردناک باندې * دغه کسان برباد دي

اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ۫ وَ مَا لَهُمْ

عملونه د دوی په دنيا او آخرت کښې ، او نه به ئې دوی لره

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝٢٢ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا

څوک امداديان * آيا ته نه ګورې هغه کسانو ته چې ورکړے شوي ده ورته

نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ

څه حصه د (د پوهې د) کتاب نه دوی رابللے شي کتاب د الله ته

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ وَ

دې د پاره چې فيصله اوکړي په مينځ د دوی کښې بيا اوړي يوه ډله د دوی نه او

هُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝٢٣ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ

وي دوی اعراض کونکي * دا د دې وجې نه چې دوی وائي هيڅ کله

تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۪ وَّ غَرَّهُمْ

او به نه رسيږي مونږ ته اوور مګر يو څو ورځے د شمير، او دهوکه کښې اچولي دي دوی لره

فِيْ دِيْنِهِمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ فَكَيْفَ

په دين د دوی کښې هغه دروغو چې دوی ئې د خان نه جوړی * نو څه رنګه حال به ئې

اِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۙ وَ

کله چې راجمع کو مونږه دوی لره په هغه ورځ کښې چې نشته شک په هغې کښې ، او

وُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَ هُمْ لَا

پوره به ورکړے شي هر يو نفس ته بدله د هغه عمل چې کړے ئې وي او دوی باندې به

يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ

ظلم اونه کړے شي * اووايه : اے الله تا پورې جوخت شوم ته بادشاه د بادشاهانو يې

تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَ تَنْزِعُ الْمُلْكَ

ورکے بادشاهي (د دنيا) چا له چې دې خوښه شي او اخلې بادشاهي (د دنيا)

مِمَّنْ تَشَآءُ ۫ وَ تُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَ تُذِلُّ

د چا نه چې دې خوښه شي ، او ته عزت ورکے چا له چې دې خوښه شي او ته ذلت ورکے

مَنْ تَشَآءُ ؕ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ؕ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ

چاله چې دې خوښه شي ، په لاس ستا کښې دې نفع (او نقصان) ، يقيناً ته په هر يو

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾ تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ

شي قدرت والا يې * دننه کے ته شپے لره په ورځ کښې

وَ تُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۫ وَ تُخْرِجُ الْحَيَّ

او دننه کے ته ورځ په شپه کښې ، او راوباسے ته ژوندي (موحّد) لره

مِنَ الْمَيِّتِ وَ تُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ ۫

د مړي (مشرک) نه او راوباسے ته مړي (مشرک) لره د ژوندي (موحّد) نه

وَ تَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾ لَا

او رزق ورکے ته چا له چې دې خوښه شي بے حسابه * نه دي

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ
نه دي نيسي مومنان كافرانو لره دوستان
دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ وَ مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ
سيوا د مومنانو نه ، او چا چې اوکه دا کار
فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا
پس نه دے د الله د طرف نه په هيڅ يو شي(دين) کښې مګر دا چې تاسو ځان بچ کړئ
مِنْهُمْ تُقٰىةً ؕ وَ يُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ
د دوی نه په ځان بچ کولو سره ، او يرئ تاسو لره الله د خپل ځان نه ،
وَ اِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۲۸﴾ قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا
او الله ته ورتلل دي * اووايه که پټوئ تاسو هغه چې
فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ؕ وَ
په سينو ستاسو کښې دي يا ښکاره کوئ هغې لره پوهيږي په هغې باندې الله ، او
يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ
پوهيږي (الله) په هغه چې آسمانونو او په هغه چې زمکو کښې دي ،
وَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۹﴾ يَوْمَ تَجِدُ
او الله په هر يو شي باندې قدرت والا دے * (ياده که) هغه ورځ چې او به مومي
كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚۛ
هر يو بنده بدله د هغه چې عمل ئې کړے وي د نيکۍ حاضر / ښکاره
وَّ مَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚۛ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا
او هغه چې عمل ئې کړے ئې د بدئ، (هغه به هم ښکاره اوويني) ،خوښوي به کاش چې وے په مينځ د دغه نفس
وَ بَيْنَهٗٓ اَمَدًۢا بَعِيْدًا ؕ وَ يُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ
او په مينځ د دې عمل کښې موده لرې(ډيره) ، او يرئ تاسو لره الله

نَفۡسَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ رَءُوۡفٌۢ بِالۡعِبَادِ ﴿۳۰﴾ قُلۡ اِنۡ

د خان خپل نه ، او الله نرمي كوونكے دے په بندګانو باندي * اووايه كه

كُنۡتُمۡ تُحِبُّوۡنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوۡنِیۡ يُحۡبِبۡكُمُ

تاسو مينه كوئ د الله سره نو تابعداري اوكړئ زما مينه به اوكړي تاسو سره

اللّٰهُ وَ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوۡبَكُمۡ ؕ وَ اللّٰهُ غَفُوۡرٌ

الله او ببنښنه به اوكړي تاسو ته د ګناهونو ستاسو ، او الله ببنښونكے

رَّحِيۡمٌ ﴿۳۱﴾ قُلۡ اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوۡلَ ۚ

مهربان دے * اووايه تابعداري اوكړئ د الله او د پيغمبر د الله ،

فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۳۲﴾

نو كه تاسو واوړيدئ پس يقينًا الله مينه نه كړي د كافرانو سره *

اِنَّ اللّٰهَ اصۡطَفٰۤی اٰدَمَ وَ نُوۡحًا وَّ اٰلَ

يقينًا الله غوره كړے وو آدم (عليه السلام) او نوح (عليه السلام) او ال د

اِبۡرٰهِيۡمَ وَ اٰلَ عِمۡرٰنَ عَلَی الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۳۳﴾ ۙ

ابراهيم (عليه السلام) او آل د عمران (عليه السلام) په مخلوقاتو (د خپلے زمانے) *

ذُرِّيَّةًۢ بَعۡضُهَا مِنۡۢ بَعۡضٍ ؕ وَ اللّٰهُ سَمِيۡعٌ

اولاد وو بعضي د دوی د بعضو نه ، او الله اوريدونكے

عَلِيۡمٌ ﴿۳۴﴾ ۚ اِذۡ قَالَتِ امۡرَاَتُ عِمۡرٰنَ رَبِّ اِنِّیۡ

او پوهه دے * كله چي اوئيل ښځے د عمران (عليه السلام) اے زما ربه يقينًا

نَذَرۡتُ لَكَ مَا فِیۡ بَطۡنِیۡ مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلۡ

ما نذر منلے دے تا لره هغه چي په خيټه زما كښې دے آزاد نو قبول كړې

مِنِّیۡ ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۳۵﴾ فَلَمَّا

زما نه ، يقينًا خاص ته يې اوريدونكے پوهه * پس هر كله

وَضَعَتۡهَا قَالَتۡ رَبِّ اِنِّیۡ وَضَعۡتُهَاۤ اُنۡثٰی ؕ

چې اوزیږوله دې لره اوئیل دې اے زما ربه یقینًا ما اوزیږوله دې لره جینۍ ،

وَ اللّٰهُ اَعۡلَمُ بِمَا وَضَعَتۡ ؕ وَ لَیۡسَ الذَّكَرُ

او الله پوهه وو په هغه چې دې زیږولې وو ، او نه دے نارینه

كَالۡاُنۡثٰی ۚ وَ اِنِّیۡ سَمَّیۡتُهَا مَرۡیَمَ وَ اِنِّیۡۤ

په شان د دې زنانه ، او یقینًا ما نوم کیخوده دې ته مریم او یقینًا زه

اُعِیۡذُهَا بِكَ وَ ذُرِّیَّتَهَا مِنَ الشَّیۡطٰنِ

پناه غواړم د دې په تا سره او د اولاد د دې د شیطان

الرَّجِیۡمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوۡلٍ حَسَنٍ

رټلے شوي نه * نو قبول کړه دې لره رب د دې په قبول والي ښائسته سره

وَّ اَنۡۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ وَّ كَفَّلَهَا زَكَرِیَّا ؕ

او لویه ئې کړه دې لره په لویولو ښائسته ، او ذمه دار شو د دې زکریا (علیه السلام)

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَیۡهَا زَكَرِیَّا الۡمِحۡرَابَ ۙ وَجَدَ

هر کله چې دننه شو په دې باندې زکریا (علیه السلام) عبادت خانے ته ، وے موندلې

عِنۡدَهَا رِزۡقًا ۚ قَالَ یٰمَرۡیَمُ اَنّٰی لَكِ

دې سره میوے ، نو اوئیل زکریا (علیه السلام) اے مریم چرته وې تا لره

هٰذَا ؕ قَالَتۡ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ

دا میوې ، اوئیل دې دا د طرفه د الله نه دي ، یقینًا

اللّٰهَ یَرۡزُقُ مَنۡ یَّشَآءُ بِغَیۡرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

الله رزق ورکوي چا له ئې چې خوښه شي بے حسابه *

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِیَّا رَبَّهٗ ۚ قَالَ رَبِّ هَبۡ

په دغه وخت کښې دعا اوغوښته زکریا (علیه السلام) د خپل رب نه ، اوئیل ده اے ربه زما اوبښې

لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً ۚ اِنَّكَ
ما ته د خپل طرف نه اولاد پاک ، يقيناً ته
سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ﴿٣٨﴾ فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَ هُوَ
قبلونکے د دعا ئي * نو آواز اوکه ده ته فرشتو او دے
قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ
ولاړ وو چي مونځ ئي کولو په عبادت خانه کښي ، يقيناً الله
يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى مُصَدِّقًاۢ بِكَلِمَةٍ مِّنَ
زيرے درکئ تا ته په يحيي (عليه السلام) تصديق کونکے به وي په حکم سره د طرفه د
اللّٰهِ وَ سَيِّدًا وَّ حَصُوْرًا وَّ نَبِيًّا مِّنَ
الله نه او سردار او پاک باز او پيغمبر به وي د
الصّٰلِحِيْنَ ﴿٣٩﴾ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ
کاميابو نه * اوئيل زکريا (عليه السلام) اے زما ربه څه رنګه به شي ما لره
غُلٰمٌ وَّ قَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَ امْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ؕ
هلک او تحقيق سره رسيدلے دے ما ته بوډا والے او ښځه زما شنډه ده ،
قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿٤٠﴾
وئيل جبرئيل آمين دارنګي به ئي ته الله کئ هغه چي خوښه ئي شي *
قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ
اوئيل زکريا (عليه السلام) اے زما ربه اوګرځے ما لره نښه ، اوئيل الله نښه ستا
اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ
دا چي خبري به نه کے خلقو سره دري ورځے مګر په اشاره ،
وَ اذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّ سَبِّحْ بِالْعَشِيِّ
او ياده وه رب خپل دير دير او پاکي بيانوه (د الله) مازيګر

وَ الۡاِبۡكَارِ ﴿٤١﴾ وَ اِذۡ قَالَتِ الۡمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرۡيَمُ

او سحر * او كله چې اوئيل فرشتو اے مريم

اِنَّ اللّٰهَ اصۡطَفٰكِ وَ طَهَّرَكِ وَ اصۡطَفٰكِ

يقينًا الله چونړ كړي ئې ته او پاكه كړي ئې ته او چونړ كړي ئې ته

عَلٰى نِسَآءِ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٤٢﴾ يٰمَرۡيَمُ اقۡنُتِىۡ

په زنانو د مخلوقات (د خپلے زمانے) * اے مريم عاجزي كوه

لِرَبِّكِ وَ اسۡجُدِىۡ وَ ارۡكَعِىۡ مَعَ الرّٰكِعِيۡنَ ﴿٤٣﴾

خپل رب ته او سجده كوه او ركوع كوه سره د ركوع كونكو *

ذٰلِكَ مِنۡ اَنۡۢبَآءِ الۡغَيۡبِ نُوۡحِيۡهِ اِلَيۡكَ ؕ

دا د خبرونو د غيبو نه دي وحي كوو مونږه د دي تا ته ،

وَ مَا كُنۡتَ لَدَيۡهِمۡ اِذۡ يُلۡقُوۡنَ اَقۡلَامَهُمۡ

او نه وي ته دوی سره كله چې غورځول دوی خپل قلمونه

اَيُّهُمۡ يَكۡفُلُ مَرۡيَمَ ۠ وَ مَا كُنۡتَ لَدَيۡهِمۡ

چې كوم يو د دوی نه ذمه دار به شي د مريم ، او نه وي ته دوی سره موجود

اِذۡ يَخۡتَصِمُوۡنَ ﴿٤٤﴾ اِذۡ قَالَتِ الۡمَلٰٓئِكَةُ

كله چې دوی بحث كولو * كله چې اوئيل فرشتو

يٰمَرۡيَمُ اِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنۡهُ ۖۗ

اے مريم يقينًا الله زيرے دركوي تا ته په يو حكم سره د خپل طرف نه ،

اسۡمُهُ الۡمَسِيۡحُ عِيۡسَى ابۡنُ مَرۡيَمَ وَجِيۡهًا

چې نوم د هغه به وي مسيح عيسى (عليه السلام) زوے د مريم مخ آوريز به وي

فِى الدُّنۡيَا وَ الۡاٰخِرَةِ وَ مِنَ الۡمُقَرَّبِيۡنَ ۙ﴿٤٥﴾

په دنيا او آخرت كښې او وي به دے د نزديكانو نه (الله ته) *

وَ يُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَ كَهْلًا وَّ مِنَ

او خبري به كيږي خلقو سره په ځانګو او بوډا والي كښې او وي به د

الصّٰلِحِيْنَ ﴿۴۶﴾ قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ

كاميابو نه * اوئيل (بي بي مريم) اے زما ربه څه رنګه به شي ما لره

وَلَدٌ وَّ لَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكِ

بچے او نه دے رسيدلے ما ته هيڅ يو بنده ، اوئيل (فرشتے) دارنګې به ئي ته

اللّٰهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا

الله پيدا كيږي هغه چې خوښه ئي شي ، كله چې فيصله اوكي د يوكار

فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۴۷﴾ وَ يُعَلِّمُهُ

نو يقينًا وائي هغې كار ته موجود شه نو موجود شي * او اوبه ښآئي هغه ته

الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَ وَ التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِيْلَ ﴿۴۸﴾

قرآن او سنت (پس د راكوزيدو نه) او تورات او انجيل (مخكښې د ختو نه) *

وَ رَسُوْلًا اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ اَنِّيْ قَدْ

او پيغمبر به ئي بني اسرائيلو ته ، (وائي به) يقينا زه تحقيق سره

جِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۙ اَنِّيْٓ اَخْلُقُ

راغلے يم تاسو ته په دليل د طرفه د رب ستاسو نه ، يقينًا زه جوړوم

لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ

د پاره ستاسو د خټې نه په شان د شكل د مارغه نو پوك به اووم

فِيْهِ فَيَكُوْنُ طَيْرًۢا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَ اُبْرِئُ

په دې كښې نو شي به دا مارغه په حكم د الله ، او زه به جوړوم

الْاَكْمَهَ وَ الْاَبْرَصَ وَ اُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ

مور زادي ړوند (پيدائشي) اوبرګي مرض والا او زه به ژوندي كوم مري په حكم د

اللّٰهِ ؕ وَ اُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَ مَا

الله ، او زه به خبر درکوم تاسو ته په هغه څه باندي چي خورئ ئي تاسو او هغه چي

تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِیْ بُیُوْتِكُمْ ؕ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ

ذخیره کوئ ئي تاسو، په کورونو خپلو کښي ، یقینًا په دي کښي

لَاٰیَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ﴿۴۹﴾ وَ

خامخا نښه ده د پاره ستاسو که یئ تاسو مومنان * او

مُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ

تصدیق کونکے یم د هغه کتاب چي مخکښي زما نه دے یعني تورات نه

وَ لِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِیْ حُرِّمَ عَلَیْكُمْ

او دي د پاره چي اعلان د روا والي اوکم تاسو ته بعضي هغه چي حرام کړے شوي دي په تاسو باندي (قهرًا)

وَ جِئْتُكُمْ بِاٰیَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۫ فَاتَّقُوا

او ما راتلل کړي دي تاسو ته په دلیل د طرفه د رب ستاسو نه ، نو اویریږئ

اللّٰهَ وَ اَطِیْعُوْنِ ﴿۵۰﴾ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَ رَبُّكُمْ

د الله نه او تابعداري اوکئ زما * یقینًا الله رب زما او رب ستاسو دے

فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿۵۱﴾ فَلَمَّاۤ

نو عبادت اوکئ د الله ، دا ده لاره نیغه * پس هر کله چي

اَحَسَّ عِیْسٰی مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ

اولیده عیسی (علیه السلام) د دوی نه کارونه د کفر نو اوئیل ده څوک دي

اَنْصَارِیْۤ اِلَی اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ

امدادیان زما په دین د الله کښي ؟ اوئیل حوارینو

نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَ اشْهَدْ

مونږه امدادیان یو د دین د الله ، مونږه ایمان راوړے دے په الله باندي ، او گواه اوسه ته

بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿٥٢﴾ رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ

چي يقيناً مونږه غاړه کيخودونکي يو (الله ته)* اے ربه زمونږه مونږه ايمان راوړے دے په هغه چي رالیږلے دے تا

وَ اتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٥٣﴾

او تابعداري کوو مونږه د پيغمبر نو اوليکي مونږه لره سره د گواهي کونکو (موحدينو)*

وَ مَكَرُوْا وَ مَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَ اللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿٥٤﴾

او دوی تدبير اوکه (دقتل دعيسی عليه السلام) او تدبير اوکه الله (د خلاصي دعيسي عليه السلام)، او الله غوره تدبير کونکے دے*

اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰۤى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَ

کله چي اوئيل الله اے عيسي (عليه السلام) يقيناً زه پوره اغستونکے يم تا لره او

رَافِعُكَ اِلَيَّ وَ مُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اوچتونکے يم تا لره ځان سره او پاکونکے يم تا لره د هغه کسانو نه چي کفر ئي کړے دے

وَ جَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ

او گرځونکے يم هغه کسانو لره چي تابعداري ئي کړي ده ستا د پاسه د هغه کسانو چي

كَفَرُوْۤا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ

کفر ئي کړے دے تر ورځ تر قيامته ، بيا ما ته واپسي ستاسو ده

فَاَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٥٥﴾

نو زه به فيصله اوکم په مينځ ستاسو کښي په هغه څه کښي چي تاسو به هغي کښي اختلاف کوو*

فَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَاُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا

پس هر چي هغه کسان دي چي کفر ئي کړے دے نو عذاب به ورکم دوی ته عذاب

شَدِيْدًا فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ ۫ وَ مَا لَهُمْ

سخت په دنيا او آخرت کښي ، او نه به ئي دوی لره

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٥٦﴾ وَ اَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا

څوک امداديان * او هر چي هغه کسان دي چي ايمان ئي راوړه او عمل ئي اوکه

الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيهِمْ اُجُوْرَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ
نیک نو پوره به ورکي دوی ته بدلې د دوی * او الله مینه نه کوي

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۷﴾ ذٰلِكَ نَتْلُوْهُ عَلَيْكَ مِنَ الْاٰيٰتِ
د ظالمانو سره * دا (بیان د عیسی علیه السلام) چې لولو مونږه دې لره په تا باندې دلائل

وَ الذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ﴿۵۸﴾ اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ
او پند مضبوط * یقیناً مثال د عیسی (علیه السلام) په نزد د

اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ؕ خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ
الله په شان د آدم (علیه السلام) دے ، پیدا کړے ئې وو هغه لره د خاورې نه بیا ئې

قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ﴿۵۹﴾ اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ
اوئیل ده ته موجود شه نو موجود شو * حق (ثابت) دے د طرفه د رب ستا نه

فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۶۰﴾ فَمَنْ حَآجَّكَ
نو مه کیږه ته د شک کونکو نه * نو څوک چې جګړه کوي تا سره

فِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ
په دې کښې (۱) پس د هغه نه چې راغے تا ته د علم نه

فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَآءَنَا وَ اَبْنَآءَكُمْ وَ
نو اووایه راشئ راو به غواړو زامن زمونږه او زامن ستاسو او

نِسَآءَنَا وَ نِسَآءَكُمْ وَ اَنْفُسَنَا وَ اَنْفُسَكُمْ ۟ قف
ښځې زمونږه او ښځې ستاسو او مونږه خپله او تاسو خپله ،

ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى
بیا به عاجزي اوکو (الله ته) نو اوبه کرځوو لعنت د الله په

الْكٰذِبِيْنَ ﴿۶۱﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ
دروغژنو باندې * یقیناً دا بیان (د عیسی علیه السلام) خامخا بیان

(۱) عبدیت د عیسی علیه السلام

الْحَقُّ ۚ وَ مَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّا اللّٰهُ ۭ وَ اِنَّ اللّٰهَ
رشتیا دے ، او نشتے بل حاجت روا بغیر د الله نه ، او یقینًا الله
لَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ﴿۶۲﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ
خامخا غالب حکمت والا دے * نو که واوړیدل دوی، پس یقینًا
اللّٰهَ عَلِیْمٌۢ بِالْمُفْسِدِیْنَ ﴿۶۳﴾ قُلْ یٰۤاَهْلَ
الله پوهه دے فساد کونکو باندې * اووایه اے اهل
الْکِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰی کَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَیْنَنَا وَ
کتابو راشئ داسې خبرې ته چې برابره ده په مینځ زمونږ او
بَیْنَکُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَ لَا نُشْرِكَ بِهٖ
په مینځ ستاسو کښې دا چې عبادت به نه کوو بغیر د الله نه د بل چا او نه به حصه دارۈ دې الله سره
شَیْئًا وَّ لَا یَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا
څه شے او نه به نیسي بعضې زمونږه بعضو لره خدایان
مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُوْلُوا
بغیر د الله نه پس که دوی واوړیدل نو اووایئ
اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴿۶۴﴾ یٰۤاَهْلَ الْکِتٰبِ
ګواه شئ په دې خبره چې یو مونږ غاړه کیخودونکي (الله ته)* اے اهل کتابو
لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِیْۤ اِبْرٰهِیْمَ وَ مَاۤ اُنْزِلَتِ
ولے جګړې کوئ تاسو په باره د ابراهیم (علیه السلام) کښې او نه وو نازل شوے
التَّوْرٰىةُ وَ الْاِنْجِیْلُ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ اَفَلَا
تورات او انجیل مګر پس د هغه (د وفات) نه ، آیا ولے
تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۵﴾ هٰۤاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِیْمَا
تاسو د عقل نه کار نه اخلئ؟* خبردار یا تاسو دغه کسان یئ جګړې کوئ تاسو په هغه څه کښې

ع ۶ / ۱۴

لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْمَا لَيْسَ لَكُمْ
چې وي ستاسو د پاره په هغې باندې پوهه نو ولې جګړې کوئ تاسو په هغه څه کښې چې نشته تاسو لره
بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَ اللّٰهُ يَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٦﴾
په هغه باندې پوهه ، او الله پوهيږي او تاسو نه پوهيږئ *
مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّ لَا نَصْرَانِيًّا وَّ
نه وو ابراهيم (عليه السلام) يهودي او نه نصراني
لٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ وَ مَا كَانَ مِنَ
ليکن وو هغه کلک ولاړ په توحيد تابعدار (د الله) ، او نه وو د
الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٦٧﴾ اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ
مشرکانو نه * يقينًا ډير نزدې د خلقو نه ابراهيم (عليه السلام) ته
لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَ هٰذَا النَّبِيُّ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ
خامخا هغه کسان وو چې تابعداري ئې کړې وه د هغه او دا پيغمبر او هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے
وَ اللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٨﴾ وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ
او الله دوست د مومنانو دے * خوښئ يوه ډله
مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ وَ مَا يُضِلُّوْنَ
د اهل کتابو نه کاش چې ګمراه کې تاسو لره ، او نه ګمراه کوئ
اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَ مَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٦٩﴾ يٰٓاَهْلَ
مګر خپل خانونه او دوی نه پوهيږي * اے اهل
الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ اَنْتُمْ
کتابو ولے کفر کوئ تاسو په آيتونو د الله باندې ؟ او تاسو
تَشْهَدُوْنَ ﴿٧٠﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ
پوهه يئ * اے اهل کتابو ولے ګډوډوئ تاسو

اَلۡحَقَّ بِالۡبَاطِلِ وَ تَكۡتُمُوۡنَ الۡحَقَّ وَ اَنۡتُمۡ

حق د باطل سره ؟ او (ولې) پټوئ تاسو حق ؟ او تاسو

تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۱﴾ وَ قَالَتۡ طَّآئِفَةٌ مِّنۡ اَهۡلِ

پوهيږئ * او وائي يوه ډله د اهل

الۡكِتٰبِ اٰمِنُوۡا بِالَّذِیۡۤ اُنۡزِلَ عَلَی الَّذِیۡنَ

كتابو نه ايمان راوړئ په هغه كتاب چې نازل شوے دے په هغه كسانو باندې

اٰمَنُوۡا وَجۡهَ النَّهَارِ وَ اكۡفُرُوۡۤا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمۡ

چې ايمان ئې راوړے دے په اوله حصه د ورځ كښې او كفر اوكړئ په اخره حصه د ورځې كښې خامخا چې دوی

يَرۡجِعُوۡنَ ﴿۷۲﴾ وَ لَا تُؤۡمِنُوۡۤا اِلَّا لِمَنۡ تَبِعَ

واپس شي (ايمان نه) * او تصديق مه كوئ مګر د هغه چا چې تابعداري كړې

دِيۡنَكُمۡ ؕ قُلۡ اِنَّ الۡهُدٰی هُدَی اللّٰهِ ۙ

د دين ستاسو ، او وايه يقيناً هدايت هدايت د الله دے (كوم چې قرآن كښې بيان شوے دے)

اَنۡ يُّؤۡتٰۤی اَحَدٌ مِّثۡلَ مَاۤ اُوۡتِيۡتُمۡ اَوۡ

دې وجې نه (۱) چې وربه كړے شي يو تن ته (درجه) په شان د هغه چې دركړے شوې ده تاسو ته يا به

يُحَآجُّوۡكُمۡ عِنۡدَ رَبِّكُمۡ ؕ قُلۡ اِنَّ الۡفَضۡلَ

جګړې اوكړي تاسو سره په نزد د رب ستاسو ، او وايه يقيناً غوره والے

بِيَدِ اللّٰهِ ۚ يُؤۡتِيۡهِ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ

په لاس د الله كښې دے ، وركوي دې لره چا ته ئې چې خوښه شي ، او الله پراختيا راوستونكے

عَلِيۡمٌ ﴿۷۳﴾ يَّخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ وَ

پوهه دے * خاص كړي خپلې مهرباني سره چا لره چې ئې خوښه شي ، او

اللّٰهُ ذُو الۡفَضۡلِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۷۴﴾ وَ مِنۡ اَهۡلِ

الله خاوند د فضل لوئې دے * او بعضې د اهل

(۱) تصديق د دې لپاره مه كوئ چې

الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖۤ
كتابو نه هغه څوک دي كه ته امانتدار اوګرځې ده لره په يو لويه خزانه نو اداء كړ هغې لره

اِلَيْكَ ۚ وَ مِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ
تا ته ، او بعضي د دوی نه هغه څوک دي كه ته امانتدار اوګرځې هغه لره په يو روپۍ باندي

لَّا يُؤَدِّهٖۤ اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآىِٕمًا ؕ
نه اداء كړ هغې لره تا ته مګر دا چې هميشه ئې ته په هغه باندي ولاړ ،

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ
دا د دي وجې نه چې وائي دوی : نشته په مونږ باندي په (خوراک د) مال د اميانو كښي

سَبِيْلٌ ۚ وَ يَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَ
څه لار د ملامتيا ، او وائي دوی په الله باندي دروغ او

هُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۵﴾ بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ
دوی پوهيږي * بے شكه چا چې پوره والے اوكه په وعدو د الله

وَ اتَّقٰى فَاِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۷۶﴾ اِنَّ
اوځان ئې اوساته (خلاف د الله نه) پس يقينًا الله مينه كړ د پرهيزګارانو سره * يقينًا

الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ اَيْمَانِهِمْ
هغه كسان چې اخلي په لوظونو د الله او په قسمونو خپلو باندي

ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓىِٕكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي
دا دنيا لږه دغه كسان نشته حصه (ثواب) دوی لره په

الْاٰخِرَةِ وَ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَ لَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ
آخرت كښي او نه به خبري اوكي دوی سره الله (د نرمي) او نه به اوګوري دوی ته (په نظر د رحمت)

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَ لَا يُزَكِّيْهِمْ ۪ وَ لَهُمْ عَذَابٌ
په ورځ د قيامت او نه به پاک كي دوی لره ، او دوی لره عذاب دے

اَلِيۡمٌ ﴿۷۷﴾ وَاِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيۡقًا يَّلۡوٗنَ اَلۡسِنَتَهُمۡ

دردناک * او یقینًا بعضي د دوی نه خامخا یوه ډله ده چي چلئ ژبې خپلې

بِالۡكِتٰبِ لِتَحۡسَبُوۡهُ مِنَ الۡكِتٰبِ وَ مَا هُوَ

په کتاب باندي دي د پاره چي گمان اوکړئ تاسو په دي باندي د کتاب حالانکه دا نه وي

مِنَ الۡكِتٰبِ ۚ وَ يَقُوۡلُوۡنَ هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ

د کتاب نه ، او وائي دوی دا د طرفه د الله دي

وَ مَا هُوَ مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ۚ وَ يَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ

او نه ئي دا د طرفه د الله نه ، او وائي دوی په الله باندي

الۡكَذِبَ وَ هُمۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۸﴾ مَا كَانَ لِبَشَرٍ

دروغ او دوی پوهیږي * نه دي مناسب د پاره د یو بنده

اَنۡ يُّؤۡتِيَهُ اللّٰهُ الۡكِتٰبَ وَ الۡحُكۡمَ وَ النُّبُوَّةَ

چي ورکي ده ته الله کتاب او پوهه د دین او پیغمبري

ثُمَّ يَقُوۡلَ لِلنَّاسِ كُوۡنُوۡا عِبَادًا لِّيۡ مِنۡ

بیا وائي دے خلقو ته شئ بندگان زما

دُوۡنِ اللّٰهِ وَ لٰكِنۡ كُوۡنُوۡا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنۡتُمۡ

سیوا د الله نه لیکن (وائي چي) شئ د رب بندگان په سبب د هغه چي وئ تاسو

تُعَلِّمُوۡنَ الۡكِتٰبَ وَ بِمَا كُنۡتُمۡ تَدۡرُسُوۡنَ ﴿۷۹﴾ لا

ښوده (تاسو خلقو ته) کتاب او په سبب د هغه چي تاسو لوسته (کتاب لره) *

وَ لَا يَاۡمُرَكُمۡ اَنۡ تَتَّخِذُوا الۡمَلٰٓئِكَةَ

او حکم نه کړئ تاسو ته چي اونیسئ تاسو فرشتې

وَ النَّبِيّٖنَ اَرۡبَابًا ؕ اَيَاۡمُرُكُمۡ بِالۡكُفۡرِ بَعۡدَ

او پیغمبران خدایان ، آیا حکم کړئ تاسو ته د کفر پس د

ع ٥ ١٦

اِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَ اِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ

د هغه نه چې تاسو مسلمانان يئ * او کله چې واغسته الله پخه وعده د

النَّبِيّٖنَ لَمَاۤ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّ حِكْمَةٍ

پيغمبرانو نه خامخا درکوم به زه تاسو ته کتاب او نبوت

ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ

بيا راشي تاسو ته پيغمبر تصديق کونکے د هغه چې تاسو سره دي

لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَ لَتَنْصُرُنَّهٗ ط قَالَ ءَاَقْرَرْتُمْ

خامخا ايمان به راوړئ تاسو په هغه باندي او خامخا امداد به کوئ تاسو د هغه، اوئيل (الله) آيا اقرار کوئ تاسو

وَ اَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ ط قَالُوْۤا

او واغسته تاسو په دغه خبرو وعده زما ، اوئيل دوی

اَقْرَرْنَا ط قَالَ فَاشْهَدُوْا وَ اَنَا مَعَكُمْ مِّنَ

اقرار کوو مونږه ، اوئيل (الله) گواه شئ (په خپلو امتونو باندي) او زه تاسو سره

الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۱﴾ فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ

گواهي کونکے يم * پس څوک چې واوړيده پس د دي نه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۸۲﴾ اَفَغَيْرَ دِيْنِ

نو دغه کسان هم دوی دي فاسقان * آيا بغير د دين د

اللّٰهِ يَبْغُوْنَ وَ لَهٗۤ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ

الله نه دوی لټئ (بل دين) او خاص دي الله لره تابعدار دي هغه څوک چې آسمانونو

وَ الْاَرْضِ طَوْعًا وَّ كَرْهًا وَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾

او زمکو کښې دي که خوښه ئي وي يا په زور باندي او دي الله ته به دوی واپس کړے شي *

قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ مَاۤ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَ مَاۤ

اووايه ايمان راوړے دے مونږه په الله او په هغه چې نازل کړے شوي دي مونږ ته او په هغه چې

أُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ

نازل کړے شوے وو په ابراهيم (عليه السلام) او اسماعيل (عليه السلام) او اسحاق (عليه السلام)

وَ يَعْقُوْبَ وَ الْاَسْبَاطِ وَ مَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى

او يعقوب (عليه السلام) او اولاد د دوى باندي او په هغه چي ورکړے شوي وو موسى (عليه السلام)

وَ عِيْسٰى وَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۪ لَا نُفَرِّقُ

او عيسى (عليه السلام) او نورور پيغمبرانو ته د طرفه د رب د دوى نه، جدائي نه راولو مونږه

بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۫ وَ نَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿۸۴﴾

په مينځ د يو تن کښي د دوى نه (ايمان راوړلو کښي)، او مونږه خاص دي الله ته تابعدار يو *

وَ مَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ

او چا چي اولټو بغير د اسلام نه بل دين نو چرې به

يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَ هُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ

قبول نه کړے شي د ده نه، او وي به دے په آخرت کښي د

الْخٰسِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا

تاوانيانو نه * څه رنګه توفيق به ورکي الله هغه قوم ته

كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَ شَهِدُوْٓا اَنَّ

چي کفر ئي اوکه پس د ايمان د دوى نه حالانکه ګواهي ئي کړي ده چي يقيناً

الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّ جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ وَ اللّٰهُ

پيغمبر حق دے او راغلي دي دوى ته واضحه دلائل، او الله

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۶﴾ اُولٰٓئِكَ

توفيق نه ورکئ قوم ظالمانو ته * دغه کسان

جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَ

سزا د دوى دا ده يقيناً دوى باندي لعنت د الله او

الْمَلٰٓئِكَةِ وَ النَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۷﴾ خٰلِدِيْنَ

د فرشتو او د خلقو تولو دے * همیشه به ئي دوي

فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَ لَا

په دي كښي ، سپک به نه کړے شي د دوي نه عذاب او نه به

هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۸﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ

دوي ته مهلت ورکړے شي * مګر هغه کسان چي توبه ئي اوباسله

بَعْدِ ذٰلِكَ وَ اَصْلَحُوْا ۟ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

پس د دي نه او درست ئي كه عمل خپل ، پس يقينًا الله ښښونكے

رَّحِيْمٌ ﴿۸۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ

مهربان دے * يقينًا هغه کسان چي كفر ئي اوكه پس

اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ

د ايمان خپل بيا ئي زيات كه كار د كفر چري به قبوله نه شي

تَوْبَتُهُمْ ۚ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ ﴿۹۰﴾

توبه د دوي (په دي حالت كښي) ، او دغه کسان هم دوي دي گمراهان *

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ مَاتُوْا وَ هُمْ كُفَّارٌ

يقينًا هغه كسان چي كفر ئي اوكه او مړه شو په داسي حال كښي چي وو دوي كافران

فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ

پس هيچري قبول به نه كړے شي د يو د دوي نه ډكوالے د زمكے

ذَهَبًا وَّ لَوِ افْتَدٰى بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ

د سرو زرو نه اگر كه فديه كښي وركړي دي لره ، دغه كسان دوي لره

عَذَابٌ اَلِيْمٌ وَّ مَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۹۱﴾

عذاب دردناک دے او نشته دوي لره هيڅوک امداديان *

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۵ ط

چرې نه شئ رسيدے تاسو جنت ته تر دې پورې چې خرج کئ د هغه مال نه چې تاسو ورسره مينه کوئ،

وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَیْءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ

او هغه چې خرج کوئ تاسو څه مال نو يقينًا الله په هغې باندې

عَلِيْمٌ ﴿٩٢﴾ كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيْۤ

پوهه دے * هر قسمه خوراک وو روا د پاره د بنې

اِسْرَآءِيْلَ اِلَّا مَا حَرَّمَ اِسْرَآءِيْلُ عَلٰى

اسرائيلو مګر هغه چې بند کړے وو يعقوب (عليه السلام) په

نَفْسِهٖ مِنْ قَبْلِ اَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرٰىةُ ط

خپل ځان باندې مخکښې د راتلو د تورات نه،

قُلْ فَاْتُوْا بِالتَّوْرٰىةِ فَاتْلُوْهَآ اِنْ

او وايه راوړئ تورات نو اولولئ دې له که

كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٩٣﴾ فَمَنِ افْتَرٰى عَلَى

يئ تاسو رشتيني * نو چا چې جوړ کړل په

اللّٰهِ الْكَذِبَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ

الله باندې دروغ پس د دې (بيان) نه نو دغه کسان

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٩٤﴾ قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ قف

هم دوی دي ظالمان * او وايه رشتيا وئيلي دي الله (او يهود دروغ وائي)،

فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ط وَ مَا كَانَ

پس تابعداري اوکئ د دين د ابراهيم (عليه السلام) چې ولاړ وو په توحيد او ماتونکے وو د شرک، او نه وو دے

مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٩٥﴾ اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ

د مشرکانو نه * يقينًا رومبنے کور چې جوړ شوے دے

لِلنَّاسِ لَلَّذِیۡ بِبَکَّۃَ مُبٰرَکًا وَّ ھُدًی
د پاره د خلقو خامخا هغه کور دے چې په مکه کښې دے د خير او برکت نه ډک دے او هدايت دے

لِّلۡعٰلَمِیۡنَ ﴿٩٦﴾ فِیۡهِ اٰیٰتٌۢ بَیِّنٰتٌ مَّقَامُ
د پاره د مخلوقاتو • په دې کښې نښې دي واضحې ځائے د

اِبۡرٰهِیۡمَ ۚ۬ وَ مَنۡ دَخَلَهٗ کَانَ اٰمِنًا ؕ وَ لِلّٰهِ
ابراهيم (عليه السلام) ، او څوک چې داخل شو دې کورته شه دے په امن باندې ، او خاص الله له

عَلَی النَّاسِ حِجُّ الۡبَیۡتِ مَنِ اسۡتَطَاعَ
په خلقو باندې حج د بيت الله شريف دے څوک چې طاقت لري

اِلَیۡهِ سَبِیۡلًا ؕ وَ مَنۡ کَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ
دې ته د لارې ، او چا چې کفر اوکه پس يقينًا الله بے پرواه دے

عَنِ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿٩٧﴾ قُلۡ یٰۤاَهۡلَ الۡکِتٰبِ لِمَ
د (عبادت د) مخلوقات نه • اووايه اے اهل کتابو ولے

تَکۡفُرُوۡنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ ٭ۖ وَ اللّٰهُ شَهِیۡدٌ
کفر کوئ تاسو په آيتونو د الله باندې ، او الله ګواه دے

عَلٰی مَا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٩٨﴾ قُلۡ یٰۤاَهۡلَ الۡکِتٰبِ
په هغه چې تاسو ئې کوئ • اووايه اے اهل کتابو

لِمَ تَصُدُّوۡنَ عَنۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ مَنۡ اٰمَنَ
ولے بندوئ تاسو د لارې د الله نه هغه څوک چې ايمان ئې راوړے دے

تَبۡغُوۡنَهَا عِوَجًا وَّ اَنۡتُمۡ شُهَدَآءُ ؕ وَ مَا اللّٰهُ
لټوئ تاسو هغې له کوږ والے او يئ تاسو ګواهان ، او نه دے الله

بِغَافِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٩٩﴾ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ
نا خبره د هغه څه نه چې تاسو ئې کوئ • اے

اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ
مومنانو که تاسو تابعداري اوکړه د یوې ډلې د هغه کسانو نه

اُوْتُوا الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ
چي ورکړې شوې دې ورته کتاب (توراة) واپس به کي تاسو لره پس د ایمان ستاسو نه

كٰفِرِيْنَ ﴿١٠٠﴾ وَ كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَ اَنْتُمْ تُتْلٰى
کافران او څه رنګه کفر کوئ تاسو او حال دا دے چي لوستلے شي

عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ وَ فِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ؕ وَ مَنْ
په تاسو باندي آیاتونه د الله او په تاسو کښي (سنت د) پیغمبر د الله دي ، او چا چي

يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ
منګولے اولګولے په (دین د) الله پس تحقیق سره توفیق ورکړے شو ده ته په طرف د لاري

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٠١﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا
نیغي اے ایمان والو اویریږئ

اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَ لَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَ اَنْتُمْ
د الله نه په پوره ویریدو سره او مه مړیږئ تاسو مګر په داسي حال کښي چي تاسو

مُّسْلِمُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا
کارکونکي د دین یئ او منګولے اولګوئ په رسۍ (کتاب) د الله ټول

وَّ لَا تَفَرَّقُوْا ۪ وَ اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ
او مه تس نس کیږئ (د دین د الله نه) او یاد کړئ نعمت د الله (چي کړے ئي دے) په تاسو باندي

اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ
کله چي وئ تاسو دشمنان د یو بل نو مینه ئي واچوله په مینځ د زړونو ستاسو کښي

فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا ۚ وَ كُنْتُمْ عَلٰى
نو اوګرځیدئ تاسو په نعمت د الله (قرآن) باندي رونړه رونړه ، او وئ تاسو

شَفَا حُفۡرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَاَنۡقَذَكُمۡ مِّنۡهَا ؕ
په هغه كناره د دوزخ د اور نو (الله) بچ كړئ تاسو د هغې نه،

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمۡ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمۡ
دارنگې بيانوي الله تاسو ته دلائل خپل (د قدرت) خامخا چې تاسو

تَهۡتَدُوۡنَ ۝١٠٣ وَ لۡتَكُنۡ مِّنۡكُمۡ اُمَّةٌ يَّدۡعُوۡنَ
سمه لار باندې روان شئ * او شي دې ستاسو نه يو ټولگې چې راغواړي (خلق)

اِلَى الۡخَيۡرِ وَ يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ يَنۡهَوۡنَ
خير ته (قرآن او سنت) او حكم كوي د نيكۍ (توحيد او سنت) او منع كوي (خلقو له)

عَنِ الۡمُنۡكَرِ ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ۝١٠٤
د نا روا وو نه (شرك او بدعت نه)، او دغه كسان هم دوى دي كامياب *

وَ لَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ تَفَرَّقُوۡا وَ اخۡتَلَفُوۡا
او مه كيږئ تاسو په شان د هغه كسانو چې تس نس شوي وو او اختلاف ئې اوكړه

مِنۡۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ الۡبَيِّنٰتُ ؕ وَ اُولٰٓئِكَ
پس د هغه نه چې راغلل دوى ته واضحه دلائل ، او دغه كسان

لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ۝١٠٥ يَّوۡمَ تَبۡيَضُّ وُجُوۡهٌ
دوى له عذاب دے لوئې * (ياده كړئ) هغه ورځ چې سپين به شي مخونه (د مومنانو)

وَّ تَسۡوَدُّ وُجُوۡهٌ ۚ فَاَمَّا الَّذِيۡنَ اسۡوَدَّتۡ
او تور به شي مخونه (د كافرانو) ، پس هر چې هغه كسان دي چې تور شي

وُجُوۡهُهُمۡ ۟ اَكَفَرۡتُمۡ بَعۡدَ اِيۡمَانِكُمۡ
مخونه د هغوي ، (وئيلے به شي ورته) آيا كفر كړے وو تاسو پس د ايمان ستاسو نه

فَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ بِمَا كُنۡتُمۡ تَكۡفُرُوۡنَ ۝١٠٦
نو اوڅكئ عذاب (د جهنم) په سبب د هغه چې تاسو كفر كولو *

وَ اَمَّا الَّذِيْنَ ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ
او هر چي هغه کسان دي چي سپين شي مخونه د هغوي نو(وي دوی به) په رحمت د
اللّٰهِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ
الله (جنت) كښي ، دوی به په دي كښي هميشه وي * دا آيتونه د الله دي
نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ وَ مَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا
لولو مونږه دي لره په تا باندي د پاره د ښكاره كولو د حق، او نه دے الله چي اراده كړي د ظلم
لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۸﴾ وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي
په مخلوقات باندي * او خاص الله لره اختيار د هغه مخلوقاتو دے چي آسمانونو او هغه چي
الْاَرْضِ ؕ وَ اِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۱۰۹﴾ كُنْتُمْ
زمكو كښي دي، او الله ته واپس به كړے شي كارونه * يئ تاسو
خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَاْمُرُوْنَ
غوره امت اوباسلے شوي د پاره د خلقو حكم به كوئ تاسو
بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ
(خلقو ته) د نيكي او منع كوئ به خلقو لره د ناروائ نه او
تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ؕ وَ لَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ
ايمان به لرئ تاسو په الله باندي، او كه ايمان راوړے وو اهل كتابو
لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ
نو وه به دا غوره دوي لره ، بعضي د دوي نه مومنان دي او
اَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ اِلَّاۤ
اكثر د دوي نه فاسقان دي * چري ضرر نه شي رسولے دوي تاسو ته مگر
اَذًى ؕ وَ اِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ قف
بدے ردے، او كه جنگ كړي دوي تاسو سره وابه ړئ دوي تاسو ته شاگانے،

ع ۳

ثُمَّ لَا يُنۡصَرُوۡنَ ﴿١١١﴾ ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الذِّلَّةُ

بیا به د دوی امداد او نه کړے شي * وهلے شوے دے په دوی باندې (مهر د) ذلت

اَيۡنَ مَا ثُقِفُوۡۤا اِلَّا بِحَبۡلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ

چرته چې اوموندلے شي دوی، مګر(بچ به وي ذلت نه چې منګولے اولګئ) په رسئ (کتاب) د الله او

حَبۡلٍ مِّنَ النَّاسِ وَ بَآءُوۡ بِغَضَبٍ مِّنَ

په رسئ (جماعت) د خلقو سره (صحابو) او راګير شو دوی په غصے کښې د طرفه د

اللّٰهِ وَ ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ الۡمَسۡكَنَةُ ؕ ذٰلِكَ

الله نه او اووهلے شو په دوی باندې مهر د خوارۍ ، دا (ذلت او مسكنة)

بِاَنَّهُمۡ كَانُوۡا يَكۡفُرُوۡنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ

په دې وجه دے چې دوی كفر كو په آيتونو د الله باندې او

يَقۡتُلُوۡنَ الۡاَنۡۢبِيَآءَ بِغَيۡرِ حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ

وژل به ئې پيغمبران بغير د څه جرم نه ، دا (قتل د انبيآء)

بِمَا عَصَوۡا وَّ كَانُوۡا يَعۡتَدُوۡنَ ﴿١١٢﴾ لَيۡسُوۡا

په سبب د هغه چې دوی نافرماني كړے وه او دوی د حد نه تيرے كو * نه دي دوی ټول

سَوَآءً ؕ مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ

برابر، بعضي د اهل كتابو نه يو ټولګے دے ولاړ (په دين)

يَّتۡلُوۡنَ اٰيٰتِ اللّٰهِ اٰنَآءَ الَّيۡلِ وَ هُمۡ

چې لولي آياتونه د الله په اطرافو د شپے كښې او دوی

يَسۡجُدُوۡنَ ﴿١١٣﴾ يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَ الۡيَوۡمِ

تابعداري كئ (د الله) * ايمان لري په الله باندې او په ورځ

الۡاٰخِرِ وَ يَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ يَنۡهَوۡنَ

د آخرت او حكم كئ (خلقو ته) د ښو كارونو او منع كئ (خلق)

عَنِ الْمُنْكَرِ وَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ ؕ
د ناروا وو نه او تلوار کئ په نيکو کارونو کښې ،
وَ اُولٰٓئِكَ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَ مَا يَفْعَلُوْا
او دغه کسان د نيکانو نه دي ٭ او هغه چې کئ دوی
مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ؕ وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ ۢ
څه نيکي (خرچ) نو محروم به نه کړے شي (د اجر) د هغې نه ، او الله پوهه دے
بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَنْ
په پرهيزګارانو باندې ٭ يقيناً هغه کسان چې کفر ئې کړے دے چرې به
تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَ لَآ اَوْلَادُهُمْ
فائده ورنه کړي دوی ته مالونه د دوی او نه اولاد د دوی
مِّنَ اللّٰهِ شَيْئًا ؕ وَ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ
د (عذاب د) الله نه څه شے ، او دغه کسان دوزخيان دي ،
هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱۶﴾ مَثَلُ مَا يُنْفِقُوْنَ
دوی به وي په دې کښې هميشه ٭ مثال د هغه چې خرچ کئ ئې دوی
فِيْ هٰذِهِ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا كَمَثَلِ رِيْحٍ
په دې ژوند د دنيا کښې په شان د هغه باد دے
فِيْهَا صِرٌّ اَصَابَتْ حَرْثَ قَوْمٍ ظَلَمُوْٓا
چې په هغې کښې تيز والے وي اورسيرې فصل د يو قوم ته چې ظلم ئې کړے ئې
اَنْفُسَهُمْ فَاَهْلَكَتْهُ ؕ وَ مَا ظَلَمَهُمُ اللّٰهُ
په خپلو ځانونو باندې نو هلاک کې هغې لره ، او ظلم نه دے کړے په دوی باندې الله
وَ لٰكِنْ اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ يٰٓاَيُّهَا
ليکن دوی په خپلو ځانونو باندې ظلم کئ ٭ اے

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَتَّخِذُوۡا بِطَانَةً مِّنۡ

ایمان والو مه نیسئ راز دار (دوست)

دُوۡنِكُمۡ لَا يَاۡلُوۡنَكُمۡ خَبَالًا ؕ وَدُّوۡا مَا عَنِتُّمۡ

بغیر ستاسو نه هیله نه کئ دوی په تاسو باندي د فساد، خوښئ دوی هغه چي تاسو پي تنګیږئ

قَدۡ بَدَتِ الۡبَغۡضَآءُ مِنۡ اَفۡوَاهِهِمۡ ۖۚ وَ مَا

تحقیق سره ښکاره شوي دي د غصي خبري د خلو د دوی نه، او هغه (غصے) چي

تُخۡفِيۡ صُدُوۡرُهُمۡ اَكۡبَرُ ؕ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ

پټئ ئي سیني د دوی ډیر لوئي دي، تحقیق سره بیان کړي دي مونږ تاسو ته

الۡاٰيٰتِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۱۱۸﴾ هٰۤاَنۡتُمۡ

نښي (د دشمنی د دوی) که تاسو د عقل نه کار اخلئ * یئ تاسو

اُولَآءِ تُحِبُّوۡنَهُمۡ وَلَا يُحِبُّوۡنَكُمۡ وَ تُؤۡمِنُوۡنَ

دغه کسان مینه کوئ تاسو د دوی سره او دوی مینه نه کئ تاسو سره او (حال دا دے چي) ایمان راوړئ تاسو

بِالۡكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ وَ اِذَا لَقُوۡكُمۡ قَالُوۡۤا اٰمَنَّا ۖۚ

په کتاب تول باندي، او کله چي مخامخ شي دوی تاسو سره وائي دوی مونږ ایمان راوړے دے،

وَ اِذَا خَلَوۡا عَضُّوۡا عَلَيۡكُمُ الۡاَنَامِلَ مِنَ

او کله چي لاړ شي دوی چکونه لګئ د وجي ستاسو نه په بندونو د ګوتو خپلو باندي د

الۡغَيۡظِ ؕ قُلۡ مُوۡتُوۡا بِغَيۡظِكُمۡ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

غصے نه، او وایه مړه شئ سره د غصو ستاسو، یقینًا الله

عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ﴿۱۱۹﴾ اِنۡ تَمۡسَسۡكُمۡ

پوهه دے په رازونو د سینو باندي * که اورسیږي تاسو ته

حَسَنَةٌ تَسُؤۡهُمۡ ۖ وَاِنۡ تُصِبۡكُمۡ سَيِّئَةٌ

خوشحالي خفه کئ دوی لره، او که اورسیږي تاسو ته تکلیف

يَّفْرَحُوْا بِهَا ؕ وَ اِنْ تَصْبِرُوْا وَ تَتَّقُوْا لَا

دوی خوشحالیږي په هغې باندې، او که تاسو صبر اوکه او ځان موبچ که (دوستۍ د دوی نه)

يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْــًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا

ضرر نه شي رسولے تاسو ته چل د دوی هيڅ شے ، يقينًا الله په هغه چې

يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ﴿١٢٠﴾ؑ وَ اِذْ غَدَوْتَ مِنْ

دوی ئې کئ احاطه کونکے دے* او کله چې سحر وختي لاړے ته د

اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ ؕ

کور خپل نه جوړولے تا مومنانو لره مورچے (ځايونه د ناستے) د پاره د جنګ،

وَ اللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿١٢١﴾ۙ اِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتٰنِ

او الله اوريدونکے پوهه دے* کله چې قصد اوکه دوو ډلو

مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا ۙ وَ اللّٰهُ وَلِيُّهُمَا ؕ وَ

ستاسو نه دا چې سستي اوکي ، او الله معاون د دې دواړو دے، او

عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢٢﴾ وَ لَقَدْ

خاص په الله باندې ځان دِ اوسپاري مومنان * او تحقيق سره

نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّ اَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ

امداد کړے وو الله پاک ستاسو په (جنګ) بدر کښې وئ تاسو کمزوري (په اعتبار د ساز و سامان)،

فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿١٢٣﴾ اِذْ تَقُوْلُ

پس اوويريږئ د الله نه خامخا چې تاسو شکر اوباسئ* کله چې اوئيل تا

لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ

مومنانو ته آيا کافي نه دے تاسو لره دا چې امداد اوکي ستاسو رب ستاسو

بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿١٢٤﴾ؕ

په دريو زرو فرشتو راليږلے شوو*

١٣ ٤ ع ٢

بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَ تَتَّقُوْا وَ يَاْتُوْكُمْ مِّنْ

بے شکه که صبر اوکه تاسو او ځان هم بچ که (د سستئ نه) او رابه شي تاسو (دا کافر) ته د

فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ

جوش و خروش د دوی نه چې دا دے امداد به اوکي ستاسو رب ستاسو په پنځو

اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿١٢٥﴾ وَ مَا جَعَلَهُ

زرو د فرشتو نه نشانه کونکي * او ندے ګرځولے دي (کثرت د فرشتو لره)

اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَ لِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ

الله مګر زيرے د پاره ستاسو او دي د پاره چې مطمئن شي زړونه ستاسو

بِهٖ ؕ وَ مَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ

په دي سره ، او نه ده فتح مګر د طرفه د الله نه چې غالب

الْحَكِيْمِ ﴿١٢٦﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ

حکمت والا دے * دي د پاره چې کټ کي څه حصه د هغه کسانو

كَفَرُوْٓا اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَآئِبِيْنَ ﴿١٢٧﴾

چې کفر ئې کړے دے يا ذليل کي دوی لره نو اوبه ګرځي دوی نامراده/ تاوانيان *

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ

نشتے تا لره د فتح نه څه اختيار يا به مهرباني اوکي (الله)

عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿١٢٨﴾

په دوی باندي يا به سزا ورکي دوی ته پس يقيناً دوی دي ظالمان *

وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ

او خاص د الله (اختيار کښي دي) هغه چې اسمانونو او هغه چې زمکو کښي دي ،

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

ببښنه کئ چا ته ئې چې خوښه شي او عذاب ورکئ چا له ئې چې خوښه شي ،

وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲۹﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او الله بښونکے مهربان دے * اے ایمان والو

لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰٓوا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ۠ وَّ

مه خورئ مال د سود (خصوصًا) دوچند په دوچندئي سره ، او

اتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۱۳۰﴾ وَ اتَّقُوا

اویریږئ د الله نه خامخا تاسو به کامیاب شئ * او اویریږئ

النَّارَ الَّتِيْٓ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ وَ اَطِيْعُوا

د اوور هغه نه چې تیار کړے شوے دے د پاره د کافرانو * او تابعداري اوکړئ

اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾ وَ

د الله او پیغمبر د الله خامخا چې تاسو باندي رحم اوکړے شي * او

سَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَ جَنَّةٍ

تلوار اوکړئ (اسبابو د) ښښنے ته د طرفه د رب ستاسو نه او هغه جنت ته

عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَ الْاَرْضُ ۙ اُعِدَّتْ

چې پلنوالے د هغې (په شان د پلنوالي د) آسمانونو او زمکو دے تیار کړے شوے دے

لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ ۙ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ

د پاره د پرهیزګارانو * هغه کسان چې خرچ کړئ (مالونه) په خوشحالو

وَ الضَّرَّآءِ وَ الْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَ الْعَافِيْنَ

او تکلیفونو کښې او دفع کونکي دي غصي لره او معافي کونکي دي

عَنِ النَّاسِ ؕ وَ اللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾

خلقو ته ، او الله مینه کړئ د نیکانو سره *

وَ الَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْٓا

او هغه کسان کله چې اوکړي دوی یو کار خلاف د شریعت یا زیاتے اوکړي

اَنۡفُسَهُمۡ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسۡتَغۡفَرُوۡا لِذُنُوۡبِهِمۡ ۟

په خپلو ځانونو يادئ الله لره نو (فورًا) ښښنه غواړي (الله نه) د خپلو ګناهونو،

وَ مَنۡ يَّغۡفِرُ الذُّنُوۡبَ اِلَّا اللّٰهُ ۟ۛ وَ لَمۡ يُصِرُّوۡا

او ښښنه نه کې د ګناهونو مګر الله ، او هميشوالے نه کې دوى

عَلٰى مَا فَعَلُوۡا وَ هُمۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۳۵﴾ اُولٰٓئِكَ

په هغه چې کړي ئي دي او دوى پوهيږي * دغه کسان

جَزَآؤُهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ وَ جَنّٰتٌ

بدله د دوى ښښنه ده د طرفه د رب د دوى نه او داسي جنتونه

تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا ؕ

چې بهيږي به د لاندي د (اونو د) هغي نه ولے هميشه به وي په هغې کښې،

وَ نِعۡمَ اَجۡرُ الۡعٰمِلِيۡنَ ﴿۱۳۶﴾ؕ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ

او ښه بهتر اجر دے د پاره د (نيک) عمل کونکو * تحقيق سره تيري شوي دي

قَبۡلِكُمۡ سُنَنٌ ۙ فَسِيۡرُوۡا فِى الۡاَرۡضِ فَانۡظُرُوۡا

مخکښې ستاسو نه طريقے (د عذابونو) نو اوګرځئ په زمکه کښې نو اوګورئ

كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ﴿۱۳۷﴾ هٰذَا

څه رنګے شو انجام د تکذيب کونکو * دا (قرآن)

بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَ هُدًى وَّ مَوۡعِظَةٌ

بيان(کافي) دے د پاره د خلقو او هدايت او نصيحت دے

لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۳۸﴾ وَ لَا تَهِنُوۡا وَ لَا تَحۡزَنُوۡا وَ اَنۡتُمُ

د پاره د پرهيزګارانو * او سستي مه کوئ او مه غمژنيږئ او يئ تاسو

الۡاَعۡلَوۡنَ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۳۹﴾ اِنۡ

اوچت (د الله په دربار کښې) که يئ تاسو مومنان * که

يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ

اورسیږي تاسو ته زخمونه تحقیق سره رسیدلي وو قوم (کافرو) ته زخمونه

مِّثْلُهٗ ؕ وَ تِلْكَ الْاَیَّامُ نُدَاوِلُهَا بَیْنَ

په شان د دي، او دا حوادث د زمانے دي اړوو را اړوو مونږه دي لره په مینځ د

النَّاسِ ۚ وَ لِیَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

خلقو کښي، او دي د پاره چي ښکاره کړي الله هغه کسان چي ایمان ئې راوړے دے

وَ یَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ ؕ وَ اللّٰهُ لَا یُحِبُّ

او جوړ کړي ستاسو نه شهیدان، او الله مینه نه کوي

الظّٰلِمِیْنَ ﴿۱۴۰﴾ وَ لِیُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ

د ظالمانو سره* او دي د پاره چي پاک کړي الله هغه کسان

اٰمَنُوْا وَ یَمْحَقَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۴۱﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ

چي ایمان ئې راوړے دے او هلاک کړي کافران * آیا گمان کوئ تاسو

اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَ لَمَّا یَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ

دا چي دننه به شئ تاسو جنت ته او لا تر اوسه پوري نه دي ښکاره کړي الله هغه کسان

جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَ یَعْلَمَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۴۲﴾ وَ لَقَدْ

چي جهاد ئې کړے دے ستاسو نه او نه ئې دي ښکاره کړي ثابت قدم * او تحقیق سره

كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ اَنْ

تاسو غوښته مرګ مخکښي د

تَلْقَوْهُ ص فَقَدْ رَاَیْتُمُوْهُ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۱۴۳﴾ ع

مخامخ کیدو ستاسو نه دي سره، پس تحقیق سره اولیده تاسو دي مرګ لره او تاسو ورته کتل*

وَ مَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ

او نه دے محمد (علیه السلام) مګر پیغمبر، تحقیق سره تیر شوي دي

قَبْلِهِ الرُّسُلُ ۭ اَفَاۡئِنْ مَّاتَ اَوْ قُتِلَ

مخکښې د ده نه پیغمبران ، آیا که مړ شي یا ووژلے شي

انْقَلَبْتُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ۭ وَ مَنْ يَّنْقَلِبْ

نو اوړئ به تاسو په پوندو خپلو باندي (د دین نه) ، او هغه څوک چي واوړېده

عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْــًٔـا ۭ

په پوندو خپلو باندي (د دین نه) نو هیچرې ضرر نه شي ورکولے الله ته د څه شي،

وَ سَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٤٤﴾ وَ مَا كَانَ

او زر دے چي بدله به ورکي الله تابعدارو ته (مضبوطو خلقو ته په دین)* او نه شي کیدے

لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا

یو نفس لره دا اختیار چي مړ شي مګر په حکم د الله لیک دے

مُّؤَجَّلًا ۭ وَ مَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ

نیټه دار، او څوک چي اراده لري د اجر د دنیا وربه کو مونږه ده ته

مِنْهَا ۚ وَ مَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ

د دې نه، او څوک چي اراده لري د اجر د آخرت وربه کو مونږه ده لره

مِنْهَا ۭ وَ سَنَجْزِى الشّٰكِرِيْنَ ﴿١٤٥﴾ وَ كَاَيِّنْ

د دې نه، او زر دے چي بدله به ورکو مونږه شکر ګزارو ته (موحدینو ته)* او ډیر

مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ

د پیغمبرانو نه جنګ کړے وو په ملګرتیا د هغوي کښي خدائي خلقو ډیرو ،

فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

پس نه وو سست شوي دوی د وجي د هغه مصیبتونو چي رسیدلي وو دوی ته په لاره د الله کښي

وَمَا ضَعُفُوْا وَ مَا اسْتَكَانُوْا ۭ وَ اللّٰهُ يُحِبُّ

او نه وو کمزوري شوي (په مقابله د دشمن کښي) او نه ئې ځان ذلیله کړے وو (دشمن ته) او الله مینه کړي

الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَ مَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ
صبرناکو سره * او نه وه وینا د دوی مگر دا چې

قَالُوْا رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَ اِسْرَافَنَا
اوئیل دوی اے ربه زمونږه ببښنه اوکړې مونږه ته د گناهونو زمونږ او د زیاتو زمونږه

فِيْٓ اَمْرِنَا وَ ثَبِّتْ اَقْدَامَنَا وَ انْصُرْنَا
په کار زمونږ کښې او مضبوط کړې قدمونه زمونږه او امداد اوکړې زمونږه

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ
په مقابله د قوم کافرانو کښې * نو ورېه کړه دوی ته الله

ثَوَابَ الدُّنْيَا وَ حُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ
بدله د دنیا او ښائسته ده بدله د آخرت،

وَ اللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ
او الله مینه کړئ د نیکانو سره * اے

اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ
مومنانو که تاسو تابعداري کوئ د هغه کسانو چې کفر ئې کړے دے واپس به کړي تاسو لره (د دین نه)

عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ بَلِ
په پوندو ستاسو باندې نو اوبه گرځئ تاسو تاوانیان * بلکه

اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَ هُوَ خَيْرُ النّٰصِرِيْنَ ﴿۱۵۰﴾
الله معاون ستاسو دے ، او دا الله غوره امداد کونکے دے *

سَنُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا
زر دے چې اوبه غورځوو مونږه په زړونو د هغه کسانو کښې چې کفر ئې کړے دے

الرُّعْبَ بِمَآ اَشْرَكُوْا بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ
یره په سبب د هغه چې دوی شرک کړے دے د الله سره هغه چې نه ئې دے رالیږلے په هغې باندې

سُلْطٰنًا ۚ وَ مَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَ بِئْسَ مَثْوَى

دليل ، او ځائے د دوی دے اوور ، او ډیر بد ځائے دے د

الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٥١﴾ وَ لَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗۤ

ظالمانو * او تحقيق سره رشتيا کړے وه الله تاسو سره وعده خپله

اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ۚ حَتّٰۤى اِذَا فَشِلْتُمْ

کله چي وژل تاسو هغوي لره په حکم د الله باندي ، تر دي چي کله سست شوئ تاسو

وَ تَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَ عَصَيْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ

بِالْجِبْتِ وَ الطَّاغُوْتِ وَ يَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ

په کوډو منترو او په قانون د غير الله او وائي دوی په باره د هغه کسانو کښې

كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

چې کفر ئې کړے دے: دغه کسان زيات هدايت والا دي د کسانو نه چې ايمان ئې راوړے دے

سَبِيْلًا ﴿۵۱﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَ

د لارے * دغه هغه کسان دي چې په لعنت کړي دي دوی لره الله ، او

مَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ﴿۵۲﴾ؕ

چا لره چې په لعنت کي الله نو اوبه نه مومي ته هغه لره څوک امدادي *

اَمۡ لَهُمۡ نَصِيۡبٌ مِّنَ الۡمُلۡكِ فَاِذًا لَّا

آيا شته دوی لره برخه د بادشاهۍ نه په دغه وخت کښې

يُؤۡتُوۡنَ النَّاسَ نَقِيۡرًا ۝٥٣ اَمۡ يَحۡسُدُوۡنَ

نه به ئې وو ورکړے خلقو ته په اندازه د داغ د کهجورے د هډوکي * آيا کينه کئ دوی

النَّاسَ عَلٰى مَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ ۚ

خلقو سره په هغه چې ورکړې دي دوی ته الله د خپل فضل نه،

فَقَدۡ اٰتَيۡنَاۤ اٰلَ اِبۡرٰهِيۡمَ الۡكِتٰبَ وَ الۡحِكۡمَةَ

نو تحقيق سره ورکړے وو مونږه آل د ابراهيم (عليه السلام) ته کتاب او پوهــه

وَ اٰتَيۡنٰهُمۡ مُّلۡكًا عَظِيۡمًا ۝٥٤ فَمِنۡهُمۡ مَّنۡ اٰمَنَ

او ورکړې وه مونږ هغوي ته بادشاهي * نو بعضې د دوی نه هغه څوک وو چې ايمان ئې راوړه

بِهٖ وَ مِنۡهُمۡ مَّنۡ صَدَّ عَنۡهُ ؕ وَ كَفٰى بِجَهَنَّمَ

په دې باندې او بعضې د دوی نه هغه څوک وو چې واوړيده د دې نه، او کافي دے جهـنـم

سَعِيۡرًا ۝٥٥ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِنَا

سوزونکے * يقينًا هغه کسان چې کفر ئې کړے دے په آياتونو زمونږ باندې

سَوۡفَ نُصۡلِيۡهِمۡ نَارًا ؕ كُلَّمَا نَضِجَتۡ

زر دے چې دننه به کوو مونږه دوی لره اوور ته، هر کله چې اوسوزي

جُلُوۡدُهُمۡ بَدَّلۡنٰهُمۡ جُلُوۡدًا غَيۡرَهَا

سرمنے د دوی پيدا به کوو مونږه دوی لره سرمنے بغير د دې نه

لِيَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيۡزًا

دې د پاره چې اوڅکي دوی عذاب، يقينًا الله دے غالب

حَكِيۡمًا ۝٥٦ وَ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

حکمت والا * او هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے او عمل کړ نيک (په طريقه د پيغمبر)

الربع

سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا

زر دے چي دننه به کو مونږه دوی لره جنتونو ته چي بهيږي به لاندي د (اونو د) هـــغي نه

الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَاۤ اَبَدًا ؕ لَهُمۡ فِیۡهَاۤ

ولے همیشه به وي په هغي کښې همیشه ، دوی لره به په دي کښې

اَزۡوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّ نُدۡخِلُهُمۡ ظِلًّا ظَلِیۡلًا ﴿۵۷﴾

بيبيانے وي پاکي ، او دننه به کوو مونږه دوی لره آرام اوگد ته *

اِنَّ اللّٰهَ یَاۡمُرُكُمۡ اَنۡ تُؤَدُّوا الۡاَمٰنٰتِ اِلٰۤی

یقیناً الله حکم کوئ تاسو ته دا چي ورکړئ تاسو امانتونه خپلو

اَهۡلِهَا ۙ وَ اِذَا حَكَمۡتُمۡ بَیۡنَ النَّاسِ اَنۡ

مالکانو ته او کله چي فيصله کوئ تاسو په مينځ د خلقو کښې نو

تَحۡكُمُوۡا بِالۡعَدۡلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ نِعِمَّا یَعِظُكُمۡ

فيصله کوئ په انصاف ، یقیناً الله ښه پند درکوئ تاسو ته

بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِیۡعًۢا بَصِیۡرًا ﴿۵۸﴾ یٰۤاَیُّهَا

په دي (قرآن) ، یقیناً الله دے اوريدونکے ليدونکے * اے

الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اَطِیۡعُوا اللّٰهَ وَ اَطِیۡعُوا

ایمان والـــو تابعداري اوکړئ د الله او تابعداري اوکړئ

الرَّسُوۡلَ وَ اُولِی الۡاَمۡرِ مِنۡكُمۡ ۚ فَاِنۡ

د پيغمبر او د امـــيرانو ستاسو نه ، نو که

تَنَازَعۡتُمۡ فِیۡ شَیۡءٍ فَرُدُّوۡهُ اِلَی اللّٰهِ وَ

جګړه راله ستاسو په يو مسئله کښې نو واپس کړئ دي لره (کتاب د) الله ته او

الرَّسُوۡلِ اِنۡ كُنۡتُمۡ تُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَ الۡیَوۡمِ

(سنت د) پيغمبر ته که تاسو ایمان راوړئ په الله باندي او په ورځ

الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا ۟۵۹

د آخرت ، دا غوره دي او ښائسته دي په اعتبار د انجام *

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا

آيا نه گورې ته هغه کسانو ته چې گمان کوئ چې يقيناً دوی ايمان راوړے دے

بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ

په هغه چې نازل کړے شوے دے تا ته او په هغه چې نازل کړے شوي دي مخکښې ستا نه

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْۤا اِلَى الطَّاغُوْتِ

اراده کوئ دوی دا چې فيصله اووسي سرکشو(قانون د غير الله) ته

وَ قَدْ اُمِرُوْۤا اَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَ يُرِيْدُ

او تحقيق سره دوی ته حکم شوے دے دا چې کفر اوکي دوی په دي (سرکشو)، او اراده کوئ

الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ۟۶۰

شيطان دا چې گمراه کي دوی لره په گمراهي لرے سره (د حق نه) *

وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ

او کله چې اوئيلے شي دوی ته راشئ هغه (کتاب) ته چې نازل کړے دے الله

وَ اِلَى الرَّسُوْلِ رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ

او (سنتو د) پيغمبر ته وينے به ته منافقان چې اوړي به

عَنْكَ صُدُوْدًا ۟۶۱ فَكَيْفَ اِذَاۤ اَصَابَتْهُمْ

ستا نه په اوړيدو سره * نو څنگه حال به وي کله چې اورسيږي دوی ته

مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ

مصيبت په سبب د هغه چې مخکښې کړي دي لاسونو د دوی بيا

جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۖۗ بِاللّٰهِ اِنْ اَرَدْنَاۤ

راشي تا ته قسمونه خوري په الله باندي چې مونږه اراده نه کوله

اِلَّآ اِحۡسَانًا وَّ تَوۡفِيۡقًا ﴿۶۲﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ

مګر د ښيګړي او د جوړ جاړي * دغه کسان چې دي

يَعۡلَمُ اللّٰهُ مَا فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ ق فَاَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ

پوهيږي الله په هغه څه چې په زړونو د دوی کښې دي ، نو مخ واړوه د دوی نه

وَ عِظۡهُمۡ وَ قُلۡ لَّهُمۡ فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ قَوۡلًاۢ

او نصيحت کوه دوی ته او اووايه دوی ته په مجلسونو د دوی کښې وينا

بَلِيۡغًا ﴿۶۳﴾ وَ مَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا

پوره * او نه دے ليږلے مونږه هيڅ يو پيغمبر مګر

لِيُطَاعَ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ط وَ لَوۡ اَنَّهُمۡ اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا

دي د پاره چې تابعداري ئې اوکړے شي په حکم د الله ، او که يقيناً دوی کله چې ئې ظلم کړے وو

اَنۡفُسَهُمۡ جَآءُوۡكَ فَاسۡتَغۡفَرُوا اللّٰهَ وَ

په خپلو ځانونو باندي راغلي وو دوی تا ته او بښنه ئې غوښتے وه د الله نه او

اسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ الرَّسُوۡلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ

بښنه غوښتلے وه دوی لره پيغمبر عليه السلام (د الله نه) نو موندلے به ئې وو الله لره

تَوَّابًا رَّحِيۡمًا ﴿۶۴﴾ فَلَا وَ رَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُوۡنَ

توبه قبلونکے مهربان * نه دے داسے کار لکه څنګه چې د مخلوق ګمان دے قسم دے په رب ستا دوی ايمان نه راوړي

حَتّٰى يُحَكِّمُوۡكَ فِيۡمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا

تر دې چې فيصله کن او ګرځي تا لره په هغه (مسئلو کښې) چې پيدا شوي وي په مينځ د دوی کښې بيا نه

يَجِدُوۡا فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيۡتَ

مومي دوی په زړونو خپلو کښې تنګسيا د هغه نه چې فيصله کړې وي تا

وَ يُسَلِّمُوۡا تَسۡلِيۡمًا ﴿۶۵﴾ وَ لَوۡ اَنَّا كَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ

او غاړه کيږدي (ستا سنتو ته) دوی په غاړه کيخودلوی سره * او که مونږ مقرر کړي وو په دوی باندي

أَنِ اقْتُلُوٓا أَنْفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِنْ دِيَارِكُمْ
دا چې اوژنئ خپل ځانونه يا اوځئ د كورونو خپلو نه
مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ
نه به وو كړې دوى دي كار لره مګر لږو د دوى نه ، او كه دوى
فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ
كړې وو هغه چې پند وركولے شي دوى ته په هغې باندې نو دا به غوره وو دوى لره
وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴿٦٦﴾ وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّنْ
او سخت په كلك والي كښې * او په دغه وخت كښې خامخا وركړے به وو مونږه دوى ته د
لَّدُنَّآ أَجْرًا عَظِيمًا ﴿٦٧﴾ وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا
خپل طرف نه اجر لوئې * او خامخا مضبوط كړې به وو مونږه دوى لره په لاره
مُّسْتَقِيمًا ﴿٦٨﴾ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ
نيغه باندې * او چا چې تابعدارې اوكړه د الله او د پيغمبر (د الله)
فَأُولَٰٓئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم
نو دا كسان د هغه كسانو سره به وي چې احسان كړے دے الله په هغوي باندې
مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَآءِ
يعني د پيغمبرانو او د رشتينو او د شهيدانو
وَالصَّٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُولَٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾
او د نيكانو سره ، او ښائسته دي دغه كسان په ملګرتيا كښې *
ذَٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ
دا فضل د طرفه د الله نه دے ، او كافي دے الله
عَلِيمًا ﴿٧٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا
پوهه * اے ايمان والو اونيسئ

حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا

سامان د يرولو (د دشمن) ستاسو نو اوځئ ډلے ډلے يا اوځئ

جَمِيْعًا ﴿٧١﴾ وَ اِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ فَاِنْ

غونډ په يو ځل او يقينا بعضي ستاسو نه خامخا هغه څوک دي چې سستي ځ خلقو لره (جهاد نه)، نو كه

اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ

اورسيږي تاسو ته مصيبت وائي دے: تحقيق سره احسان اوكه الله

عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيْدًا ﴿٧٢﴾ وَ لَئِنْ

په ما باندي كله چې نه ووم زه دوی سره موجود * او كه

اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ لَيَقُوْلَنَّ كَاَنْ

اورسيږي تاسو ته فضل (مال غنيمت) د طرفه د الله نه نو خامخا وائي دے ته به وائي ګني

لَّمْ تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ يّٰلَيْتَنِيْ

نه وه په مينځ ستاسو او په مينځ د ده كښي دوستي هائے افسوس دے ما لره

كُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧٣﴾

چې وے زه دوی سره نو كامياب شوے به وم زه په كاميابۍ لوئي سره *

فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ

پس جنګ دِ اوكي په لاره د الله كښي هغه كسان چې غوره كړې

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ؕ وَ مَنْ يُّقَاتِلْ

ژوند د دنيا په مقابله د آخرت كښي، او چا چې جګړه اوكړه

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ

په لاره د الله كښي پس اووژلے شو يا غالب شو (په دشمن) نو زر دے چې

نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٧٤﴾ وَ مَا لَكُمْ لَا

وربه كړو مونږ ده ته اجر لوئي * او څه دي تاسو لره چې

تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ

جنګ نه کوئ تاسو په لاره د الله کښې او (د پاره د خلاصولو د) کمزورو

مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ

يعني د سړو او د ښځو او د ماشومانو هغه کسانو چې

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ

وائي دوی : اے ربه زمونږه اوباسي مونږه لره د دې کلي نه

الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ

چې ظالمان دي اوسيدونکي د دې ، او اوګرځے مونږ لره د طرفه خپل نه

وَلِيًّا ۙۚ وَّ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾ ط

معاون او اوګرځے مونږ لره د طرفه خپل نه امدادي *

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ

هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے جنګ کئ په لاره د الله کښې ،

وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ

او هغه کسان چې کفر ئې کړے دے جنـــــګ کئ په لاره

الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ

د شيطان کښې نو جنګ اوکئ دوستانو د شيطان سره ،

اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ﴿٧٦﴾ ع اَلَمْ

يقيناً چل د شيطان دے کمزورے * ايا نه

تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ

ګورے ته هغه کسانو ته چې اوئيلے شو هغوي ته بند کئ لاسونه خپل (شر او فساد نه)

وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ فَلَمَّا

او پابندي اوکئ د مونځ او ورکئ زکوة ، پس هر کله چې

كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ

مقرر كړے شي په دوی باندې جنګ ناساپه يوه ډله د دوی نه

يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ

يريده د خلقو نه په شان د يرې د الله نه بلكه زيات

خَشْيَةً ۚ وَ قَالُوْا رَبَّنَا لِمَ كَتَبْتَ عَلَيْنَا

په يره كښې ، او وئيل دوی : اے ربه زمونږه څه له دِ مقرر كه په مونږ باندې

الْقِتَالَ ۚ لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ؕ

جنګ ؟ ولے دِ روستو نه كړو مونږه تر نيټے نزدے پورے ؟

قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ۚ وَ الْاٰخِرَةُ

اووايه څكه د دنيا لږه ده ، او آخرت

خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى قف وَ لَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴿٧٧﴾

غوره دے دپاره د هغه چا چې ځان ساتي (د خلاف د الله نه)، او ظلم به او نه شي په تاسو په اندازه د تار د كهجورے د هډوکي*

اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَ لَوْ

چرته چې يئ تاسو راګير به كي تاسو لره مرګ اګر كه

كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ؕ وَ اِنْ تُصِبْهُمْ

يئ تاسو په برجونو چونه ګچو كښې ، او كه اورسيږي دوی ته

حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَ

څه خوشحالي وائي دوی : دا د طرفه د الله نه ده ، او

اِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ

كه اورسيږي دوی ته څه مصيبت وائي دوی : دا

عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ

ستا د وجې نه دے ، اووايه ټول (خير او شر) د طرفه د الله نه دي ، پس څه شوي دي

هٰۤؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ

دي قوم لره قريب نه دي چې پوهه شي

حَدِيْثًا ﴿٧٨﴾ مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ

په خبره باندي * هغه چې اورسيږي تا ته څه خوشحالي

فَمِنَ اللّٰهِ ز وَ مَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ

پس دا د طرفه د الله نه ده ، او هغه چې اورسيږي تا ته څه مصيبت

فَمِنْ نَّفْسِكَ ط وَ اَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ

پس دا د طرفه ستا نه دے (ستا د عمل نتيجه ده)، او راليږلے دے مونږه تا لره د پاره د خلقو

رَسُوْلًا ط وَ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿٧٩﴾ مَنْ

پيغمبر ، او کافي دے الله ګواه * چا چې

يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ج وَ مَنْ

تابعداري اوکړه د پيــــغمبر نو تحقيق سره ده تابعداري اوکړه د الله ، او څوک چې

تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ﴿٨٠﴾ ط

واوړيدهٔ نو نه دے راليږلے مونږه تا لره په دوی باندي ذمه دار *

وَ يَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ز فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ

او وائي دوی : (کار زمونږ)تابعداري ده ، پس کله چې لاړ شي دوی د

عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ

ستا خوا نه شپه تيرئ يوه ډله د دوی نه بغير د هغه نه چې

تَقُوْلُ ط وَ اللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ ج

ته ئې وائې ، او الله ليکي هغه چې دوی شپه تيرئ (په مخ) ،

فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ط وَ كَفٰى

نو مخ واړوه د دوی نه او ځان اوسپاره په الله باندي ، او کافي دے

بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿٨١﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ؕ
الله ذمه دار * ولے دوی سوچ نه کئ په قرآن کښې ،
وَ لَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا
او که وے دا (قرآن) د طرفه د غیر الله نه نو خامخا موندلے به وو دوی
فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿٨٢﴾ وَ اِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ
په دي کښي اختلاف ډیر * او کله چي راشي دوی ته یو حکم
مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ؕ وَ لَوْ
د امن یا ډیرے خورئ دوی هغي لره ، او که
رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَ اِلٰۤى اُولِي الْاَمْرِ
دوی واپس کړے وے هغي لـــــره پیغمبر ته او امـــیرانو ته
مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ؕ
د دوی نه خامخا معلوم کړے به وے دي لره هغه کسانو چي اخلي دي حکم لره د دوی نه ،
وَلَوْ لَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهٗ لَاتَّبَعْتُمُ
او که نه وے فضل د الله په تاسو باندي او رحمت د الله خامخا تابعداري به کړے وه تاسو
الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٨٣﴾ فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ
د شیطان مگر لږ و (به نه وه کړي) * پس جنگ اوکه په لاره
اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ وَ حَرِّضِ
د الله کښي ، تکلیف نه شي ورکولے مگر نفس ستا ته او تیز که
الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ
مومنان ، زر دے الله چي بند به کي جنگ
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَ اللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّ اَشَدُّ
د هغه کسانو چي کفر ئي کړے دے ،او الله ډیر سخت دے په جنگ کښي او ډیر سخت دے

تَنۡكِيۡلًا ﴿۸۴﴾ مَنۡ يَّشۡفَعۡ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنۡ
په سزا ورکولو کښې ٭ چا چې بیان او که بیان ښائسته (بیان د توحید ئې اوکه) شي به

لَّهٗ نَصِيۡبٌ مِّنۡهَا ۚ وَ مَنۡ يَّشۡفَعۡ شَفَاعَةً سَيِّئَةً
ده لره حصه د دي نه، او چا چې بیان اوکه بیان بد (بیان د شرک ئې اوکه)

يَّكُنۡ لَّهٗ كِفۡلٌ مِّنۡهَا ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ
شي به هغه لره اندوے د هغې نه ، او دے الله

عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ مُّقِيۡتًا ﴿۸۵﴾ وَ اِذَا حُيِّيۡتُمۡ
په هر يو شي باندي نگهبان ٭ او كله چې پيش كښې دركړے شي تاسو ته

بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوۡا بِاَحۡسَنَ مِنۡهَاۤ اَوۡ رُدُّوۡهَا ؕ
په يو پيش كښي سره نو تاسو پيش كښي وركړئ په ښائسته د هغې نه يا واپس كړئ هغې لره،

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ حَسِيۡبًا ﴿۸۶﴾
يقينًا الله دے په هر يو شي باندي حساب ناک ٭

اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ اِلٰى يَوۡمِ
الله چې دے نشتے بل حاجت روا مگر دا الله دے ، خامخا جمع به کړي تاسو لره ورځ د

الۡقِيٰمَةِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ ؕ وَ مَنۡ اَصۡدَقُ مِنَ
قيامت ته چې نشتے شک په هغې كښې ، او څوک دے ډير رشتينے د

اللّٰهِ حَدِيۡثًا ﴿۸۷﴾ فَمَا لَكُمۡ فِى الۡمُنٰفِقِيۡنَ
الله نه په خبره كښې ٭ نو څه شوي دي تاسو لره چې شوئ تاسو په باره د منافقانو كښي

فِئَتَيۡنِ وَ اللّٰهُ اَرۡكَسَهُمۡ بِمَا كَسَبُوۡا ؕ
دوه ډلے او الله رسوا كړي د دوی لره په سبب د هغه چې دوی كړي دي (نا كاره عملونه)

اَتُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ تَهۡدُوۡا مَنۡ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ
آيا اراده كوئ تاسو دا چې لار اوښايئ هغه چا ته چې مهر د گمراهي وهلے دے الله (په هغه) ،

النصف

ع ۱۱ / ۸

وَ مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿٨٨﴾

او په چا چې مهر د ګمراهۍ اووهي الله نو هيچرې به اونه مومې ته هغه لره لار ٭

وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ

دوی خوښ ګنړي کاش چې کفر اوکړئ تاسو لکه څنګه چې دوی کفر کړے دے نو شئ به تاسو

سَوَآءً فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى

برابر نو مه نيسئ تاسو د دوی نه دوستان تر دې چې

يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ فَاِنْ تَوَلَّوْا

دوی هجرت اوکړي په لاره د الله کښې ، پس که واوړېدل دوی

فَخُذُوْهُمْ وَ اقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ۪ ص

نو اونيوئ دوی لره او قتل کړئ دوی لره کوم ځائې کښې چې اومومئ تاسو دوی لره ،

وَ لَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّ لَا نَصِيْرًا ﴿٨٩﴾ لا اِلَّا

او مه نيسئ د دوی نه خوک دوست او نه خوک امدادي ٭ مګر

الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ

هغه کسان چې يو ځائے کيږي داسې قوم سره چې په مينځ ستاسو او په مينځ د هغوی کښې

مِّيْثَاقٌ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ

وعده وي يا راشي تاسو ته بندې شوې وي سينې د دوی

اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ؕ وَ لَوْ

دا چې جنګ اوکړي دوی تاسو سره يا جنګ اوکړي د خپل قوم سره ، او که

شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ۚ

خوښه وے د الله خامخا مسلط کړے به ئې وو دوی لره تاسو باندې نو خامخا جنګ به کړے وو دوی تاسو سره

فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَ اَلْقَوْا

نو که دوی جدا شو ستاسو نه او جنګ نه کړئ تاسو سره او وے غورځوله

اِلَیۡکُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَکُمۡ عَلَیۡهِمۡ

تاسو ته غاړه (تنبه د اسلام) نو نه ده ګرځولې الله تاسو لره په دوی باندې

سَبِیۡلًا ﴿۹۰﴾ سَتَجِدُوۡنَ اٰخَرِیۡنَ یُرِیۡدُوۡنَ

لار د جنګ * ژر دې چې اوبه مومئ تاسو نور کسان چې اراده به کوي

اَنۡ یَّاۡمَنُوۡکُمۡ وَ یَاۡمَنُوۡا قَوۡمَهُمۡ ؕ کُلَّمَا رُدُّوۡۤا

دا چې امن واخلي ستاسو نه او امن واخلي د خپل قوم نه، هر کله چې واپس کړې شي

اِلَی الۡفِتۡنَةِ اُرۡکِسُوۡا فِیۡهَا ۚ فَاِنۡ لَّمۡ

فتنې (شرک) ته نسکور کړې شي په هغې کښې ، پس که دوی

یَعۡتَزِلُوۡکُمۡ وَ یُلۡقُوۡۤا اِلَیۡکُمُ السَّلَمَ وَ یَکُفُّوۡۤا

جدا نه شو ستاسو نه او ونه غورځوله تاسو ته غاړه او بند ئې نه کړل

اَیۡدِیَهُمۡ فَخُذُوۡهُمۡ وَ اقۡتُلُوۡهُمۡ حَیۡثُ

خپل لاسونه (ستاسو د ضرر نه) نو اونیوئ دوی لره او قتل کړئ دوی لره کوم ځائې کښې چې

ثَقِفۡتُمُوۡهُمۡ ؕ وَ اُولٰٓئِکُمۡ جَعَلۡنَا لَکُمۡ عَلَیۡهِمۡ

اومومئ تاسو دوی لره، او دغه کسان ګرځولې دې مونږه تاسو لره په دوی باندې

سُلۡطٰنًا مُّبِیۡنًا ﴿۹۱﴾ ع وَ مَا کَانَ لِمُؤۡمِنٍ اَنۡ

دلیل سرګند * او نه دې پکار هیڅ یو مومن لره دا چې

یَّقۡتُلَ مُؤۡمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَ مَنۡ قَتَلَ مُؤۡمِنًا

قتل کړي مومن مګر په خطایې سره ، او چا چې قتل که مومن

خَطَـًٔا فَتَحۡرِیۡرُ رَقَبَةٍ مُّؤۡمِنَةٍ وَّ دِیَةٌ

په خطایې نو آزادول د غلام مومن دې او دیت

مُّسَلَّمَةٌ اِلٰۤی اَهۡلِهٖۤ اِلَّاۤ اَنۡ یَّصَّدَّقُوۡا ؕ فَاِنۡ

پوره سپارلې شوې دې اهل د دې (مقتول) ته مګر دا چې دوی (وارثان د مقتول) خیرات اوکي، نو که

كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَ هُوَ مُؤْمِنٌ

رو (دا مقتول) د داسي قوم نه چي دشمن وو ستاسو او وو دا (مقتول) مومن

فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ؕ وَ اِنْ كَانَ مِنْ

نو ازادول د غلام مومن دي ، او كه وي (مقتول) د

قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ

داسي قوم نه چي په مينځ ستاسو او په مينځ د هغوي كښي وعده وي نو ديت دے

مُّسَلَّمَةٌ اِلٰۤى اَهْلِهٖ وَ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ

پوره سپارلے شوے اهل د هغه ته او آزادول دي د غلام مومن ،

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۫

پس چا چي اونه مونده (غلام) نو روژے نيول دي دوه مياشتے پرله پسے ،

تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

مهرباني ده د طرفه د الله نه ، او دے الله پوهه

حَكِيْمًا ﴿۹۲﴾ وَ مَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا

حكمت والا * او چا چي قتل كه يو مومن قصدًا

فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَ غَضِبَ اللّٰهُ

نو سزا د ده جهنّم ده هميشه به وي په دي كښي او غضب كړے دے الله

عَلَيْهِ وَ لَعَنَهٗ وَ اَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴿۹۳﴾

په ده باندي او په لعنت كړے ئي دے ده لره او تيار كړے ئي دے ده لره عذاب لوئي *

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ

اے ايمـــان والو كله چي سفر كوئ تاسو په

سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ

لاره د الله كښي نو لټونه كوئ او مه وايئ هغه چا ته

اَلۡقٰۤی اِلَیۡكُمُ السَّلٰمَ لَسۡتَ مُؤۡمِنًا ۚ

چې وړے غوړخوله تاسو ته غاړه نه يې ته مومن ،

تَبۡتَغُوۡنَ عَرَضَ الۡحَیٰوةِ الدُّنۡیَا ۫ فَعِنۡدَ

چې لټوئ تاسو سامان د ژوند د دنيا ، نو د

اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِیۡرَةٌ ؕ كَذٰلِكَ كُنۡتُمۡ مِّنۡ

الله سره غنيمتونه دي ډيـــر ، دارنګي وئ تاسو

قَبۡلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَیۡكُمۡ فَتَبَیَّنُوۡا ؕ اِنَّ

پـــخوا نو احسان اوکه الله په تاسو باندي نو لټونه کوئ ، يقينًا

اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خَبِیۡرًا ﴿۹۴﴾ لَا یَسۡتَوِی

الله دے په هغه چې تاسو يې کوئ خبر دار * نه دي برابر

الۡقٰعِدُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِیۡنَ غَیۡرُ اُولِی

ناست خلق د مومنانو نه چې نه دي د

الضَّرَرِ وَ الۡمُجٰهِدُوۡنَ فِیۡ سَبِیۡلِ اللّٰهِ

ضرر والا او مجاهدين په لاره د الله کښي

بِاَمۡوَالِهِمۡ وَ اَنۡفُسِهِمۡ ؕ فَضَّلَ اللّٰهُ

په مالونو خپلو او په نفسونو خپلو ، غوره کړي دي الله

الۡمُجٰهِدِیۡنَ بِاَمۡوَالِهِمۡ وَ اَنۡفُسِهِمۡ عَلَی

مجاهدين په مالونو خپلو او په نفسونو خپلو په

الۡقٰعِدِیۡنَ دَرَجَةً ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ

(په معذورو) ناستو باندي په يو درجه ، او تولو سره وعده کړے ده الله

الۡحُسۡنٰی ؕ وَ فَضَّلَ اللّٰهُ الۡمُجٰهِدِیۡنَ

د جنت ، او غوره کړي دي الله مجاهدين

عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٩٥﴾ دَرَجٰتٍ

په (روغو موټو) ناستو باندې په اجر لوئي سره * په درجو

مِّنْهُ وَ مَغْفِرَةً وَّ رَحْمَةً ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ

د طرفه د الله نه او په بښنه او رحمت کښې ، او دے الله

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٩٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ

بښونکے مهربان * يقيناً هغه کسان چې روح اخلي د هغوي نه

الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ؕ

فرشتے په داسې حال کښې چې ظلم کونکي وي خپلو ځانونو سره وائي (ورته فرشتے) په څه حال وئ تاسو ،

قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ قَالُوْٓا

وائي دوی : مونږه کمزوري کړے شوي وو په زمکه کښې ، وائي (ورته فرشتے)

اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا

آيا نه وه زمکه د الله فراخه چې هجرت کړے وو تاسو

فِيْهَا ؕ فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَ

په هغې کښې ، نو دغه کسان ځائے د دوی دے جهنم ، او

سَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿٩٧﴾ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ

بد ځائے د ورتلو دے (دا جهنم) * مګر کمزوري شوي

مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ لَا

د سړو او د ښځو او د ماشومانو نه چې

يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّ لَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ﴿٩٨﴾

هغوي طاقت نه لري د چل د خلاصيدو او نه شي موندے سمه لار *

فَاُولٰٓئِكَ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ؕ وَ

نو دغه کسان زر دے الله چې معافي به اوکي دوی ته ، او

كَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴿۹۹﴾ وَ مَنْ يُّهَاجِرْ

دے الله معافي كونكے بښونكے ۔ او چا چې هجرت اوكه

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا

به لاره د الله كښې اوبه مومي په زمكه كښې غنيمتونه

كَثِيْرًا وَّسَعَةً ؕ وَ مَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ

دير او فراختيا ، او څوک چې اووځي د خپل كور نه

مُهَاجِرًا اِلَى اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ

هجرت كونكے (د پاره د دين د) الله او (د پاره د ستو د) پيغمبر د هغه بيا راګير كه ده لره

الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ اَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَ كَانَ

مرګ نو تحقيق سره واقع شو اجر د ده په الله باندې ، او دے

اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۰۰﴾ وَ اِذَا ضَرَبْتُمْ فِي

الله بښونكے رحم كونكے ۔ او كله چې سفر كوئ تاسو په

الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا

زمكه كښې نو نشته په تاسو باندې ګناه دا چې كموالے اوكړئ تاسو

مِنَ الصَّلٰوةِ ۖۗ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَّفْتِنَكُمُ

د مونځ نه ، خصوصًا كه يريږئ تاسو دا چې په تكليف كښې به واچوي تاسو لره

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ كَانُوْا لَكُمْ

هغه كسان چې كفر ئې كړے دے ، يقينًا كافران دي ستاسو د پاره

عَدُوًّا مُّبِيْنًا ﴿۱۰۱﴾ وَ اِذَا كُنْتَ فِيْهِمْ فَاَقَمْتَ

دشمنان ښكاره ۔ او كله چې يے ته په دوی كښې او اودروې

لَهُمُ الصَّلٰوةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَّعَكَ

دوی لره مونځ نو اوډ دريږي يوه ډله د دوی نه تا سره

وَ لْيَأْخُذُوْٓا اَسْلِحَتَهُمْ ۚ فَاِذَا سَجَدُوْا
او اودِ نیسي اسلحي خپلي کله چي سجده اوکي
فَلْيَكُوْنُوْا مِنْ وَّرَآئِكُمْ ۠ وَ لْتَاْتِ طَآئِفَةٌ
نو شي دِ روستو ستاسو نه ، او را دِ شي ډله
اُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوْا فَلْيُصَلُّوْا مَعَكَ وَ لْيَأْخُذُوْا
بله چي مونځ ئي نه دے کړے نو مونځ دِ اوکي تا سره او اودِ نیسي
حِذْرَهُمْ وَ اَسْلِحَتَهُمْ ۚ وَدَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
سامان د يرولو (د دشمن) خپل او اسلحه خپله ، او خوښ ګڼړي هغه کسان چي کفر ئی کړے دے
لَوْ تَغْفُلُوْنَ عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ وَ اَمْتِعَتِكُمْ
دا چي غافل شئ تاسو د اسلحے ستاسو نه او د سامان ستاسو نه
فَيَمِيْلُوْنَ عَلَيْكُمْ مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ
نو حمله به اوکي دوی په تاسو باندي حمله يوه ، او نشته ګناه
عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ اَوْ
په تاسو باندي که وي په تاسو باندي تکليف د باران يا
كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى اَنْ تَضَعُوْٓا اَسْلِحَتَكُمْ ۚ وَ
يئ تاسو مريضان دا چي کيږدئ تاسو اسلحي خپلي ، او
خُذُوْا حِذْرَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ
اونيسئ سامان د يرولو ستاسو (د دشمن)، يقيناً الله تيار کړے دے د پاره د کافرانو
عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۰۲﴾ فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ
عذاب سپکونکے • پس کله چي پوره کړئ تاسو مونځ
فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّ قُعُوْدًا وَّ عَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ
نو يادوئ الله لره په ولاړه او په ناسته او په اړخونو خپلو باندي ،

فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ اِنَّ الصَّلٰوةَ
پس كله چې په اطمينان شئ تاسو نو اودروئ مونځ ، يقيناً مونځ
كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿١٠٣﴾ وَلَا
دے په مومنانو باندې مقرر په خپل وخت * او
تَهِنُوْا فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ۗ اِنْ تَكُوْنُوْا
سستي مه كوئ تاسو په لټونه د قوم (كافرو) كښې ، كه تاسو
تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ
درد مند كيږئ نو يقيناً دوی دردمند كيږي لكه څنګه چې تاسو درد مند كيږئ ،
وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ۗ وَكَانَ
او تاسو اميد ساتئ د الله نه هغه چې دوی اميد نه ساتي ، او دے
اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٠٤﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ
الله پوهه حكمت والا * يقيناً مونږه نازل كړے دے تا ته
الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ
كتاب د پاره د ښكاره كولو د حق دې د پاره چې ته فيصله اوكې په مينځ د خلقو كښې په هغه
اَرٰىكَ اللّٰهُ ۗ وَلَا تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ﴿١٠٥﴾ۙ
چې ښودنه كړے ده تا ته الله ، او مه كيږه ته د پاره د خيانتګرو جګړه مار *
وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا
او ښښنه غواړه د الله نه ، يقيناً الله دے ښښونكے
رَّحِيْمًا ﴿١٠٦﴾ۚ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ
مهربان * او جګړې مه كوه د هغه كسانو نه چې خيانت كښې ئې اچولي دي
اَنْفُسَهُمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ
خپل ځانونه ، يقيناً الله مينه نه كئ د هغه چا سره چې هغه

ع ١٥

خَوَّانًا اَثِيْمًا ﴿١٠٧﴾ يَّسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَ

خیانت کونکے ګناهنګار وي * دوی ځان پټيږي د خلقو نه او

لَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَ هُوَ مَعَهُمْ اِذْ

نه شي پټيدے دوی د الله نه او دا الله دوی سره دے کله چې

يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ؕ وَ كَانَ

دوی شپه تیرئ په هغه (خبرو) چې نه ئې خوښئ (الله) د وینا نه ، او دے

اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ﴿١٠٨﴾ هٰۤاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ

الله په هغه چې کئ دوی احاطه کونکے * تاسو دغه کسان يئ چې

جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۟ فَمَنْ

جګړې کوئ تاسو د دوی د طرف نه په ژوند د دنیا کښې ، پس څوک دے چې

يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ

جګړه به اوکي الله سره د دوی د طرف نه په ورځ د قیامت یا څوک

يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿١٠٩﴾ وَ مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا

به شي په دوی باندې ذمه دار * او چا چې عمل اوکه بد

اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ

يا ئې ظلم اوکه د خپل ځان سره بیا ببښنه غواړي د الله نه اوبه مومي الله لره

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١١٠﴾ وَ مَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا

ببښونکے مهربان * او چا چې اوکه ګناه لره قصدًا نو یقینًا

يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

سزا د ګناه د ده په ده باندې ده ، او دے الله پوهه

حَكِيْمًا ﴿١١١﴾ وَ مَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓـَٔةً اَوْ اِثْمًا

حکمت والا * او چا چې اوکه ګناه په هیره یا ګناه قصدًا

ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا

بیا نسبت کړي دهغې پاک دامن ته نو تحقیق سره ده بار که تهمت

وَّ اِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾ وَ لَوْ لَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ

او ګناه ښکاره * او که نه وے فضل د الله په تا باندې

وَ رَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ

او رحمت د هغه(دوی به ګمراه کړے وے ته) خامخا قصد کړے وو یو ډلې د دوی نه چې واړوي تا لره (د حق نه)،

وَ مَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَ مَا يَضُرُّوْنَكَ

او دوی نه خطا کوي مګر خپل ځانونه او دوی ضرر نه شي رسولے تا ته

مِنْ شَيْءٍ ؕ وَ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

هیڅ شے ، او رالیږلے دے الله په تا باندې کتاب

وَ الْحِكْمَةَ وَ عَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَ كَانَ

او پوهه (سنت) او ښودلي ئي دي تا ته هغه (احکام) چې ته نه پوهیدے (په هغې باندې) ، او دے

فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾ لَا خَيْرَ فِيْ

فضل د الله په تا باندې لوئي * نشته خیر په

كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ بِصَدَقَةٍ

ډیرو د جرګو د دوی کښې مګر هغه څوک چې حکم کړي په صدقې

اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍۭ بَيْنَ النَّاسِ ؕ وَ

یا په نیکۍ یا په اصلاح په مینځ د خلقو کښې ، او

مَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ

چا چې اوکه دا کار د پاره د لټولو د رضامنتیا د الله

فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۱۱۴﴾ وَ مَنْ يُّشَاقِقِ

نو زر دے چې وربه کړو مونږ ده ته اجر لوئي * او چا چې خلاف اوکه

الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى
د پيغمبر پس د هغه نه چې ښكاره شو ده ته هدايت (طريقه د سنت)

وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى
او روان شو دے بغير د لارے د مومنانو نه وابه ړو مونږه ده لره كم طرفه ته چې دے اوړي

وَ نُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَ سَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿١١٥﴾ اِنَّ
او دننه به كو ده لره جهنم ته، او بد دے ځائے د ورتلو(جهنم)* يقيناً

اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَ يَغْفِرُ مَا دُوْنَ
الله ببښنه نه كئ دا چې شرك اوكړے شي دي الله سره او ببښنه كئ د هغه چې بغير د

ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ
دي نه دي د پاره د هغه چا چې اوغواړي، او چا چې شرك اوكه د الله سره نو تحقيق سره

ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا ﴿١١٦﴾ اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ
دے گمراه شو په گمراهئ لرے سره (د حق نه) * نه رامدد كئ دوی

دُوْنِهٖۤ اِلَّاۤ اِنٰثًا ۚ وَ اِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا
بغير د الله نه مگر مره ، او نه رامدد كئ دوی مگر شيطان

مَّرِيْدًا ﴿١١٧﴾ لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَ قَالَ لَاَتَّخِذَنَّ
سركش * په لعنت كړے دے ده لره الله ، او وئيلي دي ده : خامخا نيسم به زه

مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿١١٨﴾ وَّ لَاُضِلَّنَّهُمْ
د بنديگانو ستا نه حصه مقرر شوے * او خامخا گمراه كوم به دوی لره

وَ لَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَ لَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ
او خامخا اميدونه به وركوم دوی لره او خامخا حكم به كوم دوی ته نو خامخا كټ كئ به غـوږونه د

الْاَنْعَامِ وَ لَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ
ڈنگرو او خامخا حكم به كوم دوی ته نو خامخا بدلئ به پيدائش (دين)

ركوع ١٢ ع ١٧
وقف لازم

اللّٰهِ ؕ وَ مَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ
د الله ، او چا چي اونيسه شيطان دوست سيوا د الله نه

فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ؕ﴿۱۱۹﴾ يَعِدُهُمْ وَ
تحقيق سره دے تاواني شه په تـــاوان ښكاره سره * وعده كيږ دا شيطان دوىسره او

يُمَنِّيْهِمْ ؕ وَ مَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲۰﴾
اميدونه وركيږ دوىته ، او وعدې نه كيږ دوىسره شيـــطان مكر د دهوكے *

اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۫ وَ لَا يَجِدُوْنَ
دغه كسان ځائے د دوى دے جهنم ، او اوبه نه مومي دوى

عَنْهَا مَحِيْصًا ﴿۱۲۱﴾ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا
د دې نه ځائے د خلاصي * او هغه كسان چي ايمان ئي راوړے دے او عمل ئي كړے دے

الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ
نـــيك زر دے چي دننه به كوو مونږ دوىلره جنتونو ته چي بهيږي به د

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ
لاندې د (اونو د) هغې نه ولے هميشه به وي دوى په دې كښې هميشه، وعده د الله ده

حَقًّا ؕ وَ مَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا ﴿۱۲۲﴾
رښتيا ، او څوک دے ډير رشتينے د الله نه په وينا كښې *

لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ
نشتے (نجات) په آرزوگانو ستاسو باندې او نه په آرزوگانو د اهل كتابو ،

مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَ لَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ
چا چي عمل اوكه بد سزا به وركړے شي ده ته د هغې او اوبه نه مومي ځان لره

دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّ لَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾ وَ مَنْ يَّعْمَلْ
سيوا د الله نه دوست او نه امدادي * او چا چي عمل اوكه

مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَ هُوَ مُؤْمِنٌ

نـــيک که | نارينه يا زنانه | په داسي حال کښي چي وي دے مومن

فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَ لَا يُظْلَمُوْنَ

نو دغه کسان | دننه به شي | جنت ته او ظلم به اونه کړے شي په دوی باندي

نَقِيْرًا ﴿١٢٤﴾ وَ مَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ

په اندازه د داغ د کهجورے د هډوکي | او څوک دے | ډير ښائسته | په اعتبار د دين | د هغه چا نه چي کيخوده ده

وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَ هُوَ مُحْسِنٌ وَّ اتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ

غاړه خپله الله ته او وي دے | متبع د سنت | او تابعداري ئي اوکړه د دين د ابراهيم (عليه السلام)

حَنِيْفًا ؕ وَ اتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا ﴿١٢٥﴾ وَ لِلّٰهِ

چي ولاړ وو په توحيد ماتونکے وو د شرک، او نيولے وو الله ابراهيم (عليه السلام) لره دوست * او خاص د الله

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ

اختيار کښي دي هغه چي آسمانونو او هغه چي زمکو کښي دي، | او | دے | الله

بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا ﴿١٢٦﴾ ع وَ يَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ ١٨ ع ١٥

په هر يو شي باندي احاطه کونکے * او تپوس کيږي دوي ستا نه په باره د (حقوقو د) ښځو کښي،

قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ وَ مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ

او وايه الله جواب درکيږي تاسو ته په باره د دوي کښي | او هغه چي لوستے شي په تاسو باندي

فِي الْكِتٰبِ فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ

په کتاب کښي په باره د يتيمانو جينکو کښي هغه جينکي چي نه ورکوئ تاسو هغوي ته

مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَ تَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ

هغه (مال) چي مقرر شوے دے هغوي لره او مينه ساتئ تاسو دا چي نکاح اوکړئ تاسو هغوي سره

وَ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَ اَنْ تَقُوْمُوْا

او | کمزوري | د | ماشومانو نه | او دا چي اودريږئ تاسو

لِلۡيَتٰمٰى بِالۡقِسۡطِ ؕ وَ مَا تَفۡعَلُوۡا مِنۡ خَيۡرٍ
د پاره د يتيمانو په انصاف سره ، او هغه چې كوئ تاسو څه نيكي

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيۡمًا ﴿۱۲۷﴾ وَ اِنِ امۡرَاَةٌ
پس يقينًا الله دے په هغې باندې پوهه * او كه يوه ښځه

خَافَتۡ مِنۡۢ بَعۡلِهَا نُشُوۡزًا اَوۡ اِعۡرَاضًا فَلَا
يريده د خپل خاوند د بد اخلاقۍ نه يا د مخ اړولو نه نو نشته

جُنَاحَ عَلَيۡهِمَاۤ اَنۡ يُّصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحًا ؕ
گناه په دے دواړو باندې دا چې صلح اوكړي دواړه په خپل مينځ كښې صلح ،

وَالصُّلۡحُ خَيۡرٌ ؕ وَ اُحۡضِرَتِ الۡاَنۡفُسُ الشُّحَّ ؕ
او صلح غوره ده ، او حاضر كړے شوي دي نفسونه بخل ته ،

وَ اِنۡ تُحۡسِنُوۡا وَ تَتَّقُوۡا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا
او كه تاسو نيكي كوئ او ځان بچ كوئ (د مناهيو د الله نه) پس يقينًا الله دے په هغه

تَعۡمَلُوۡنَ خَبِيۡرًا ﴿۱۲۸﴾ وَلَنۡ تَسۡتَطِيۡعُوۡۤا اَنۡ تَعۡدِلُوۡا
چې كوئ ئې تاسو خبر دار * او كه تاسو طاقت نه لرئ دا چې انصاف اوكړئ

بَيۡنَ النِّسَآءِ وَ لَوۡ حَرَصۡتُمۡ فَلَا تَمِيۡلُوۡا كُلَّ
په مينځ د زنانو كښې اګر كه تاسو حرص كوئ نو ميلان مه كوئ(يوے ته) پوره

الۡمَيۡلِ فَتَذَرُوۡهَا كَالۡمُعَلَّقَةِ ؕ وَ اِنۡ تُصۡلِحُوۡا
ميلان چې پريږدئ تاسو بلے لره په شان د زړوندے ، او كه تاسو صلح اوكړئ

وَ تَتَّقُوۡا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿۱۲۹﴾ وَ
او ځان بچ كړئ (د خواهش د نفس نه) پس يقينًا الله دے بښونكے مهربان * او

اِنۡ يَّتَفَرَّقَا يُغۡنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنۡ سَعَتِهٖ ؕ
كه دا دواړه جدا شو بے پروا به كي الله هر يو د خپلے فراختيا نه ،

وَ كَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا ﴿١٣٠﴾ وَ لِلّٰهِ مَا فِي
او دے الله فراختيا راوستونکے حکمت والا * او خاص الله ته (تابعدار دي) هغه چي

السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ لَقَدْ وَصَّيْنَا
آسمانونو کښې دي او هغه چي زمکو کښې دي ، او تحقيق سره حکم کړے دے مونږ

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ اِيَّاكُمْ
هغه کسانو ته چي ورکړے شوےدے ورته کتاب مخکښې ستاسو نه او خاص تاسو ته

اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَ اِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا
دا چي اوبريږئ د الله نه ، او که تاسو کفر کوئ پس يقينًا خاص الله لره (تابعدار دي) هغه

فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ
هغه چي آسمانونو کښې دي او هغه چي زمکو کښې دي ، او دے الله

غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴿١٣١﴾ وَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي
بے پرواه ستائلے شوے * او خاص د الله اختيار کښې دي هغه چي آسمانونو او هغه چي

الْاَرْضِ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿١٣٢﴾ اِنْ يَّشَاْ
زمکو کښې دي ، او کافي دے الله ذمه دار * که اوغواړي

يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ وَ يَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ؕ وَ
روک به کي تاسو لره (د مخ د زمکے نه) اے خلقو او رابه ولي نور (خلق) ، او

كَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴿١٣٣﴾ مَنْ كَانَ
دے الله په دي باندي قدرت والا * څوک چي

يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا
اراده کړي د بدلے د دنيا نو الله ســره بدله ده د دنيا

وَ الْاٰخِرَةِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿١٣٤﴾ ع يٰاَيُّهَا ع ١٩ ١٦
او آخرت ، او دے الله اوريدونکے ليدونکے * اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ

مومنانو شئ تاسو كلک ولاړ په انصاف (توحيد) بيانکونکي

لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ

د پاره د (رضاء د) الله اگر كه (ضرر ئي) په تاسو باندي ئي يا په مور او پلار باندي يا په خپلوخپلوانو،

اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۫ قف

كه وي مالدار يا عاجز نوالله ډير نزدے دے دي دواړو ته (ستا نه)،

فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ وَاِنْ تَلْوٗٓا

نو تابعداري مه كوئ د خواهش چي انصاف او نه كړئ تاسو، او كه واوړئ تاسو په بدن سره

اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

يا مخ واړوئ تاسو نو يقينًا الله دے په هغه څه چي عمل كوئ تاسو

خَبِيْرًا ﴿١٣٥﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ

خبر دار * اے ايمان والو ايمان راوړئ (د زړه نه) په الله

وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

او په پيغمبر د هغه او په كتاب هغه چي نازل كړے ئي دے په خپل پيغمبر باندي

وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ

او په هغه كتابونو چي نازل كړے ئي دي پخوا ، او چا چي كفر اوكه

بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

په الله او په فرشتو د هغه او په كتابونو د هغه او په پيغمبرانو د هغه او په ورځ د آخرت باندي

فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿١٣٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

نو تحقيق سره دے خطا شو په خطائي لرے سره (د حق نه)* يقينًا هغه كسان چي ايمان ئي راوړه

ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا

بيا ئي كفر اوكه بيا ئي ايمان راوړه بيا ئي كفر اوكه بيا ئي زيات كه

كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ

کارد کفر نه دے الله چي ببښنه اوکي دوی ته
او نه به توفيق ورکي دوی لره

سَبِيْلًا ﴿١٣٧﴾ بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا

د (صحيح) لارے * زيرے ورکه منافقانو ته چي يقينًا دوی لره عذاب

اَلِيْمًا ﴿١٣٨﴾ الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ

دردناک دے * هغه کسان چي نيسي کافران دوستان

مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ط اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ

بغير د مومنانو نه ، ايا لټئ دوی (منافقان) دوی (کافرو) سره

الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا ﴿١٣٩﴾ وَقَدْ

عزت پس يقينًا عزت خاص الله لره دے ټول * او تحقيق سره

نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ

راليږلے ئې دے تاسو ته په کتاب کښي دا (حکم) چي کله واورئ تاسو

اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا

آياتونه د الله چي کفر کولے شي په هغي باندي او توقے کولے شي هغي پورے نو مه

تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ

کينئ تاسو هغوي سره تر دے چي دوی اوننوځي په بيان

غَيْرِهٖٓ ۚ اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ ط اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ

بل کښي ، يقينًا تاسو په دغه وخت کښي په شان د دوی به يئ ، يقينًا الله جمع کونکے دے

الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴿١٤٠﴾

منافقانو او کافرانو لره په جهنم کښي ټول *

الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ فَاِنْ كَانَ لَكُمْ

هغه کسان چي انتظار کړي په تاسو باندي ، نو که وي تاسو لره

فَتۡحٌ مِّنَ اللّٰهِ قَالُوۡۤا اَلَمۡ نَكُنۡ مَّعَكُمۡ ۖ وَاِنۡ
فتح د طرفه د الله نه وائي دوی: آیا نه وو مونږ تاسو سره ، او که

كَانَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ نَصِيۡبٌ ۙ قَالُوۡۤا اَلَمۡ نَسۡتَحۡوِذۡ
وي د پاره د كافرانو حصه نو وائي دوی: آیا مونږ نه وو مسلط شوي

عَلَيۡكُمۡ وَ نَمۡنَعۡكُمۡ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ فَاللّٰهُ
ستاسو په امداد او نه وئ بچ كړي مونږه تاسو د (ضرر د) مومنانو نه ، نو الله

يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ ؕ وَلَنۡ يَّجۡعَلَ
فيصله به اوكړي په مينځ ستاسو كښي په ورځ د قيامت ، او چرې به اونه گرځوئ

اللّٰهُ لِلۡكٰفِرِيۡنَ عَلَى الۡمُؤۡمِنِيۡنَ سَبِيۡلًا ۧ ﴿۱۴۱﴾
الله د پاره د كافرانو په مومنانو باندي لار (د ملامتيا) *

اِنَّ الۡمُنٰفِقِيۡنَ يُخٰدِعُوۡنَ اللّٰهَ وَ هُوَ
يقينًا منافقان تګي كوئ د الله سره(۱) او دا الله

خَادِعُهُمۡ ۚ وَاِذَا قَامُوۡۤا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوۡا
سزا وركونكے دے دوی ته د تګي، او كله چي اودريږي دوی مونځ(د دين كار) ته نو اودريږي

كُسَالٰى ۙ يُرَآءُوۡنَ النَّاسَ وَلَا يَذۡكُرُوۡنَ
سست پست خان ښئ دوی خلقو ته او نه يادوئ

اللّٰهَ اِلَّا قَلِيۡلًا ۙ ﴿۱۴۲﴾ مُّذَبۡذَبِيۡنَ بَيۡنَ ذٰلِكَ ۖ
الله لره مګر لږ * دوپړک دي په مينځ د دي كښي ،

لَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَآءِ وَلَاۤ اِلٰى هٰۤؤُلَآءِ ؕ وَمَنۡ
نه دي دوی مومنانو سره او نه دي دوی كافرانو سره (حقيقت كښي)، او په چا چي

يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَلَنۡ تَجِدَ لَهٗ سَبِيۡلًا ﴿۱۴۳﴾ يٰۤاَيُّهَا
مهر د ګمراهي اوهي الله نو چرې به اونه مومې ته هغه لره لار * اے

(۱) خيال خيال كښي

ع ۲۰ / ۱۴

الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَتَّخِذُوا الۡكٰفِرِيۡنَ اَوۡلِيَآءَ

مومنانو مه نیسئ کافران دوستان

مِنۡ دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ اَتُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ

بغیر د مومنانو نه ، آیا اراده کوئ تاسو دا چې

تَجۡعَلُوۡا لِلّٰهِ عَلَيۡكُمۡ سُلۡطٰنًا مُّبِيۡنًا ﴿١٤٤﴾ اِنَّ

اوګرځوئ تاسو الله لره په خپلو ځانونو دلیل ښکاره * یقینًا

الۡمُنٰفِقِيۡنَ فِى الدَّرۡكِ الۡاَسۡفَلِ مِنَ

منافقان به په لاندې طبقه د

النَّارِ ۚ وَلَنۡ تَجِدَ لَهُمۡ نَصِيۡرًا ﴿١٤٥﴾ اِلَّا

اوور کښې وي ، او هیڅ کله او به نه مومې ته دوی لره امدادي * مګر

الَّذِيۡنَ تَابُوۡا وَ اَصۡلَحُوۡا وَ اعۡتَصَمُوۡا

هغه کسان چې توبه ئې اویسته او درست ئې که عمل خپل او منګولې ئې اولګولې

بِاللّٰهِ وَ اَخۡلَصُوۡا دِيۡنَهُمۡ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ

په (کتاب د) الله او خالص ئې کړه بلنه خپله الله ته نو دغه کسان

مَعَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ؕ وَ سَوۡفَ يُؤۡتِ اللّٰهُ

د مومنانو سره دي ، او زر دے چې وربه کړي الله

الۡمُؤۡمِنِيۡنَ اَجۡرًا عَظِيۡمًا ﴿١٤٦﴾ مَا يَفۡعَلُ اللّٰهُ

مومنانو ته اجر لوئې * څه کړې الله

بِعَذَابِكُمۡ اِنۡ شَكَرۡتُمۡ وَ اٰمَنۡتُمۡ ؕ وَ كَانَ

په عذاب درکولو تاسو ته که تاسو شکر اوباسئ او ایمان راوړئ ، او دے

اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيۡمًا ﴿١٤٧﴾

الله قبلونکے (د اعمالو) پوهه *

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا
نه خوښئ الله په تيزه باندي كلمه د شرك مگر

مَنْ ظُلِمَ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ﴿۱۴۸﴾
په هغه چا چي زور اوكړے شو ،او دے الله اوريدونكے پوهه *

اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ
كه ښكاره كوئ تاسو كلمه د توحيد يا زړه كښي پټوئ تاسو دي لره يا مخ اړوئ تاسو د

سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ﴿۱۴۹﴾ اِنَّ
كلمے د شرك نه پس يقينًا الله دے معافي كونكے قدرت والا * يقينًا

الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ وَ يُرِيْدُوْنَ
هغه كسان چي هغوئ كفر كئ په الله باندي او په پيغمبرانو د هغه باندي او دوي اراده كئ

اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ وَ يَقُوْلُوْنَ
چي بيلتون راولي په مينځ د الله او د پيغمبرانو د هغه كښي او وائي دوي :

نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّ نَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّ يُرِيْدُوْنَ
مونږ ايمان راوړو په بعضے پيغمبرانو او انكار كوو د بعضو نه او اراده كئ دوي

اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ﴿۱۵۰﴾ ۙ اُولٰٓئِكَ
دا چي اونيسي په مينځ د دي كښي لار * دغه كسان

هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ وَ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ
هم دوي دي كافران په رشتيا باندي ، او تيار كړے دے مونږه د پاره د كافرانو

عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۱۵۱﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ رُسُلِهٖ
عذاب دردناك * او هغه كسان چي ايمان ئي راوړے دے په الله او په پيغمبرانو د هغه

وَ لَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ
او بيلتون ئي نه دے راوستے په مينځ د يو تن كښي د دوي نه دغه كسان زر دے

يُؤْتِيهِمْ أُجُورَهُمْ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا
وربه کي دوی ته (الله) بدلے د عملونو د دوی، او دے الله بښونکے

رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾ يَسْأَلُكَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَنْ تُنَزِّلَ
مهربان * غواړی ستا نه اهل کتاب دا چې راوړے ته

عَلَيْهِمْ كِتَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَقَدْ سَأَلُوا مُوسَىٰ
دوی ته کتاب د بره نه نو تحقيق سره دوی غوښتل کړے وو د موسیٰ (عليه السلام) نه

أَكْبَرَ مِنْ ذَٰلِكَ فَقَالُوا أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً
دیر لوئي د دي نه او وئيلي وو دوی: اوښايه مونږ ته الله ښکاره

فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا
نو اونيول دوی لره چغے په سبب د ظلم د دوی، بیا اونیوه دوی

الْعِجْلَ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ
سخے په خدائي توب پس د هغه چې راغلل دوی ته واضحه دلائل

فَعَفَوْنَا عَنْ ذَٰلِكَ ۚ وَآتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَانًا
نو مونږه معافي اوکړه دوی ته د دي نه، او ورکړے وه مونږه موسی (عليه السلام) ته معجزه

مُّبِينًا ﴿١٥٣﴾ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّورَ بِمِيثَاقِهِمْ
ښکاره * او پورته مو که د پاسه د دوی طور (غر) په سبب د ماتولو وعدو د دوی

وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا
او اوئيل مونږه دوی ته دننه شئ په دروازے په تابعداری او اوئيل مونږه

لَهُمْ لَا تَعْدُوا فِي السَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ
دوی ته: زياتے مه کوئ په ورځ د خالي کښي او اغستي وه مونږه د دوی نه

مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴿١٥٤﴾ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيثَاقَهُمْ
وعده پخه * پس په سبب د ماتولو د دوی وعدو لره

وَ كُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ قَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ
او په سبب د كفر د دوی په آياتونو د الله باندي او په سبب د وژلو د دوی انبياء لره بې
حَقٍّ وَّ قَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ
حق او په سبب د وينا د دوی: زړونه زموږ په پردو کښي دي ، بلکه مهر والے دے الله
عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۵۵﴾
په دي باندي په سبب د كفر د دوی نو دوی ایمان نه راوړي مگر لږ *
وَّ بِكُفْرِهِمْ وَ قَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا
او په سبب د كفر د دوی او وينا د دوی په مريم باندي تهمت
عَظِيْمًا ﴿۱۵۶﴾ وَّ قَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى
لوئي * او په سبب د وينا د دوی : يقينًا وژلے دے موږه مسيح عيسى (عليه السلام)
ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَ مَا قَتَلُوْهُ وَ مَا
زوئے د بي بي مريم پيغمبر د الله ، او نه وو وژلے دوی ده لره او نه ئي
صَلَبُوْهُ وَ لٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ؕ وَ اِنَّ الَّذِيْنَ
په سولۍ كړے وو ده لره ليكن اشتباه راغلے وه په دوی باندي ، او يقينًا هغه كسان
اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ؕ مَا لَهُمْ بِهٖ
چي اختلاف ئي اوكه په دي (قتل د عيسى عليه السلام) كښي خامخا په شك كښي دي د دي نه، او نشته دوی لره په دي باندي
مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَ مَا قَتَلُوْهُ
څه دليل مگر تابعداري د گمان ، او نه ئي دے وژلے ده لره
يَقِيْنًا ﴿۱۵۷﴾ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ
په قتل يقيني * بلكه اوچت كړے دے ده لره الله خان ته ، او دے الله
عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾ وَ اِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ
غالب حكمت والا * او نشته يو تن د اهل كتابو نه

اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
مگر خامخا ايمان به راوړي په ده باندي مخكښي د مرګ د ده نه، او په ورځ د قيامت
يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ﴿۱۵۹﴾ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ
شي به په دوی باندي ګــواه * پس په سبب د ظلم د هغه كسانو نه
هَادُوْا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبٰتٍ اُحِلَّتْ لَهُمْ
چي يهوديان دي بند كړي وو مونږه په دوی باندي پاک هغه خيزونه چي روا وو دوی لره
وَ بِصَدِّهِمْ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَثِيْرًا ﴿۱۶۰﴾ وَّ
او په سبب د بندولو د دوی د لارے د الله نه ډيرو (خلقو) لره * او
اَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَ قَدْ نُهُوْا عَنْهُ وَ اَكْلِهِمْ
او په سبب د اغستلو د دوی سود لره او تحقيق سره دوی منع شوی وو دي نه او په وجه د خوړلو د دوی
اَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ؕ وَ اَعْتَدْنَا
مالونو د خلقو لره په باطل طريقي سره، او تيار كړے دے مونږه
لِلْكٰفِرِيْنَ مِنْهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶۱﴾ لٰكِنِ
د پاره د كافرانو د دوی نه عذاب دردناک * ليكن
الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ
كلک خلق په علم كښي د دوی نه او مومنان
يُؤْمِنُوْنَ بِمَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ مِنْ
ايمان راوړي په هغه (كتاب) چي نازل كړے شوے دے تا ته او په هغه (كتابونو) چي نازل كړے شوي دي
قَبْلِكَ وَ الْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَ الْمُؤْتُوْنَ
مخكښي ستا نه او پابندي كونكي د مونځ او وركونكي د
الزَّكٰوةَ وَ الْمُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ
زكوة او ايمان راوړونكي په الله او په ورځ د آخرت،

ع ٢٣ ٢

أُولٰٓئِكَ سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١٦٢﴾ اِنَّآ
دغه کسان زر دے چې ورېه کوو مونږ دوی ته اجر لوئې * یقینًا مونږه

اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّ
وحي کړے ده تا ته لکه چې وحي کړے وه مونږه نوح (علیه السلام) او (نورو)

النَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ ۚ وَ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ
پیغمبرانو ته پس د هغه نه، او وحي کړے وه مونږه ابراهیم (علیه السلام)

وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَ الْاَسْبَاطِ
او اسماعیل (علیه السلام) او اسحاق (علیه السلام) او یعقوب (علیه السلام) او اولاد (د دوی) ته

وَ عِيْسٰى وَ اَيُّوْبَ وَ يُوْنُسَ وَ هٰرُوْنَ
او عیسی (علیه السلام) او ایوب (علیه السلام) او یونس (علیه السلام) او هارون (علیه السلام)

وَ سُلَيْمٰنَ ۚ وَ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا ﴿١٦٣﴾ۚ وَ رُسُلًا
او سلیمان (علیه السلام) ته، او ورکړے وو مونږه داود (علیه السلام) ته زبور * او ډیر پیغمبران

قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَ رُسُلًا
تحقیق سره بیان کړے دے مونږه د هغوي په تا باندي مخکښ او ډیر پیغمبران

لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ؕ وَ كَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى
بیان نه دے کړے مونږه د هغوي تا ته، او خبرے کړے وي الله په خپله موسی (علیه السلام) سره

تَكْلِيْمًا ﴿١٦٤﴾ۚ رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَ مُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا
بیا بیا خبرے * (او لیږلي وو مونږ) پیغمبران زیرے ورکونکي او یره ورکونکي دي د پاره چې نه

يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ
شي د پاره د خلقو په الله باندي دلیل (بهانه) پس د (لیږلو د)

الرُّسُلِ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿١٦٥﴾ لٰكِنِ
پیغمبرانو نه، او دے الله غالب حکمت والا * لیکن

اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ
الله بیان کړي د هغه چي رالیږلے ئي دے تا ته رالیږلے ئي دے دي لره
بِعِلْمِهٖ ۚ وَ الْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ ؕ وَ كَفٰى
سره د خپل علم نه، او فرشتے ګواهي کړي ، او کافي دے
بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ﴿۱۶۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
الله ګواه * یقینًا هغه کسان چي کفر ئي کړے
وَ صَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا
او بندئ (خلق) د لارے د الله نه تحقیق سره ګمراه شوي دي دوي
ضَلٰلًا بَعِيْدًا ﴿۱۶۷﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ ظَلَمُوْا
په ګمراهي لرے سره (د حق نه) * یقینًا هغه کسان چي کفر ئي کړے دے او ظلم ئي کړے دے
لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَ لَا لِيَهْدِيَهُمْ
نه دے الله چي ببښنه اوکي دوي ته او نه به اوښائي دوي ته
طَرِيْقًا ﴿۱۶۸﴾ اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ
لار (د جنت) * مګر لار د جهنّم همیشه به وي په دي کښې
اَبَدًا ؕ وَ كَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۱۶۹﴾
همیشه ، او دے دا کار په الله باندي آسان *
يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ
اے خلقو تحقیق سره راغلے دے تاسو ته پیغمبر
بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَاٰمِنُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ؕ وَ اِنْ
د پاره د ښکاره کولو د حق د طرفه د رب ستاسو نه نو ایمان راوړئ (شي به دا) غوره ستاسو د پاره، او که
تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ
کفر کوئ تاسو نو یقینًا خاص د الله (اختیار کښې دي) هغه (مخلوقات) چي آسمانونو او زمکو کښې دي،

وَ كَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿١٧٠﴾ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ

او دے الله پوهه حکمت والا * اے اهل کـتـابو

لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ وَ لَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ

بدعت مه کوئ په دين خپل کښې او مه وايئ : په الله باندې

اِلَّا الْحَقَّ ؕ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ

مګر حق ، يقينًا مسيح عيسى (عليه السلام) زوئے د

مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَ كَلِمَتُهٗ ۚ اَلْقٰىهَاۤ اِلٰى

بي بي مريم پيغمبر د الله دے او حکم د الله دے ، غورځولے ئې دے دې لره

مَرْيَمَ وَ رُوْحٌ مِّنْهُ ؗ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ

بي بي مريم ته او روح مشرفه دے د طرفه د الله نه ، نو ايمان راوړئ په الله باندې او

رُسُلِهٖ ۚ وَ لَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ؕ اِنْتَهُوْا خَيْرًا

پيغمبرانو د هغه باندې ، مه وايئ : (چې آلهه زمونږ) درے دي ، منع شئ (د تثليث نه شي به دا) غوره

لَّكُمْ ؕ اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ سُبْحٰنَهٗۤ

ستاسو د پاره ، يقينًا الله حاجت روا دے يکې يو ، پاکي ده ده لره

اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ ۘ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

دا چې شي ده لره نائب ، خاص الله لره اختيار د هغه څه دے چې آسمانونو کښې دي

وَ مَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴿١٧١﴾ ع

او هغه چې زمکو کښې دي ، او کافي دے الله ذمه دار *

وقف لازم ع ٢٣ ٣

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا

چرې باک نه کئ مسيح (عيسى عليه السلام) دا چې شي بنده

لِّلّٰهِ وَ لَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ وَ مَنْ

د الله او نه فرشتے نزديکانے (الله ته) ، او څوک چې

يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَ يَسْتَكْبِرْ

چې باک کړي د عبادت د الله نه او ځان غټ کنړي

فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا ﴿١٧٢﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

نو زر دے چې راجمع به کړي دوی لره ځان ته تــــول * پس هر چې هغه کسان دي

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَيُوَفِّيْهِمْ

چې ایمان ئې راوړه او عمل ئې اوکه نیک نو پوره به ورکړي دوی ته

اُجُوْرَهُمْ وَ يَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ وَ اَمَّا

بدلے د عملونو د دوی او زیات به کړي دوی لره د خپل فضل نه ، او هر چې

الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَ اسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ

هغه کسان دي چې باک ئې اوکه او ځان ئې غټ اوګڼړه نو عذاب به ورکړي دوی ته

عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّ لَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ

عذاب دردناک ، او اوبه نه مومي دوی ځان لره

دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّ لَا نَصِيْرًا ﴿١٧٣﴾ يٰۤاَيُّهَا

سیوا د الله نه دوست او نه امدادي * اے

النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

خلقو تحقیق سره راغلےدے تاسو ته دلیل د طرفه د رب ستاسو نه

وَ اَنْزَلْنَاۤ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا ﴿١٧٤﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

او رالیږلي ده مونږه تاسو ته رنړا ښکاره(قرآن) * پس هر چې هغه کسان دي

اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَ اعْتَصَمُوْا بِهٖ فَسَيُدْخِلُهُمْ

چې ایمان ئې راوړه په الله او منګولے ئې اولګولے په (کتاب د) الله نو زر دے چې دننه به کړي دوی لره

فِيْ رَحْمَةٍ مِّنْهُ وَ فَضْلٍ ۙ وَّ يَهْدِيْهِمْ اِلَيْهِ

په مهربانۍ کښې د خپل طرف نه او فضل کښې او مضبوط به کړي دوی لره ځان ته

صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ؕ﴿۱۷۵﴾ يَسْتَفْتُوْنَكَ ؕ قُلِ اللّٰهُ
په لاره نيغه باندي * دوی تپوس کوئ ستا نه ، اووايه : الله

يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ ؕ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ
جواب درکوي تاسو ته په باره د ميراث کښي ، که يو سړے مړ شه

لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَّ لَهٗٓ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا
نه وي ده لره اولاد او ده لره خور وي نو هغې لره نيمه حصه د هغه (مال) ده

تَرَكَ ۚ وَ هُوَ يَرِثُهَآ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ ؕ
چي پريخودے ئې وي ، او دے به ميراث اوړي د دي (خور) نه که نه وي دي لره اولاد ،

فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا
نو که وي دوی دوه (خويندے) نو دے دواړو لره دوه دريمے دي د هغه (مال) نه چي

تَرَكَ ؕ وَ اِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّ نِسَآءً
چي پريخودے ئې وي، او که وي دوی رونړه خويندے سړي او ښځي

فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ يُبَيِّنُ اللّٰهُ
نو د پاره د سړي (حصه ده) په شان د حصے د دوو (ښځو) ده ، بيانوي الله

لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ؕ وَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۷۶﴾
تاسو ته (احکام د اصلاح د معاشرے) چي خطا نه شئ ، اوالله په هر يو شي باندي پوهه دے *

اياتها ١٢٠ سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوين ٥ نزول ١١٢ رکوعاتها ١٦

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ؕ اُحِلَّتْ
اے ايمان والو پوره والے اوکړئ په وعدو (احکامو د الله) باندي ، حلال کړے شوي دي

لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ غَيْرَ
ستاسو د پاره ځناور مګر هغه چي لوستلے شي په تاسو باندي مه (شئ)

سُورَةُ المَآئِدَةِ

ربط د سورة المائدة : (۱)سورة النساء کښې د تنظيم اهميت بيان شو نو دې سورت کښې هغه

مسئله (رد د نذر لغير الله) بيانيږي چې د هغې د پاره د تنظيم ضرورت دے .

(۲)هرکله چه سورة النساء کښې ئې امور مصلحه د معاشرے ذکر کړل نو دې سورت کښې امور مصلحه د طعام ذکر کيږي .

(۳)محکښې سورت کښې په خطاب عام (يا ايها الناس) باندے شروع وو نو دا سورت په خطاب خاص

(يا ايها الذين امنوا) باندې شروع کيږي ، يعنې التخصيص بعد التعميم .

امتيازات: (۱)دا سورت ممتاز دے په تفصيل د مسائل اربعو باندې : (۱)تحريمات الله . (۲) تحريمات العباد .

(۳)نذور الله . (٤) نذور العباد .

(۲) په بيان د حکم د سارق او سارقے باندې . (۳) په واقعے د هابيل او قابيل باندې .

دعوی : بيان د څلورو مسئلو .(بيان د مسائل اربعو) : (۱) تحريمات الله . (۲) تحريمات العباد . (۳)نذور الله. (٤) نذور العباد .

خلاصه:دا سورت لس حصې دے (۱)اوله حصه آيت ۱ نه تر آيت ٥ پورې . (۲)دويمه حصه آيت ٦ نه تر آيت ١١ پورې.

(۳) دريمه حصه آيت ۱۲ نه تر آيت ۱۹پورې. (٤)څلورمه حصه د آيت ۲۰ نه تر آيت ۲٦ پورې . (٥)پنځمه حصه آيت ۲۷

نه تر آيت ٤٠ پورې . (٦)شپږمه حصه آيت ٤١ نه تر آيت ٥٠ پورې. (۷)اووم حصه آيت ٥١ نه تر آيت ٥٨ پورې.

(۸)اتمه حصه آيت ٥٩ نه ترآيت ٦٦ پورې. (۹)نهمه حصه آيت ٦٧ نه تر آيت ٨٦ پورې. (۱۰)لسمه حصه آيت ۸۷ نه تر آخره پورې.

مُحِلِّي الصَّيْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَحْكُمُ

رواګڼرونکي د ښکار په داسې حال کښې چې يئ تاسو په احرام کښې ، يقينًا الله فيصله کئ

مَا يُرِيْدُ ① يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا

هغه چې اراده کئ * اے ايمـــان والو روا مه ګڼرئ

شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَ لَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَ لَا

بے عزتي د نښو د (دين د) الله او نه د مياشتو د عزت او نه

الْهَدْيَ وَ لَا الْقَلَآئِدَ وَ لَآ اٰمِّيْنَ الْبَيْتَ

د قرباني او نه ده امبيلونو والا قرباني، او نه د قصد کونکو د بيت الله

الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ

شريف چې لټئ دوی فضل د طرفه د رب خپل نه

وَ رِضْوَانًا ؕ وَ اِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَ لَا

او رضامنتيا ، او کله چې اوځئ تاسو احرام نه نو ښکار کولے شئ، او

يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ

باعث نه کي تاسو لره بغض د يو قوم دا چې بند کړي ئې وئ تاسو د

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ وَ تَعَاوَنُوْا

مسجد حرام نه دا چې زياتے اوکئ تاسو، او امداد کوئ د يو بل

عَلَى الْبِرِّ وَ التَّقْوٰى ۖ وَ لَا تَعَاوَنُوْا عَلَى

په نيکئ (خورولو د توحيد) او د پرهيزګارئ (سنت)، او امداد مه کوئ د يو بل په (خورولو)

الْاِثْمِ وَ الْعُدْوَانِ ۖ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ

ګناه (شرک) او زياتي (بدعت)، او اويرېږي د الله نه ، يقينًا

اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ② حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ

الله سخت عذاب والا دے * حرام کړے شوے دے په تاسو باندې

الْمَيْتَةُ وَ الدَّمُ وَ لَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَ مَآ اُهِلَّ

(خوراک د) مردارے او وینه او غوښه د خنزیر او هغه کلمه چې آواز اوکړے شي

لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَ الْمُنْخَنِقَةُ وَ الْمَوْقُوْذَةُ

بغیر د نوم د الله نه په هغې باندې او خپې کړے شوے او وهلے شوے (تر مرګه پورې)

وَ الْمُتَرَدِّيَةُ وَ النَّطِيْحَةُ وَ مَآ اَكَلَ السَّبُعُ

او راغښتے شوے (د غر نه) او په ښکر وهلے شوے او هغه چې خوړلے وي (د هغې نه) درندګانو

اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ قف وَ مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ

مګر هغه چې تاسو پرې بسم الله اوایئ ، او هغه چې حلال کړے شي په درګاهونو باندې

وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ط ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ط

او دا چې قسمت معلوموئ تاسو په غشو باندې ، دا کارونه پلیت دي ،

اَلْيَوْمَ يَىِٕسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ

دا ساعت نا امیده شوي دي هغه کسان چې کفر ئې کړے دے د دین ستاسو نه

فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَ اخْشَوْنِ ط اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ

نو مه یریږئ د دوی نه او اویریږئ زما نه ، دا ساعت پوره که ما

لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ

د پاره ستاسو دین ستاسو او پوره کړل ما په تاسو باندې نعمتونه خپل

وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ط فَمَنِ

او خوښ مے که تاسو لره اسلام دین ، نو خوک چې

اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ لا

محتاج شو په حالت د لوږه کښې چې نه وي اوریدونکے ګناه ته

فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣﴾ يَسْـَٔلُوْنَكَ مَا ذَآ

پس یقینًا الله ښښونکے مهربان دے * دوی تپوس کوئ ستا نه څه شے

اُحِلَّ لَهُمْ ؕ قُلْ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۙ

روا دے دوی لره ، اووایه روا دي تاسو لره پاک څیزونه

وَ مَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِیْنَ

او هغه چې تعلیم ورکوئ تاسو ښکاریانو (سپو) ته په داسي حال کښې چې مالکان یئ تاسو د دوی

تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ز فَكُلُوْا مِمَّآ

تعلیم ورکوئ تاسو دوی ته د هغه نه چې ښودنه کړے ده تاسو ته الله ، نو خورئ د هغه نه

اَمْسَكْنَ عَلَیْكُمْ وَ اذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَیْهِ ص

چې اوساتي دوی ستاسو د پاره او یادوئ تاسو نوم د الله په هغې باندي ،

وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِیْعُ الْحِسَابِ ۝٤

او اویریږئ د الله نه ، یقینًا الله زر حساب کونکے دے *

اَلْیَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّیِّبٰتُ ؕ وَ طَعَامُ الَّذِیْنَ

دا ساعت حلال کړے شوي دي د پاره ستاسو پاک څیزونه ، او خوراک د هغه کسانو

اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ص وَ طَعَامُكُمْ حِلٌّ

چې ورکړے شوے دے ورته کتاب روا دے ستاسو د پاره ، او خوراک ستاسو روا دے

لَّهُمْ ز وَ الْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ

هغوي لره ، او پاکدامنے د مومنانو (ښځو) نه

وَ الْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

او پاکدامنے د هغه کسانو نه چې ورکړے شوے دے ورته کتاب

مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَیْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ

مخکښې ستاسو نه کله چې ورکړئ تاسو هغوي ته مهرونه د هغوي

مُحْصِنِیْنَ غَیْرَ مُسٰفِحِیْنَ وَ لَا مُتَّخِذِیْٓ

(شئ) پاکدامن مه (شئ) بد لمن او مه شئ

اَخۡدَانٍ ؕ وَ مَنۡ یَّکۡفُرۡ بِالۡاِیۡمَانِ فَقَدۡ

یاربانشړ ، او چا چي کفر اوکه پس د ایمان نه نو تحقیق سره

حَبِطَ عَمَلُهٗ ۫ وَ هُوَ فِی الۡاٰخِرَةِ مِنَ

برباد شو عمل د ده ، او وي به دے په آخرت کښي د

الۡخٰسِرِیۡنَ ٪۵ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا اِذَا

تاوانیانو نه اے ایمان والو کله چي

قُمۡتُمۡ اِلَی الصَّلٰوةِ فَاغۡسِلُوۡا وُجُوۡهَكُمۡ

اودریږئ تاسو مونځ ته نو اوینزئ مخونه خپل

وَ اَیۡدِیَكُمۡ اِلَی الۡمَرَافِقِ وَ امۡسَحُوۡا

او لاسونه خپل سره د څنګلو او مسح اوکړئ

بِرُءُوۡسِكُمۡ وَ اَرۡجُلَكُمۡ اِلَی الۡكَعۡبَیۡنِ ؕ وَ

په سرونو خپلو باندي او (اووینځئ) خپلے خپے سره د کیتو ، او

اِنۡ كُنۡتُمۡ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوۡا ؕ وَ اِنۡ كُنۡتُمۡ

که یئ تاسو په حالت د جنابت کښي نو ځان به پاک کئ (غسل اوکئ)، او که یئ تاسو

مَّرۡضٰۤی اَوۡ عَلٰی سَفَرٍ اَوۡ جَآءَ اَحَدٌ مِّنۡكُمۡ

بیماران یا په سفر باندي یا راشي یو تن ستاسو نه

مِّنَ الۡغَآئِطِ اَوۡ لٰمَسۡتُمُ النِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُوۡا

د لویو بولو نه یا کوروالے کړے وي تاسو د ښځو سره او ونه موندي تاسو

مَآءً فَتَیَمَّمُوۡا صَعِیۡدًا طَیِّبًا فَامۡسَحُوۡا

اوبه نو تیمم اوکړئ په خاوره پاکه باندي نو مسح اوکړئ

بِوُجُوۡهِكُمۡ وَ اَیۡدِیۡكُمۡ مِّنۡهُ ؕ مَا یُرِیۡدُ اللّٰهُ

په مخونو خپلو او په لاسونو خپلو د دي خاورې نه ، اراده نه کړي الله

لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ وَّ لٰكِنْ يُّرِيْدُ
چې اوګرځي په تاسو باندې څه تنګسيا ليکن (اراده کړي)

لِيُطَهِّرَكُمْ وَ لِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ
چې پاک کې تاسو لره او چې پوره کې نعمت خپل په تاسو باندې خامخا چې تاسو

تَشْكُرُوْنَ ﴿٦﴾ وَ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ
شکر اوباسئ * او ياد کړئ نعمت د الله په تاسو باندې

وَ مِيْثَاقَهُ الَّذِيْ وَاثَقَكُمْ بِهٖۤ ۙ اِذْ قُلْتُمْ
او وعده د الله هغه چې ټينګ والې ئې کړے دے تاسو سره په هغې باندې کله چې اوئيل تاسو:

سَمِعْنَا وَ اَطَعْنَا ؗ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
واوريده مونږه او تابعداري کوو مونږه، او اوويريږئ د الله نه، يقينًا الله

عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٧﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ
پوهه دے په رازونو د سينو باندې * اے

اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ
مومنانو شئ تاسو کلک اودريدونکي د پاره (د رضاء) د الله ګواهي کونکي

بِالْقِسْطِ ؗ وَ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ
په انصاف، او باعث دې نه کې تاسو لره بغض د يو قوم

عَلٰۤى اَلَّا تَعْدِلُوْا ؕ اِعْدِلُوْا ۫ هُوَ اَقْرَبُ
په دې خبره چې تاسو انصاف اونه کړئ، انصاف کوئ، دا ډيره نزدے ده

لِلتَّقْوٰى ؗ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا
پرهيزګارۍ ته، او ويريږئ د الله نه، يقينًا الله خبردار دے په هغه چې

تَعْمَلُوْنَ ﴿٨﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا
تاسو ئې کوئ * وعده کړے ده الله هغه کسانو سره چې ايمان ئې راوړے دے او عمل ئې کړے دے

الصّٰلِحٰتِ ۙ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٩﴾
نیک (په طریقه د پیغمبر) دوی لره ببښنه ده او اجر لوئي ۔

وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ
او هغه کسان چې کفر ئي اوکه او نسبت د دروغو ئي اوکه آیاتونو زمونږ ته دغه کسان

اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١٠﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا
جهنميان دي ۔ اے مــــومنانو

اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ
یاد کئ نعمت د الله په تاسو باندې کله چې قصد اوکه یو قوم

اَنْ يَّبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ
دا چې اوکده کې تاسو ته لاسونه خپل نو بند ئي کړل

اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَ عَلَى اللّٰهِ
لاسونه د هغوي ستاسو نه ، او اویریږئ د الله نه ، او په الله باندې

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١١﴾ وَ لَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ
خان دِ اوسپاري مـــومنان ۔ او خامخا تحقيق سره اغستے ده الله

مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَ بَعَثْنَا مِنْهُمُ
پخه وعده د بني اسرائيلو نه ، او جوړ کړي وو مونږ د دوی نه

اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ؕ وَ قَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ
دولس / ۱۲ سرداران ، او وئيلي وو الله : یقیناً زه

مَعَكُمْ ؕ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَيْتُمُ
تاسو سره یم ، که تاسو پابندي اوکړه د مونځ او ورکه تاسو

الزَّكٰوةَ وَ اٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَ عَزَّرْتُمُوْهُمْ
زکوة او ایمان راوړه تاسو په پیغمبرانو زما باندې او تائید اوکه تاسو د دي (پیغمبرانو)

ع ۲/۶

وَ اَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُكَفِّرَنَّ

او ورکول اوکړل تاسو الله ته ورکول ښائسته خامخا لري به کم زه

عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَ لَاُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ

ستاسو نه مصیبتونه ستاسو او خامخا داخل به کم تاسو لره داسي جنتونو ته

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ

چې بهيږي به لاندي د (اونو د) هغي نه ولے ، پس چا چې كفر اوكه

بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ

پس د دي ستاسو نه نو تحقيق سره دے گمراه شو د برابر

السَّبِيْلِ ⑫ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ

لارے نه ، پس په سبب د ماتولو د دوی وعدو خپلو لره

لَعَنّٰهُمْ وَ جَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً ۚ

په لعنت کړي وو مونږه دوی لره او گرځولي وو مونږه زړونه د دوی تک تور،

يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَ نَسُوْا

بدلیږ دوی الفاظو لره د خپلو معانو نه او هیره کړے ئي ده

حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۚ وَ لَا تَزَالُ تَطَّلِعُ

حصه د هغه نه چې پند ورکولے شو دوی ته په هغي باندي ، او همیشه به ئی ته چې خبريږي به

عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ

په یو ډلي خیانت کړي سره د دوی نه . مگر لـږ د دوی نه

فَاعْفُ عَنْهُمْ وَ اصْفَحْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

لري كه (د زړه نه مينه) د دوی او مخ واړوه ، يقينًا الله مينه کئ

الْمُحْسِنِيْنَ ⑬ وَ مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا

نیکانو سره ، او د هغه کسانو نه چې وائي : يقينًا مونږه

نَصٰرٰٓى اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَهُمۡ فَنَسُوۡا حَظًّا

نصارى يو اغستے وه مونږه پخه وعده د دوى نه نو هيره كړه دوى حصه

مِّمَّا ذُكِّرُوۡا بِهٖ ۚ فَاَغۡرَيۡنَا بَيۡنَهُمُ الۡعَدَاوَةَ

د هغه نه چې پند ورکولے شو دوى ته په هغې باندې، نو واچوله مونږه په مينځ د دوى كښې ښكاره دشمني

وَ الۡبَغۡضَآءَ اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ ؕ وَ سَوۡفَ

او پټه دشمني (ترفكني) تر ورځ تر قيامته پورے ، او زر دے چې

يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ بِمَا كَانُوۡا يَصۡنَعُوۡنَ ﴿۱۴﴾

خبر به ورکې دوى ته الله په هغه چې دوى كــول *

يٰۤاَهۡلَ الۡكِتٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُوۡلُنَا

اے اهل كتابو تحقيق سره راغلے دے تاسو ته پيغمبر زمونږ

يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيۡرًا مِّمَّا كُنۡتُمۡ تُخۡفُوۡنَ

بيانوئ تاسو ته ډير د هغه نه چې تاسو پـــټول

مِنَ الۡكِتٰبِ وَ يَعۡفُوۡا عَنۡ كَثِيۡرٍ ؕ قَدۡ

د كتاب نه او معافي كوئ د ډيرو نه، تحقيق سره

جَآءَكُمۡ مِّنَ اللّٰهِ نُوۡرٌ وَّ كِتٰبٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۵﴾

راغلې ده تاسو ته د طرفه د الله نه رڼا چې هغه كتاب دے ښـــكاره *

يَّهۡدِىۡ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضۡوَانَهٗ سُبُلَ

توفيق وركوئ په دې سره الله هغه چا ته چې تابعداري كوئ د رضامنتيا د هغه د لارو د

السَّلٰمِ وَ يُخۡرِجُهُمۡ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى

سلامتيا او راوباسي دوى لره د تيارو نه

النُّوۡرِ بِاِذۡنِهٖ وَ يَهۡدِيۡهِمۡ اِلٰى صِرَاطٍ

رڼا ته په حكم خپل او توفيق وركوئ دوى ته په طرف د لارے

مُّسْتَقِيْمٍ ﴿١٦﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ
نيغې * تحقيق سره كفر كړے دے هغه كسانو چې وائي دوی: يقينًا
اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ قُلْ فَمَنْ
الله هغه مسيح زوئے د مريم دے ، اووايه پس څوک دے
يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ
چې واکدار به شي د طرفه د الله نه د څه شي كه اراده اوكي چې هلاک كي
الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَ اُمَّهٗ وَ مَنْ فِي
مسيح زوئے د مريم او مور د هغه او هغه څوک چې په
الْاَرْضِ جَمِيْعًا ؕ وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ
زمكه كښې دي ټول ، او خاص الله لره بادشاهي د آسمانونو
وَالْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا ؕ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ
او د زمكے ده او هغه چې په مينځ د دي دواړو كښې دي ، پيدا كئ هغه چې اوغواړي ،
وَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾ وَ قَالَتِ
او الله په هر يو شي باندي قدرت والا دے * او وائي
الْيَهُوْدُ وَ النَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ
يهوديان او نصاري : مونږه دوستان د الله يو
وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ؕ
او محبوبان د هغه يو ، اووايه : نو ولے عذاب دركئ تاسو ته په ګناهونو ستاسو باندي ،
بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ يَغْفِرُ لِمَنْ
بلكه تاسو (عام) بندګان يئ د هغه چا نه چې پيدا كړي ئي دي ، ببښنه كئ هغه چا ته چې
يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ لِلّٰهِ مُلْكُ
خوښه ئي شي او عذاب وركئ هغه چا ته چې خوښه ئي شي ، او خاص الله لره بادشاهي د

السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ مَا بَيْنَهُمَا ۚ وَ اِلَيْهِ

آسمانونو او زمکے دہ او د هغه څه چې په مينځ د دي دواړو کښې دي ، او دي الله ته

الْمَصِيْرُ ﴿١٨﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ

ورتلل دي * اے اهل کتابو تحقيق سره راغلے دے تاسو ته

رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ

پيغمبر زمونږه بيان کړي تاسو ته پس د زمانے د انقطاع د انبياء (عليهم السلام) نه

اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْۢ بَشِيْرٍ وَّ لَا

دا چې او نه وايئ تاسو : چې نه وو راغلے مونږ ته څوک زيرے راکونکے او نه

نَذِيْرٍ ۚ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّ نَذِيْرٌ ؕ

يره راکونکے ، پس تحقيق سره راغے تاسو ته زيرے درکونکے او يره درکونکے ،

وَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ ع وَ اِذْ قَالَ

او الله په هر يو شي باندي قدرت والا دے * او کله چې اوئيل

ركوع ٤

مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

موسى (عليه السلام) خپل قوم ته : اے قومه زما ياد کړئ نعمتونه د الله

عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَ جَعَلَكُمْ

(چې کړے ئي دي) په تاسو باندي کله چې وے گرځول په تاسو کښې پيغمبران او وے گرځولئ تاسو

مُّلُوْكًا ۖۗ وَّ اٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا

بادشاهان ، او درئي کړل تاسو ته هغه (نعمتونه) چې نه ئي دے ورکړي يو تن ته

مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ

د مخلوقات نه * اے قومه زما دننه شئ زمکے

الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَ لَا

پاکے هغه زمکے ته چې مقرر کړے ده الله تاسو لره او مه

تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا

واپس کيږئ په شاګانو خپلو باندي ګينے اوبه ګرځئ تاسو

خٰسِرِيْنَ ﴿٢١﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا

تاوانيان * اوئيل دوی : اے موسی(عليه السلام) يقيناً په دي کښي

قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَ اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا

يو قوم دے زورآور ، او يقيناً مونږه چرې هم نه دننه کيږو دي ته

حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا

تر دي چي اوځي دوی د دي نه ، پس که اوتل دوی

مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾ قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ

د دي نه نو يقيناً مونږه دننه کيدونکي يو(ديته) * اوئيل دوو سړو د

الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا

هغه کسانو نه چي يريدل احسان کړے وو الله په دي دواړو باندي

ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ

دننه شئ په دوی باندي دروازے ته ، نو کله چي دننه شئ تاسو دي ته

فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ۵ وَ عَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ

نو يقيناً تاسو به شئ زورآور ، او خاص په الله باندي ځان اوسپارئ که

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٢٣﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا لَنْ

يئ تاسو مومنان * اوئيل دوی: اے موسی يقيناً مونږه چرې نه

نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ

دننه کيږو دي ته هيچرې تر څو چي وي دوی په دي کښي نو لاړ شه ته

وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿٢٤﴾ قَالَ

او رب ستا نو جنګ اوکړئ يقيناً مونږه دلته ناست يو * اوئيل

رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِيْ وَ اَخِيْ

(موسى عليه السلام) اے زما ربه يقينًا زه واكدار نه يم مگر د خپل ځان او د خپل رور

فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٥﴾

نو جدائي راولے په مينځ زمونږ كښې او په مينځ د قـــوم فاسقانو كښې *

قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ

اوئيل (الله) پس يقينًا دا (زمكه) بند كړے شوي ده په دوی باندې څلويښت /٤٠

سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ فَلَا تَاْسَ

كاله ، حيران او پريشان به وي په زمكه كښې ، نو مه غمژن كيږه ته

عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ وَ اتْلُ عَلَيْهِمْ

په قوم فاسقانو باندې * او اولوله په دوی باندې

نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا

خبر د دوو زامنو د آدم (عليه السلام) په رشتيا ، كله چې پيش كړه دې دواړو قرباني

فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا وَ لَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ

نو قبول كړے شوه د يو د دې دواړو نه او قبول نه كړے شوه د

الْاٰخَرِ ؕ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ

بل نه ، اوئيل (قابيل): خامخا وژنم به زه تا لره، اوئيل (هابيل) يقينًا قبلوي

اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾ لَئِنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ

الله د متقيانو نه * كه ته اوږد دے ما ته

يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ

لاس خپل دې د پاره چې اوژنے ما لره نه يم زه اوږدونكے لاس خپل

اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ

تا ته چې اوژنم تا لره ، يقينًا زه يريږم د الله نه

النصف

رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۸﴾ اِنِّیْۤ اُرِیْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ بِاِثْمِیْ
چې رب د مخلوقات دے * يقينًا زه اراده كوم دا چې ته راګير شي په ګناه (د وژلو) زما كښې

وَ اِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ
او په ارادي (د قتل) ستا كښې نو شي به ته د جهنميانو نه،

وَ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۹﴾ فَطَوَّعَتْ لَهٗ
او دا ده سزا د ظالمانو * نو ښائسته كه ده ته

نَفْسُهٗ قَتْلَ اَخِیْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ مِنَ
نفس د ده وژل د رور خپل نو وے وژه ده لره او اوګرځيد دے د

الْخٰسِرِیْنَ ﴿۳۰﴾ فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا یَّبْحَثُ
تاوانيانو نه * نو راوليږل الله (١) كارغه پنجے ئي وهلے

فِی الْاَرْضِ لِیُرِیَهٗ كَیْفَ یُوَارِیْ سَوْءَةَ
په زمكه كښې دي د پاره چې اوښائي ده ته چې څه رنګه پټ كي لاش د

اَخِیْهِ ؕ قَالَ یٰوَیْلَتٰۤی اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ
رور خپل ، اوئيل (قابيل) هائے افسوس دے ما لره آيا زه كمزورے شوم چې وے زه

مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِیَ سَوْءَةَ
په شان د دے كارغه نو ما به پټ كړے وو لاش

اَخِیْ ۚ فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِیْنَ ﴿۳۱﴾ ۚۛ مِنْ اَجْلِ
د رور خپل، نو اوګرځيده دے د پښيمانو نه * د وجې

ذٰلِكَ ۚۛ كَتَبْنَا عَلٰی بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْلَ اَنَّهٗ
د دي (واقعي) نه ، مقرر كړے وه مونږه په بني اسرائيلو باندي دا چه

مَنْ قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَیْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِی
چا اووژه يو تن بغير د څه جرم نه يا د فساد نه په

(١) دوه كارغان نو دواړو جنګ اوكړو نو يو كارغه بل اووژه.

معانقة ٥ وقف النبي صلى الله عليه وسلم

الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَ
زمکه کښي نو ګویا که اووژل ده خلق ټول ، او

مَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ
چا چي ژوندے که یو تن ګویا که ده ژوندي کړل خلق ټول ،

وَ لَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ۫ ثُمَّ
او تحقیق سره راغلي وو دوی ته پیغمبران زمونږ په واضحه دلائلو باندي بیا

اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ
یقیناً ډیر د دوی نه پس د دي نه په زمکه کښي

لَمُسْرِفُوْنَ ۝٣٢ اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ
خامخا زیاتے کونکي وو • یقیناً سزا د هغه کسانو چي خلاف کړي د حکم د

اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ يَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ
الله او د پیغمبر د هغه او کوشش کړي په زمکه کښي

فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ يُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ
د فساد دا چي اووژلے شي یا په سولي کړے شي یا پرے کړے شي

اَيْدِيْهِمْ وَ اَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا
لاسونه د دوی او خپے د دوی ادل بدل یا اوشړلے شي

مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا
د زمکے نه ، دا دوی د پاره رسوائي ده په دنیا کښي

وَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝٣٣ اِلَّا
او دوی له په آخرت کښي عذاب دے لوئي • مګر

الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ ۚ
هغه کسان چي توبه ئي اویسته مخکښي د دي نه چي لاس بر شي ستاسو په دوی باندي ،

فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣٤﴾ يٰٓاَيُّهَا

پوهه شئ چې يقينًا الله بښونکے رحم کونکے دے * اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ ابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ

مـــــومنانو اوبرېږئ د الله نه او اولټوئ ده ته

الْوَسِيْلَةَ وَ جَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ لَعَلَّكُمْ

نزديکت (په نيکو اعمالو) او جهاد کوئ په لاره د الله کښې خامخا تاسو

تُفْلِحُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ اَنَّ

به کامياب شئ * يقينًا هغه کسان چې کفر ئې کړے دے که (شي)

لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّ مِثْلَهٗ مَعَهٗ

دوی لره هغه چې په زمکه کښې دي ټول او په شان د دي نورهم ورسره شي

لِيَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَا

دي د پاره چې فديه کښې ورکي دي لره د عذاب د ورځے د قيامت نه

تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٣٦﴾

قبول به نه کړے شي د دوی نه ، او دوی لره عذاب دے دردناک *

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَ مَا هُمْ

دوی اراده کئ دا چې اوځي د اوور نه او نه به وي

بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا ۫ وَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٣٧﴾

وتونکي دوی د دے نه او دوی لره دے عذاب هميشه *

وَ السَّارِقُ وَ السَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا

او غلا کر سړے او غلا کره ښځه کټ کئ لاسونه د دي دواړو

جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ

دا بدله ده په سبب د هغه چې دے دواړو کړي دي عبرت ناکه سزا ده د طرفه د الله نه ، او الله

عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ

غالب حکمت والا دے ۔ پس چا چې توبه اوویسته پسـس د

ظُلْمِهٖ وَ اَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ

ظلم نه او درست ئي كه عمل خپل پس يقينًا الله مهرباني به اوكي په ده باندي ،

اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣٩﴾ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ

يقينًا الله ببښونكے رحم كونكے دے ۔ آيا ته نه پوهيږي چې يقينًا

اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ؕ يُعَذِّبُ

الله خاص ده لره بادشاهي د آسمانونو او د زمكو ده ، سزا وركئ

مَنْ يَّشَآءُ وَ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَ اللّٰهُ

چا ته ئي چې خوښه شي او ببښنه كئ چا ته ئي چې خوښه شي ، او الله

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤٠﴾ يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ

په هر يو شي باندي قدرت والا دے ۔ اے پيغمبره (عليه السلام)

لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ

غمژن نه كي تا لره هغه كسان چې تلوار كئ په كفر كښي

مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْۤا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَ لَمْ

د هغه كسانو نه چې وائي : ايمان راوړے دے مونږه (وائي دا) په خلو خپلو باندي او نه

تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ ۛۚ وَ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۛۚ

دے راوړے ايمان زړونو د دوی ، او د هغه كسانو نه چې يهوديان دي ،

سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ

غوږ كيخودونكي د پاره د دروغو (جوړولو په تا) غوږ كيخودونكي دي د پاره قوم بل

لَمْ يَاْتُوْكَ ؕ يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ مِنْۢ بَعْدِ

چې نه دي راغلي تا ته ، بدلئ الفاظو لره د خپلو

مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُوْلُوْنَ اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا
معانو نه ، وائي دوی : كه دركړے شي تاسو ته دا
فَخُذُوْهُ وَ اِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوْا ؕ وَ
نو عمل اوكئ پﻪ دے او كه در نه كړے شي تاسو ته دا نو ځان اوساتئ د هغې نه ، او
مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ
هغه څوك چې اراده اوكړي الله د شرمولو د هغه نو چرې به واكدار نه شي ته هغه لره د طرفه
اللّٰهِ شَيْئًا ؕ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ
د الله نه د څه شي ، دغه هغه كسان دي چې اراده نه ده كړے الله
اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا
چې پاك كړي زړونه د دوی ، دوی لره ده په دنيا كښې
خِزْيٌ ۚۖ وَّ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ
رسوائي ، او دوی لره دے په آخرت كښې عذاب
عَظِيْمٌ ﴿۴۱﴾ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ
لوئي * غوږ كيخودنكي دي د پاره د دروغ (جوړولو په تا) ډير خوړونكي دي
لِلسُّحْتِ ؕ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ
د حرامو ، نو كه راشي دوی تا ته نو فيصله اوكه په مينځ د دوی كښې
اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَ اِنْ تُعْرِضْ
يا مخ واړوه د دوی نه ، او كه ته مخ اړے
عَنْهُمْ فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْئًا ؕ وَ اِنْ حَكَمْتَ
د دوی نه نو هيڅ كله ضرر نه شي رسولے تا ته هيڅ شے ، او كه ته فيصله كے
فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ
نو فيصله اوكه په مينځ د دوی كښې په انــــــصاف ، يقينًا الله مينه كئ

الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَ كَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ وَ عِنْدَهُمُ

انصاف کوونکو سره * او څه رنګه به فیصله کن اوګرځئ دوی تا لره او دوی سره

التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ

تورات دے په هغې کښې فیصله د الله ده بیا اوړي دوی

بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَ مَاۤ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٣﴾

پس د دے نه ، او نه دي دغه کسان مومنان *

اِنَّاۤ اَنْزَلْنَا التَّوْرٰىةَ فِيْهَا هُدًى وَّ نُوْرٌ ۚ

یقینًا مونږه نازل کړے وو تورات په دي کښې هدایت او رڼرا وه ،

يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا

فیصله به کوله په دي باندي پیغمبرانو هغه کسانو چي غاړه ئي کیخودے وه

لِلَّذِيْنَ هَادُوْا وَ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَ الْاَحْبَارُ

د پاره د هغه کسانو چي یهودیان دی او خدائي خلقو او مُلیانو

بِمَا اسْتُحْفِظُوْا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ وَ كَانُوْا

د هغه وجي نه چي دوی نګهبان ګرځولے شوي وو په کتاب د الله او وو دوی

عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ

په هغې باندي پوهه / ګواهان ، نو مه یربرئ تاسو د خلقو نه

وَاخْشَوْنِ وَ لَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ

او اویربرئ زما نه او مه غوره کوئ په بدله د آیاتونو زما کښې دا دنیا لره ،

وَ مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ

او چا چي فیصله او نه کړه په هغه چي نازل کړے دے الله نو دغه کسان

هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَ كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَاۤ

هم دوی دي کافــــران * او مقرر کړے وو مونږ په دوی باندي په دے (تورات) کښې

اَنَّ النَّفۡسَ بِالنَّفۡسِ ۙ وَ الۡعَيۡنَ بِالۡعَيۡنِ
چې يقينًا نفس په بدله د نفس كښې دے او سترګه په مقابله د سترګه كښې ده

وَ الۡاَنۡفَ بِالۡاَنۡفِ وَ الۡاُذُنَ بِالۡاُذُنِ
او پوزه په مقابله د پوزه كښې ده او غوږ په بدله د غوږ كښې دے

وَ السِّنَّ بِالسِّنِّ ۙ وَ الۡجُرُوۡحَ قِصَاصٌ ؕ
او غاښ په بدله د غاښ كښې دے او زخمونه د بدلے دي ،

فَمَنۡ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ؕ وَ مَنۡ
پس چا چې خيرات اوكه په دي (بدلے نه اغستو) نو دا كفاره د ده(د ګناهونو)ده ، او چاچې

لَّمۡ يَحۡكُمۡ بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ
فيصله او نه كړه په هغه چې نازل كړے دے الله نو دغه كسان هم دوی دي

الظّٰلِمُوۡنَ ۝٤٥ وَ قَفَّيۡنَا عَلٰۤى اٰثَارِهِمۡ
ظالمان * او وروستے كه موږه په نښو د دوی باندي

بِعِيۡسَى ابۡنِ مَرۡيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ
عيسى (عليه السلام) زوئے د بي بي مريم تصديق كونكے د هغه (كتاب) چې مخكښې د

يَدَيۡهِ مِنَ التَّوۡرٰىةِ ۖ وَ اٰتَيۡنٰهُ الۡاِنۡجِيۡلَ
ده نه وو يعني تورات او وركړے وو موږه ده ته انجيـــل

فِيۡهِ هُدًى وَّ نُوۡرٌ ۙ وَّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيۡنَ
په دے كښې هدايت او رڼرا وه او تصديق كونكے د هغه كتاب چې مخكښې د

يَدَيۡهِ مِنَ التَّوۡرٰىةِ وَ هُدًى وَّ مَوۡعِظَةً
دي نه وو يعني تورات ع او هدايت او پند

لِّلۡمُتَّقِيۡنَ ؕ ۝٤٦ وَ لۡيَحۡكُمۡ اَهۡلُ الۡاِنۡجِيۡلِ بِمَاۤ
د پاره د متقيانو * او پكار وه چې فيصله كوله انجيـــل واله په هغه

أَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ۭ وَ مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ
چي رالیږلے وو الله په دي کښي ، او چا چي فیصله اونه کړه په هغه چي

أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾
رالیږلے دے الله نو دغه کسان هم دوی دي فاسقان •

وَ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا
او رالیږلے دے مونږه تا ته کتاب د پاره د ښکاره کولو د حق تصدیق کونکے

لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَ مُهَيْمِنًا
د هغه (کتابونو) چي مخکښي د دي نه يعني کتابونه او نګهبان دے په

عَلَيْهِ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ وَ لَا
هغې (کتب سابقو) باندي نو فیصله کوه په مینځ د دوی کښي په هغه چي رالیږلے دے الله او

تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ۭ
تابعداري مه کوه د خواهشاتو د دوی پس د هغه نه چي راغلے تا ته حـــق ،

لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّ مِنْهَاجًا ۭ
د پاره د هر یو (امت) ګرځولے دے مونږه ستاسو نه صاف دین او واضحه لار ،

وَ لَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً
او که خوښه وے د الله خامخا ګرځولے به ئي وئ تاسو تولګے یو (په دین یو)

وَّ لٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰكُمْ فَاسْتَبِقُوا
لیکن دي د پاره چي امتحان اوکي په تاسو باندي په هغه کښي چي درکړي ئي دي تاسو ته نو رامنډے کئ

الْخَيْرٰتِ ۭ إِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا
نیکو ته ، الله ته واپسي ستاسو ده د تولو

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَ
نو خبر به کي تاسو په هغه چي تاسو په هغې کښي اختلاف کوو • او

اَنِ احۡكُمۡ بَيۡنَهُمۡ بِمَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَ لَا

دا چې فيصله كوه په مينځ د دوى كښې په هغه (كتاب) چې رالېږلے دے الله او مه

تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ وَ احۡذَرۡهُمۡ اَنۡ يَّفۡتِنُوۡكَ

تابع كېږه د خواهشاتو د دوى او اوېرېږه د دوى نه چې وانه ړئ دوى تا لره

عَنۡۢ بَعۡضِ مَآ اَنۡزَلَ اللّٰهُ اِلَيۡكَ ؕ فَاِنۡ

د بعضے هغه نه چې رالېږلے دے الله تا ته ، نو كه

تَوَلَّوۡا فَاعۡلَمۡ اَنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ يُّصِيۡبَهُمۡ

دوى واوړېدل نو پوهه شه چې يقينًا اراده كړې الله دا چې اورسي دوى ته (عذاب)

بِبَعۡضِ ذُنُوۡبِهِمۡ ؕ وَ اِنَّ كَثِيۡرًا مِّنَ النَّاسِ

په سبب د بعضے گناهونو د دوى ، او يقينًا ډير د خلقو نه

لَفٰسِقُوۡنَ ﴿۴۹﴾ اَفَحُكۡمَ الۡجَاهِلِيَّةِ يَبۡغُوۡنَ ؕ

خامخا فاسقان دي * آيا فيصله د جاهليت دوى لټي ،

وَ مَنۡ اَحۡسَنُ مِنَ اللّٰهِ حُكۡمًا لِّقَوۡمٍ

او څوك دے ډير ښائسته د الله نه په فيصلے كښې د پاره د هغه قوم

يُّوۡقِنُوۡنَ ﴿۵۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَتَّخِذُوا

چې هغوي يقين ساتي * اے مـــــومنانو مه نيسئ

الۡيَهُوۡدَ وَ النَّصٰرٰۤى اَوۡلِيَآءَ ۘ بَعۡضُهُمۡ اَوۡلِيَآءُ

يهوديان او نصاري دوستان ، بعضے د دوى دوستان د

بَعۡضٍ ؕ وَ مَنۡ يَّتَوَلَّهُمۡ مِّنۡكُمۡ فَاِنَّهٗ مِنۡهُمۡ ؕ

بعضو دي ، او چا چې دوستي اوساتله دوى سره د ستاسو نه نو يقينًا دے د دوى نه دے ،

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۵۱﴾

يقينًا الله توفيق نه وركړې قوم ظالمانو ته *

فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ
نو وينے به ته هغه کسانو لره چي په زړونو د هغوي کښې مرض (د نفاق) دے
يُّسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰى اَنْ
تلوار کړئ په (دوستئ د) دوی کښې وائي دوی : يريږو مونږه دا چي
تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ ؕ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ
اوبه رسيږي مونږه ته مصيبت ، نو زر دے الله دا چي راتلله به اوکي
بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا
به فتح يا په حکم سره د خپل طرف نه نو اوبه ګرځي دوی
عَلٰى مَآ اَسَرُّوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ ﴿٥٢﴾ وَ
په هغه چي دوی پټ کړي دي په زړونو خپلو کښې پښيمانه * او
يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَهٰۤؤُلَآءِ الَّذِيْنَ
وائي هغه کسان چي ايمان ئي راوړے دے : آيا دا دي هغه کسان
اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ ۙ اِنَّهُمْ
چي قسمونه به ئي خوړل په الله باندي پاخه قسمونه خپل چي يقيناً دوی
لَمَعَكُمْ ؕ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَاَصْبَحُوْا
خامخا تاسو سره دي ، برباد دي عملونه د دوی نو اوګرځيدل دوی
خٰسِرِيْنَ ﴿٥٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ
تاوانيان * اے مومـــنانو څوک چي
يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِي
واوړيده ستاسو نه د دين خپل نه نو زر دے چي رابه ولي
اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ وَ يُحِبُّوْنَهٗ ۙ اَذِلَّةٍ
الله داسي قوم چي مينه به کړئ (الله) هغوي سره او هغوي به مينه کړئ ده (الله) سره ، نرمي کونکي به وي

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ز
په مومنانو باندي سختي كونكي به ئي په كافرانو باندي

يُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ لَا يَخَافُوْنَ
جهاد به كئ په لاره د الله كښي او نه به يريږي

لَوْمَةَ لَآئِمٍ ط ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ
د ملامتيا د ملامته كونكي نه ، دا فضل د الله دے وركئ دے لره

مَنْ يَّشَآءُ ط وَ اللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٥٤﴾ اِنَّمَا
چا له ئي چي خوښه شي ، او الله فراختيا راوستونكي پوهه دے * يقينًا

وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ
دوست ستاسو الله او پيغمبر د هغه دے او هغه كسان چي ايمان ئي راوړے دے هغه كسان

يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَ هُمْ
چي پابندي كئ د مونځ او وركئ زكوة او دوى

رٰكِعُوْنَ ﴿٥٥﴾ وَ مَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ
ركوع كونكي وي (الله ته) * او چا چي دوستي اوساتله الله او پيغمبر د هغه سره

وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ
او د هغه كسانو سره چي ايمان ئي راوړے دے نو يقينًا ډله د الله هم دوى دي

الْغٰلِبُوْنَ ﴿٥٦﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا ع ٨ / ٩ / ١٢
زورآور * اے مومنانو مه نيسئ

الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّ لَعِبًا مِّنَ
هغه كسان چي نيولے ئي دے دين ستاسو په توقه او په لوبو باندي د

الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ الْكُفَّارَ
هغه كسانو نه چي وركړے شوے دے ورته كتاب مخكښي ستاسو نه او كافران

أَوْلِيَآءَ ۚ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾

دوستان ، او اوويريږئ د الله نه كه يئ تاسو مومنان *

وَ اِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا

او كله چې آواز كوئ تاسو مـــونځ ته نيسي دوى هغې لره توقي

وَّ لَعِبًا ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾

او لوبې ، دا د دے وجې نه يقينًا دوى دي يو قوم چې نه پـــوهيږي *

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ

اووايه : اے اهل كتابو تاسو بد نه گنړئ زمونږ نه

اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَ مَآ

مگر دا چې ايمان راوړے دے مونږه په الله او په هغه (كتاب) چې نازل كړے شوے دے مونږ ته او په هغه

اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَ اَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٥٩﴾

چې نازل كړے شي دي پخوا ، او يقينًا اكثر ستاسو نه فاسقان دي *

قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً

اووايه : آيا خبركم تاسو په بد تر سره د دے نه د سزا

عِنْدَ اللّٰهِ ؕ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَ غَضِبَ عَلَيْهِ

په نزد د الله ، هغه څوک چې په لعنت كړے دے هغه لره الله او غضب ئې كړے دے په هغه

وَ جَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَ الْخَنَازِيْرَ وَ عَبَدَ

او كرځولي ئې دي د دوى نه شادوگان او خنزيران او بندگي ئې كړے ده د

الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّ اَضَلُّ عَنْ

غير الله ، دغه كسان بد ترے درجے والا دي او ډير گمراه دي د

سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾ وَ اِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

صحيح لارے نه * او كله چې راشي دوى تاسو ته وائي دوى ايمان راوړے دے مونږ

وَ قَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَ هُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ط

او په تحقیق سره دوی، دننه شوي دي سره د کفر او تحقیق سره دوی، وتلي دي سره د کفر،

وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَ تَرٰى

او الله پوهه دے په هغه چې دوی، پټول * او وینے به ته

كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ فِي الْاِثْمِ

ډیر د دوی نه چې تلوار کئ په گناه

وَ الْعُدْوَانِ وَ اَكْلِهِمُ السُّحْتَ ط لَبِئْسَ مَا

او زیاتي کنبي او په خوړلو د دوی، مال د حرامو کنبي، ډیر بد دے هغه چې

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾ لَوْ لَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ

دوی، کول * ولے نه منع کول دوی، لره حق پرستو

وَ الْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَ اَكْلِهِمُ

او علماء د هغه وینا د دوی، د گناه (شرک) نه او د خوراک د دوی،

السُّحْتَ ط لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾

د حرامو نه ، خامخا بد دے هغه چې دوی، جوړول *

وَ قَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ط غُلَّتْ

او وائي یهودیان : لاس د الله بند دي (د خیر نه)، بند کړے شوي دي

اَيْدِيْهِمْ وَ لُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا م بَلْ يَدٰهُ

لاسونه د دوی، او په لعنت کړے شوي دوی، په سبب د هغه چې دوی، وئیلي دي، بلکه لاسونه د الله

مَبْسُوْطَتٰنِ لا يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ط

پراخه دي خرج کئ څه رنګه ئي چې خوښه شي،

وَ لَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ

او خامخا زیات به کي ډیرو لره د دوی، نه هغه (کتاب) چې نازل کړے شوے دے تا ته

وقف لازم

مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّ كُفْرًا ؕ وَ اَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ

د طرفه د رب ستا نه سرکشي او کفر ، او اوغورځوله مونږه په مینځ د دوی کښي

الْعَدَاوَةَ وَ الْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ

دشمني او ترفکئي تر ورځ تر قیامته پورے ،

كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ

هر کله چي بل کي دوی اوور د پاره د جنګ مړ کي هغي لره الله

وَ يَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا ؕ وَ اللّٰهُ لَا

او کوشش کئ دوی په زمکه کښي د فساد ، او الله

يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَ لَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ

مینه نه کښي د فساد کونکو سره * او که اهل کتابو

اٰمَنُوْا وَ اتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

ایمان راوړے وو او ځان ئې بچ کړے وو (مناهیونه) خامخا لرے کړے به وو مونږ دوی نه مصیبتونه د دوی

وَ لَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٦٥﴾ وَ لَوْ اَنَّهُمْ

او خامخا داخل کړے به وو مونږه دوی لره جنتونو د نعمتونو ته * او که دوی

اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِيْلَ وَ مَآ اُنْزِلَ

جاري کړي وو (په ځان باندي) تورات او انجیل او هغه (کتاب) چي رالیږلے شوے دے

اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ

دوی ته د طرفه د رب د دوی نه خامخا دوی به خوراک کړے وو د پاسه د دوی نه

وَ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ اُمَّةٌ

او د لاندے د خپو د دوی نه ، د دوی نه یو ټولګے دے

مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَ كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٦﴾ ع

درمیانه ، او ډیر د دوی نه بد دے هغه چي دوی کئ *

يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ

اے پیغمبره (علیه السلام) اورسوه هغه چې رالیږلے شوے دے تا ته د طرفه د

رَّبِّكَ ؕ وَ اِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ

رب ستا نه، او كه او نه كه تا دا كار نو اونه رسو تا

رِسَالَتَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ

پیغام د الله ، او الله به بچ كړي تا لره د خلقو نه،

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِی الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۷﴾

یقینًا الله توفیق نه وركوي قوم كافرانو ته *

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَیْءٍ

اووایه : اے اهل كتابو نه یئ تاسو په هیڅ دین باندې

حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِيْلَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ

تر دے چې جاري كړئ تاسو (احكام د) تورات او د انجیل او د هغه چې رالیږلے شوے دے

اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَ لَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ

تاسو ته د طرفه د رب ستاسو نه، او خامخا زیات به كړي ډیرو لره د دوی نه

مَّاۤ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّ

هغه (كتاب) چې رالیږلے شوے دے تا ته د طرفه د رب ستا نه سركشي او

كُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۸﴾

كفر ، نو مه غمژنیږه په قوم كافرانو باندې *

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ الَّذِيْنَ هَادُوْا وَ

یقینًا هغه كسان چې ایمان ئې راوړے دے او هغه كسان چې یهودیان او

الصّٰبِـُٔوْنَ وَ النَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

مجوس او نصاری دي شي د هغه چا نه چې ایمان ئې راوړے دے په الله باندې

وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَ عَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ

او په ورځ د آخرت باندي او عمل ئي اوکه نيک نو نه به وي يره

عَلَيْهِمْ وَ لَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَقَدْ اَخَذْنَا

په دوی باندي او نه به دوی غمژن شي * په تحقيق سره اغستے وه مونږه

مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ

پخه وعده د بني اسرائيـــــلو نه او رالیږلي وو مونږه دوی ته

رُسُلًا ؕ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى

پيغمبران ، هر کله چي راغے دوی ته پيغمبر په هغه چي نه خوښو

اَنْفُسُهُمْ ۙ فَرِيْقًا كَذَّبُوْا وَ فَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ﴿٧٠﴾

نفسونو د دوی، نو يوے ډلے(د پيغمبرانو)ته نسبت د درغو کو دوی او بله ډله(د پيغمبرانو)وژله دوی *

وَ حَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَ صَمُّوْا

او دوی گمان اوکه دا چي نه به شي انجام د انکار د دوی سبب د عذاب نو دوی ړانده شو او کانړه شو

ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا وَ صَمُّوْا

بيا مهرباني اوکړه الله په دوی باندي بيا دوی ړانده شو او کانړه شو

كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ؕ وَ اللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٧١﴾

(او دا وو) ډير د دوی نه ، او الله ليدونکے دے د هغه چي دوی ئي کړي *

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ

په تحقيق سره کفر کړے دے هغه کسانو چي وائي دوی: يقينًا الله هغه دے مسيح

ابْنُ مَرْيَمَ ؕ وَ قَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ

زوئے د مريم ، او وائي مسيح (عيسى عليه السلام): اے بني

اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَ رَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ

اسرائيلو عبادت اوکړئ د الله چي رب زما او رب ستاسو ، يقينًا شان دا دے

مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ

چا چې شرک اوکه د الله سره نو تحقيق سره حرام کړے دے الله په ده باندې

الْجَنَّةَ وَ مَاْوٰىهُ النَّارُ ؕ وَ مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ

جنت او ټکانه د ده اوور دے ، او نشته د پاره د ظالمانو څوک

اَنْصَارٍ ﴿۷۲﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ

امداديان * تحقيق سره کفر کړے دے هغه کسانو چې وائي : يقينًا الله

ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَ مَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ

دريم د دريو دے ، او نشته څوک حاجت روا مگر حاجت روا يکې يو ،

وَ اِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ

او که منع نه شو دوی د هغه نه چې وائي ئې دوی خامخا اوبه رسيږي

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۳﴾ اَفَلَا

هغه کسانو ته چې کفر ئې کړے دے د دوی نه عذاب دردناک * نو ولے

يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَ يَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَ اللّٰهُ

دوی توبه نه اوباسي الله ته او بښنه نه غواړي د الله نه ، او الله

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۷۴﴾ مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ

ښښونکے رحم کونکے دے * نه دے مسيح زوئے د مريم

اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ

مگر پيغمبر ، تحقيق سره تير شوي دي مخکښې د ده نه پيغمبران ،

وَ اُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ

او مور د ده رشتينے وه ، وو دا دواړه چې خوړه به ئې خوراک ،

اُنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ

اوګوره څه رنګه بيانو مونږه دوی ته دلائل بيا اوګوره

اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٧٥﴾ قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ
كوم طرف ته دوى اړولے شي * اووايه : آيا عبادت كوئ تاسو

دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّ لَا
سيوا د الله نه د هغه چي ندي واكدار ستاسو د پاره د ضرر او نه د

نَفْعًا ؕ وَ اللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٧٦﴾ قُلْ
نفع ، او الله هم دے اوريدونكے پوهه * اووايه :

يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ
اے اهـــل كتابو بدعت مه كوئ په دين خپل كښي نا

الْحَقِّ وَ لَا تَتَّبِعُوْۤا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا
مناسب او تابعداري مه كوئ د خواهشاتو د هغه قوم چي تحقيق سره گمراه شوي دي

مِنْ قَبْلُ وَ اَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّ ضَلُّوْا عَنْ
پخـــوا او گمراه كړي ئي دي ډيـــر او گمراه شوي دي د

سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٧٧﴾ لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا
برابر لارے نه * په لعنت كړے شوي دي هغه كسان چي كفر ئي كړے دے

مِنْۢ بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ
د بني اسرائيلو نه په ژبه د داود (عليه السلام)

وَ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ
او د عيسى(عليه السلام) زوئے د مريم ، دا په سبب د هغه چي دوى نافرماني كړے وه او

كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿٧٨﴾ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ
دوى زياتے كو * دوى نه منع كول (خلقو لره) د

مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٩﴾
ناروا نه چي كول هغي لره (خلقو)، خامخا بد دے هغه چي دوى كول *

تَرٰی كَثِیْرًا مِّنْهُمْ یَتَوَلَّوْنَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا ؕ
وینې به ته ډیر د دوی نه چې دوستي به ساتي د هغه کسانو سره چې کفر ئې کړے دے،
لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ
بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهٰهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ يُحِلُّ
په خو كارونو سره او منع كې دوى لره د ناروا نه او اعلان د روا والي

لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَ يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ
دوى ته د پاكو او بيانې حراموالے دوى ته د پليتو

وَ يَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ وَ الْاَغْلٰلَ الَّتِيْ
او لرې كې دوى نه بوجونه د دوى او طوقونه هغه

كَانَتْ عَلَيْهِمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَ عَزَّرُوْهُ
چې وو به په دوى باندې، پس هغه كسان چې ايمان ئې راوړ په دهٔ او تائيد ئې اوكه د ده (پيغمبر)

وَ نَصَرُوْهُ وَ اتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ
او امداد ئې اوكه د ده او تابعداري ئې اوكړه د رڼړا هغه چې نازل شوې ده

مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٥٧﴾ قُلْ
ده د سره، دغه كسان هم دوى دي كامياب ٭ اووايه

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ
اے خلقو يقينًا زه پيغمبر د الله يم تاسو

جَمِيْعَا اِۨلَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ج
تولو ته (١) هغه ذات چې هغه لره بادشاهي د اسمـــــانونو او د زمكو ده،

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَ يُمِيْتُ ص فَاٰمِنُوْا
نشتے بل حاجت پوره كونكے مگر دغه الله ژوندي كول او مړه كول كې، پس ايمان وړئ

بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ
په الله او په ليږلے شوي د هغه خبر وركونكي پاكباز هغه (پيغمبر)

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَ كَلِمٰتِهٖ وَ اتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ
چې ايمان راوړي په الله او په حكمونو د الله او تابعداري اوكړئ د ده خامخا تاسو به

ع ١٩

(١) [illegible]

تَهْتَدُوْنَ ﴿١٥٨﴾ وَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ

لار اومومئ • او د قوم د موسى (عليه السلام) نه يو تولګے وو

يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَ بِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿١٥٩﴾

چي بيان ئي کو د حق او په دي سره ئي برابرول (خلق) •

وَ قَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا ؕ

او تقسيم کړي وو مونږ دوي لره دولس / ١٢ تبرے (او) تولګي

وَ اَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اِذِ اسْتَسْقٰهُ قَوْمُهٗٓ

او وحي اوکړه مونږ موسى (عليه السلام) ته کله چي طلب د اوبو اوکه ذَ ده نه قوم ذَ ده

اَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ۚ فَانْۢبَجَسَتْ

دا چي اوهه په همسا خپله باندي ګټه ، نو رواني شوي

مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ؕ قَدْ عَلِمَ كُلُّ

د دينه دولس (١٢) چينے ، تحقيق سره پيژنده هري

اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ؕ وَ ظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ

يوي ډلي ځائے د اوبو څکلو ، او سورے کړه مونږ په دوي باندي وريځ

وَ اَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَ السَّلْوٰى ؕ كُلُوْا

اوراليږلي وو مونږه په دوي باندي ترنجبين او مرزان ، خورئ

مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَ مَا ظَلَمُوْنَا

د پاکو نه هغه چي مونږ درکړي دي تاسو ته، او دوي ظلم نه وو کړے په مونږ

وَ لٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿١٦٠﴾ وَ اِذْ

ليکن دوي په خپلو ځانونو ظلم کو • او کله چي

قِيْلَ لَهُمُ اسْكُنُوْا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَ كُلُوْا

اوئيلے شو دوي ته چي اوسيږئ په دي کلي کښي او خورئ

مِنۡهَا حَيۡثُ شِئۡتُمۡ وَ قُوۡلُوۡا حِطَّةٌ وَّ ادۡخُلُوا

د دینه څه وخت چې خوښه شي ستاسو او وایئ هغه کلمه چې هغه سبب د معاف کولو د ګناهونو ده او دننه شئ

الۡبَابَ سُجَّدًا نَّغۡفِرۡ لَكُمۡ خَطِيۡٓـٰٔتِكُمۡ ؕ

دروازې ته په تابعداری ښښنه به اوکوو مونږ تاسو ته د ګناهونو ستاسو،

سَنَزِيۡدُ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۱۶۱﴾ فَبَدَّلَ الَّذِيۡنَ

زر دے چې زیاتې به کوو مونږه درجې د نیکانو (موحدینو)* پس واغسته هغه کسانو

ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ قَوۡلًا غَيۡرَ الَّذِىۡ قِيۡلَ لَهُمۡ

چې ظلم ئې کړے وو د دوی نه وینا بغیر د هغه نه چې وئیلے شوي وه دوی ته

فَاَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا

نو راولیږه مونږه دوی باندې عذاب د بره نه په د سبب هغه

كَانُوۡا يَظۡلِمُوۡنَ ﴿۱۶۲﴾ وَ سۡـَٔلۡهُمۡ عَنِ الۡقَرۡيَةِ

چې دوی ظلم کو * او تپوس اوکه د دوی نه په باره د کلي

الَّتِىۡ كَانَتۡ حَاضِرَةَ الۡبَحۡرِ ۘ اِذۡ يَعۡدُوۡنَ

هغه کښې چې وو په غاړه د دریاب ، کله چې زیاتے کو دوی

فِى السَّبۡتِ اِذۡ تَاۡتِيۡهِمۡ حِيۡتَانُهُمۡ يَوۡمَ

په ورځ د خالي کښې کله چې به راتلل دوی ته مهیان د دوی په ورځ

سَبۡتِهِمۡ شُرَّعًا وَّ يَوۡمَ لَا يَسۡبِتُوۡنَ ۙ لَا

د خالي کښې ښکاره او په هغه ورځ چې دوی به داخل نه وو خالي کښې نه به

تَاۡتِيۡهِمۡ ۛۚ كَذٰلِكَ ۛۚ نَبۡلُوۡهُمۡ بِمَا كَانُوۡا

راتلل دوی ته (دا مهیان دغسې ډیر) خبره هم دارنګې ده امتحان کوو مونږه په دوی باندې په سبب د هغه چې دوی

يَفۡسُقُوۡنَ ﴿۱۶۳﴾ وَ اِذۡ قَالَتۡ اُمَّةٌ مِّنۡهُمۡ

نافرماني کوله* او کله چې اوئیل یو ټولګي د دوی نه

ع ١٠

وقف لازم

معانقة ٦

النصف

لِمَ تَعِظُوْنَ قَوْمَا ۙ اِ۟للّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ
څه له نصیحت کوئي تاسو ؟ هغه قوم ته جې الله هلاکونکے دے هغوي لره یا

مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ قَالُوْا مَعْذِرَةً
سزا ورکونکے دے دوی ته سزا سخته ، اوئیل دوی د پاره د عذر پیش کولو

اِلٰى رَبِّكُمْ وَ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ فَلَمَّا نَسُوْا
رب ستاسو ته او شاید چې دوی ځان بچ کي (د ګناهونو نه) * پس کله چې پریخودهٔ دوی

مَا ذُكِّرُوْا بِهٖۤ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ عَنِ
هغه چې پند ورکولے شو دوی ته په هغي باندي خلاص کړل مونږه هغه کسان چې منع ئي کوله د

السُّوْٓءِ وَ اَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا بِعَذَابٍۭ
بدئي (ګناه) نه او اونیول مونږه هغه کسان چې ظلم ئي کړے وو په عذاب

بَئِيْسٍۭ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۱۶۵﴾ فَلَمَّا عَتَوْا
بد په سبب د هغه چې دوی ماتول (احکام د الله) * پس کله چې دوی تیر شو

عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً
د هغه نه چې منع کړے شوي وو دوی د هغي نه اوئیل مونږه دوی ته شئ شادوګان

خٰسِئِيْنَ ﴿۱۶۶﴾ وَ اِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ
بد * او کله چې اعلان اوکه رب ستا چې خامخا لیږي به

عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ يَّسُوْمُهُمْ
په دوی باندي تر ورځ د قیامته هغه څوک چې رسئ به دوی ته

سُوْٓءَ الْعَذَابِ ؕ اِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيْعُ
بد عذاب ، یقینًا رب ستا خامخا زر سزا

الْعِقَابِ ۚۖ وَ اِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۷﴾ وَ
ورکونکے دے ، او یقینًا الله دے خامخا بښونکے مهربان * او

قَطَّعْنٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اُمَمًا ۚ مِنْهُمُ

تقسیم کړي وو موږه دوی لره په زمکه کښې ټولګي ، بعضي د دوی نه

الصّٰلِحُوْنَ وَ مِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ ز وَ بَلَوْنٰهُمْ

نیکان وو او بعضي د دوی نه سیوا د دي نه وو ناکاره او امتحان کړے وو موږ په دوی باندي

بِالْحَسَنٰتِ وَ السَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿١٦٨﴾

په خوشحالو او تکلیفونو سره خامخا چي دوی راوګرځي (د ګناه نه) *

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ

نو پاتي شو روستو د دوی نه نا اهله میراث سره ئي اوړه کتاب

يَاْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى وَ يَقُوْلُوْنَ

اخلي دوی سامان (د ژوند) د دي معمولي (دنيا) او وائي دوی

سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ وَ اِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ

زر دے چي بښنه به اوکړے شي موږ نه ، او که راشي دوی ته سامان په شان د دي

يَاْخُذُوْهُ ؕ اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ

اخلي دوی هغي لره ، آیا نه وه اغستے شوے په دوی باندي وعده په

الْكِتٰبِ اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ

کتاب کښې چي نه به وائي دوی په الله باندي مګر رښتیا

وَ دَرَسُوْا مَا فِيْهِ ؕ وَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ

او دوی لوستي وو هغه چي وو پدیکښې او کور د آخرت غوره دے

لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٦٩﴾ وَ الَّذِيْنَ

د پاره د هغه کسانو چي پرېږي دا الله نه نو ولے تاسو عقل نه کار نه اخلئ ؟* او هغه کسان

يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ وَ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّا

چي منګولي لګي په کتاب او پابندي کئ د مونځ ، یقینًا موږه

لَا نُضِيعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ وَ اِذْ نَتَقْنَا

نه ضائع کوو اجر د اصلاح کونکو * او کله چې اوڼرو مونږ

الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّ ظَنُّوْٓا اَنَّهٗ

غر د پاخه د دوی نه ګویا چه دا وو سائبان او یقین اوکه دوی چې یقینًا دا

وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ

راغرځیدنکے دے په دوی، (اوئیل مونږ) اونیسئ هغه چې مونږ درکړي دي تاسو ته په مضبوطیا سره

وَّ اذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ وَ اِذْ

او یاد کړئ هغه چې پدې کښې دي خاڅا چې تاسو اویریږئ (د الله نه) * او کله چې

اَخَذَ رَبُّكَ مِنْۢ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ

واغستۀ رب ستا د اولاد د آدم (علیه السلام) نه د شاګانو د دوی نه

ذُرِّيَّتَهُمْ وَ اَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ ۚ

اولاد د هغوی او ګواه ئې کړل دوی لره په خپلو ځانونو باندې

اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى ۛۚ شَهِدْنَا ۛۚ

آیا نه یم زه ستاسو رب ، اوئیل دوی بے شکه، ګواهي کوو مونږه ،

اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ

دا چې اونه وایئ تاسو په ورځ د قیامت یقینًا وومونږه د

هٰذَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ اَوْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اَشْرَكَ

دې نه ناخبره * یا اونه وایئ تاسو چې یقینًا شرک کړے وو

اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَ كُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ

مشرانو زمونږه مخکښې د دینه او وو مونږه اولاد پس د دوی نه

اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ وَ كَذٰلِكَ

آیا ته مونږه هلاکوي په هغه چې کار کړے دے باطل پرستو * او دا رنګې

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ۝١٧٤ وَ اتْلُ

واضح بیانوو مونږه دلائل او خامخا چې دوی راوګرځي * او اولوله

عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِیْۤ اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا

دوی ته خبر د هغه سړي چې ورکړي وو مونږه ده ته دلائل نو ووتلو دے د دینه

فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ۝١٧٥

نو اولګیدهٔ ده پسې شیطان پس شو دے د سرکشونه *

وَ لَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَ لٰكِنَّهٗۤ اَخْلَدَ اِلَى

او که خوښه وے زمونږه نو پورته کړے به وو مونږه ده لره په دې سره لیکن دے مائل شوے وو په طرف

الْاَرْضِ وَ اتَّبَعَ هَوٰىهُ ۚ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ

د زمکے او تابعداري ئې اوکړه د خواهش * پس مثال د ده په شان د

الْكَلْبِ ۚ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ اَوْ تَتْرُكْهُ

سپي دے، که ته شړې ده لره نو غپ غپ کئ یا پریږدې ده لره

يَلْهَثْ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

غپ غپ کئ، دا مثال د قوم هغه کسانو دے چې دروغ ئې ګڼړل

بِاٰيٰتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ

آیتونه زمونږ، پس بیان اوکه بیان خامخا چې دوی

يَتَفَكَّرُوْنَ ۝١٧٦ سَآءَ مَثَلًا ۣ الْقَوْمُ الَّذِيْنَ

سوچ اوکي * بد دے مثال د قوم هغه کسانو

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَ اَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ۝١٧٧

چې نسبت د دروغو ئې اوکه آیتونو زمونږ ته او په خپلو نفسونو دوی ظلم کو *

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِیْ ۚ وَ مَنْ

چا لره چې توفیق ورکي الله نو هغه وي په سمه لار روان، او چا باندې چې

يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿١٧٨﴾ وَ لَقَدْ
مهر د گمراهي. اووهي الله نو دغه كسان هم دوى دي تاوانيان * او تحقيق سره

ذَرَاْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيْرًا مِّنَ الْجِنِّ وَ الْاِنْسِ ۖ
پيدا كړي دي مونږه د پاره د جهنم ډيـر د پيريانو او انسانانو نه ،

لَهُمْ قُلُوْبٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ بِهَا ۡ وَ لَهُمْ
د پاره د دوى زړونه دي چې خان نه پوهه كيږي په دي او د پاره د دوى

اَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُوْنَ بِهَا ۡ وَ لَهُمْ اٰذَانٌ لَّا
ستركي دي چې نه گوري په دي او د پاره د دوى غوږونه دي نه

يَسْمَعُوْنَ بِهَا ۭ اُولٰٓئِكَ كَالْاَنْعَامِ بَلْ
اوري په دي باندي (قرآن) ، دغه كسان په شان د ډنگرو دي بلكه

هُمْ اَضَلُّ ۭ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿١٧٩﴾
دوى دي نه هم بدتردي ، دغه كسان هم دوى دي نا پوهه *

وَ لِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۖ
او الله لره نومونه دي ښائسته پس رامدد كړئ ده لره په دي سره ،

وَ ذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ ۭ
او پريږدئ هغه كسان چې كجروي (شرک) كئ په نومونو د الله تعالى كښي ،

سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٨٠﴾ وَ مِمَّنْ
زر دے چې سزا به وركړے شي دوى ته د هغه چې دوى كول * او د هغه چانه

خَلَقْنَآ اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَ بِهٖ
چې پيدا كړي دي مونږه يو ټولگے دے چې بيان كئ د حق او په دي قرآن

يَعْدِلُوْنَ ﴿١٨١﴾ ع وَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا
باندي برابرئ (خلق) * او هغه كسان چې نسبت د دروغو ئي اوكه آيتونه زمونږ ته

ع ٢٣ / ١٢

سَنَسۡتَدۡرِجُهُمۡ مِّنۡ حَيۡثُ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۸۲﴾

زر دے چې په رو رو به اوچتوم دوی لره د داسې طرف نه چې دوی به نه پوهيږي *

وَ اُمۡلِىۡ لَهُمۡ ؕ اِنَّ كَيۡدِىۡ مَتِيۡنٌ ﴿۱۸۳﴾ اَوَ لَمۡ

او مهلت ورکوم زه دوی ته ، يقينًا تدبير زما سخت دے * آيا

يَتَفَكَّرُوۡا ٚ مَا بِصَاحِبِهِمۡ مِّنۡ جِنَّةٍ ؕ اِنۡ

دوی سوچ نه کئ ، چې نشته په ملګري د دوی خه ليونتوب ، نه دے

هُوَ اِلَّا نَذِيۡرٌ مُّبِيۡنٌ ﴿۱۸۴﴾ اَوَلَمۡ يَنۡظُرُوۡا فِىۡ

دا (پيغمبر ﷺ) مګر يرونکے ښکاره * آيا دوی سوچ نه کئ په

مَلَكُوۡتِ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ مَا خَلَقَ

سلطنت د آسمانونو او زمکو کښې او هغه څه کښې چې پيدا کړي دي

اللّٰهُ مِنۡ شَىۡءٍ ۙ وَّاَنۡ عَسٰۤى اَنۡ يَّكُوۡنَ

الله کوم څيزونه ، او زر دے دا چې شي

قَدِ اقۡتَرَبَ اَجَلُهُمۡ ۚ فَبِاَىِّ حَدِيۡثٍ

تحقيق سره نزدې نيته د دوی ، نو په کوم بيان باندې

بَعۡدَهٗ يُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۱۸۵﴾ مَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَلَا

پس د بيان د قرآن نه دوی به ايمان راوړي * چا باندې چې مهر د ګمراهۍ اووهي الله پس نه وي

هَادِىَ لَهٗ ؕ وَ يَذَرُهُمۡ فِىۡ طُغۡيَانِهِمۡ

لار خودونکے ده ته ، او پريږدي دوی لره په سرکشۍ د دوی کښې

يَعۡمَهُوۡنَ ﴿۱۸۶﴾ يَسۡـَٔلُوۡنَكَ عَنِ السَّاعَةِ

حيران او پريشان * تپوس کئ دوی ستا نه په باره د قيامت کښې

اَيَّانَ مُرۡسٰٮهَا ؕ قُلۡ اِنَّمَا عِلۡمُهَا عِنۡدَ رَبِّىۡ ۚ

چې کله به وي اودريدل د دې ، اووايه بے شکه علم د قيامت زما رب سره دے ،

لَا يُجَلِّيْهَا لِوَقْتِهَآ اِلَّا هُوَ ؔ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ

نه ښکاره کوي دي لره په وخت د دي مگر دا الله ، دروند دے(۱) په آسمانونو

وَ الْاَرْضِ ؕ لَا تَاْتِيْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ؕ

او زمکو کښې ، نه به راځي تاسو ته مگر ناساپه ،

يَسْــَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا

تپوس کيږي دوی ستا نه گوياچه ته خبر ئي د دي نه ، اووايه بے شکه

عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

علم د دي الله سره دے ليکن اکثر د خلقو نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا

نه پوهيږي * اووايه زه واکدار نه يم ځان د پاره د فائدي

وَّ لَا ضَرًّا اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَ لَوْ كُنْتُ

او نه د ضرر مگر هغه چي خوښه شي د الله (نو هغه کيږي) ، او که زه

اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۛۚ

پوهيدم په غيبو باندي نو ما به ځان لره ډير خير جمع کړے وو

وَ مَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ ۛۚ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ

او نه به وے رسيدلے ما ته څه تکليف ، نه يم زه مگر يرونکے

وَّ بَشِيْرٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ هُوَ الَّذِيْ

او زيرے ورکونکے د پاره د هغه قوم چي ايمان راوړي * دا الله هغه ذات دے

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّ جَعَلَ مِنْهَا

چي پيدا کړي ئي يئ تاسو د نفس يو نه او پيدا کړي ئي ده د جنس د ده نه

زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ اِلَيْهَا ۚ فَلَمَّا تَغَشّٰىهَا

بي بي د ده دي د پاره چي آرام اوکي دي سره ، پس کله چي پټ کي (مذکر) دي(مؤنث) لره

(۱) هيبت د قيامت

حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ۚ فَلَمَّآ

حمل ئې واغسته حمل سپک نو تله راتله کې دا پدې سره ، پس هر کله

اَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا

چې درنه شي (دا مؤنث) رابلې دا دواړه الله لره چې رب د دوی دے که راکه تا مونږ ته

صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۸۹﴾ فَلَمَّآ

نیک اولاد خامخا شو به مونږ د تابعدارو نه * پس هر کله

اٰتٰهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَآ

چې ورکړي ئې دې دواړو ته نیک اولاد نو کرځئ دادواړه الله لره حصه داران په هغه څه کښې چې

اٰتٰهُمَا ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾

واړو ته، پس اوچت دے الله د هغه نه چې دوی ئې ورسره حصه دار ګرځئ *

اَيُشْرِكُوْنَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَّ هُمْ

آیا دوی حصه دار ګرځئ (الله سره) هغه چې نه شي پیدا کولے هیڅ شے او دوی

يُخْلَقُوْنَ ﴿۱۹۱﴾ وَ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ لَهُمْ

په خپله پیدا کړے شوي دي * او طاقت نه لري د پاره د دوی

نَصْرًا وَّ لَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۲﴾ وَ اِنْ

د امداد او نه د خپلو نفسونو امداد کولے شي * او که

تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا يَتَّبِعُوْكُمْ ؕ

تاسو راغواړئ دوی لره هدایت ته نو تابعداري نه کړئ دوی ستاسو ،

سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ

برابره خبره ده په تاسو باندې که رامدد کوئ تاسو دوی لره یا تاسو يئ

صَامِتُوْنَ ﴿۱۹۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

چپ پاتے کیدونکي * بے شکه هغه کسان چې تاسو ئې رامدد کوئ

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ

بغير د الله نه بنديكان دي ستاسو غوندي نو رامدد كئ دوى لره

فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٩٤﴾

پس قبولوالے دي اوكړي د پاره ستاسو كه يئ تاسو رشتيني ٭

اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَيْدٍ

ايا دوى لره خپے دي چي تلل كئ دوى په هغي سره يا دوى لره لاسونه دي

يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ يُّبْصِرُوْنَ

چي نيول كئ دوى په هغي يا دوى لره ستركي دي چي ليدل كئ دوى

بِهَآ اَمْ لَهُمْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا قُلِ

په هغي سره يا دوى لره غوږونه دي چي اوريدل كئ دوى په هغي سره ، اووايه

ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ ثُمَّ كِيْدُوْنِ فَلَا

رامدد كئ د برخي خاوندان ستاسو بيا زما (د مرگ) بندوبست اوكئ پس

تُنْظِرُوْنِ ﴿١٩٥﴾ اِنَّ وَلِيِّ اللّٰهُ الَّذِيْ نَزَّلَ

مهلت مه راكوئ ما ته ٭ يقيناً دوست زما الله هغه ذات دے چي راليږلے ئي دے

الْكِتٰبَ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٩٦﴾

كتاب ، او دا (الله) دوستي كئ د نيكانو سره ٭

وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ

او هغه كسان چي رامدد كوئ ئي تاسو بغير د الله نه

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَكُمْ وَلَآ اَنْفُسَهُمْ

طاقت نه لري د امداد ستاسو او نه د خپلو ځانونو

يَنْصُرُوْنَ ﴿١٩٧﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى

امداد كولے شي ٭ او كه ته راغواړي دوى لره هدايت ته

لَا يَسْمَعُوْا ؕ وَ تَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَ هُمْ

نه اوري دوی، او وینې به ته دوی لره چې ګوري به تا ته او دوی

لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۹۸﴾ خُذِ الْعَفْوَ وَ اْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ

نه ويني (حق لره)* اونیوه کار د ورانولو د شرک او حکم کوه په توحید او

اَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾ وَ اِمَّا يَنْزَغَنَّكَ

مخ واړوه د جاهلانو نه * او که اورسيږي تا ته

مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ

د شيطان نه وسوسه نو پناه غواړه په الله سره، يقيناً دا الله

سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۰۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ

اوریدونکے پوهه دے * يقيناً هغه کسان چې يريږي (د الله نه) کله چې اورسيږي دوی ته

طٰٓئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ

وسوسه د طرفه د شيطان نه يادئ دوی (الله لره) نا ساپه دوی

مُّبْصِرُوْنَ ﴿۲۰۱﴾ وَ اِخْوَانُهُمْ يَمُدُّوْنَهُمْ فِي

ليدونکي ئي (قرآن لره)* او رونړه د دوی پريږدي دوی لره په

الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُوْنَ ﴿۲۰۲﴾ وَ اِذَا لَمْ تَاْتِهِمْ

سرکشۍ کښې بيا کمے نه کئ (په راخکلو د دي خلقو کښې)* او کله چې رانه ړے ته دوی ته

بِاٰيَةٍ قَالُوْا لَوْ لَا اجْتَبَيْتَهَا ؕ قُلْ اِنَّمَآ اَتَّبِعُ

يو نښه نو وائي دوی ولې غوره نه کړه تا دې لره، اووايه بے شکه زه تابعداري کوم

مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ ۚ هٰذَا بَصَآئِرُ مِنْ

د هغه چې وحې کولے شي ما ته د طرفه د رب زما نه، دا دلائل دي د طرفه

رَّبِّكُمْ وَ هُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۰۳﴾

د رب ستاسو نه او هدايت او رحمت دے د پاره د هغه قوم چې ايمان راوړي *

وَ اِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَ اَنْصِتُوْا

او كله چي لوستلے شي قرآن نو غوږ كيږدئ دي ته او چپ شئ

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۲۰۴﴾ وَ اذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ

خامخا په تاسو به رحم اوكړے شي * او يادوه رب ستا په

نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّ خِيْفَةً وَّ دُوْنَ الْجَهْرِ

زړه خپل كښې په عاجزۍ او په يرے سره او نه په تيزه

مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَ الْاٰصَالِ وَ لَا تَكُنْ

د وينا نه صبا او بيګا (هر وخت) اومه كيږه ته

مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۲۰۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ

د غفلت كونكو نه * يقينًا هغه ملائك چي په نيز د رب ستادي

لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَ يُسَبِّحُوْنَهٗ

ځان غټ نه ګڼري د عبادت د الله نه او پاكي بيانئ دوى د الله

وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ﴿۲۰۶﴾ السجدة

او خاص د الله تابعداري كوي *



اٰيَاتُهَا ۷۵ سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ مَدَنِيَّةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تدوين ۸ نزول ۸۸ رُكُوْعَاتُهَا ۱۰

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ؕ قُلِ الْاَنْفَالُ

تپوس كئ دوى ستا نه په باره د مال زياتي كښې، اووايه زياتي مال

لِلّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَصْلِحُوْا

الله لره او پيغمبر لره دے ، پس اوويريږئ د الله نه او درست كئ

ذَاتَ بَيْنِكُمْ ۪ وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗۤ اِنْ

خپل مينځ لره او تابعداري اوكړئ د الله او د پيغمبر د الله كه

سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ مَدَنِيَّةٌ

ربط د سورت الانفال :

(۱)مخکښې سورت کښې مقابله د ژبي ذکر شوه نو دلته مقابله د توري ذکرکیږي .

(۲)مخکښې سورتکښې ئې دملائکو ۳ صفات ذکر کړل نو دلته ابتداء کښې

د مؤمنانو ۵ صفتونه ذکر کیږي .

(۳) مخکښې سورت کښې شپږ واقعات د انبیاء علیهم السلام ذکر شو نو دلته شپږ

قاعدې د میدان جنګ ذکر کیږي.

امتیازات د سورت الانفال :

(۱)سورت ممتاز دے په بیان د مونځ د مشرکینو باندې وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً

(۲) په تقریر د نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې قیدیانو ته .

(۳)په حکم د تیارۍ کولو د پاره د مقابلے د کافرو وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ .

دعوی د سورت الانفال :

د شرک ختمولو د پاره د الله تعالیٰ په لاره کښې جهاد کولو ته ترغیب او بیان د شپږو قاعدو د میدان جنګ.

خلاصه د سورت الانفال :

ابتداء د سورت کښې درې۳ اوامر ،بیا پنځه صفات د مؤمنانو، شپږ قاعدې د میدان جنګ د

پاره د مؤمنانو او اوومه قاعده امیر حرب د پاره ذکر کوی

{۱} دشمن ته به شاه نه ګرځوئ ، آیت ۱۵ .

{۲} د الله تعالیٰ او پیغمبرتابعداری به کوئ ، آیت ۲۰ .

{۳} که د خوشحالۍ ژوند غواړئ نو د امیر خبره اومنئ ، آیت ۲٤ .

{٤} خیانت او درغلی مه کوئ ، آیت ۲۷ .

{۵} مؤمنان به د الله نه یره کوی نو الله به ورله فتح ورکې ، آیت ۲۹ .

{٦} مجاهدین به جنګ کښې الله تعالیٰ ډیر یادوئ ، آیت ٤۵ .

{۷} امیر جهاد به قیدیانو ته په نرمۍلجې باندې تقریر کې ، آیت ۷۰ .

كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ① اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ
يئ تاسو مومنان * بې شکه مومنان هغه کسان دي
اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَ اِذَا تُلِيَتْ
چې کله یاد کړے شي الله نرم شي زړونه د دوی او کله چې لوستے شي
عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّ عَلٰى رَبِّهِمْ
په دوی باندې آيتونه د الله زياتې دوی لره اثر د ايمان او دوی په خپل رب باندې
يَتَوَكَّلُوْنَ ② الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَ مِمَّا
ځان سپاري * هغه کسان چې پابندي کړئ د مونځ او د هغه نه
رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ③ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ
چې ورکړي دي ورته مونږه خرچ کړئ (۱)* دغه کسان هم دوی دي مومنان
حَقًّا لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَ مَغْفِرَةٌ
په رشتيا، دوی لره درجې دي د طرفه د رب د دوی نه او ببښنه
وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ ④ كَمَآ اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْ
او رزق عزتمند دے *(درست کړئ خپل مينځ) لکه چې اوباسلے وو تا لره رب ستا د
بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَ اِنَّ فَرِيْقًا مِّنَ
کور ستا نه په حقه سره او يقينًا يو ډله د
الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ⑤ يُجَادِلُوْنَكَ فِي
مومنانو نه خامخا بد ګڼړونکي وو (وتلو لره) * جګړه کړئ دوی تا سره په باره
الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ اِلَى
د حق کښې پس د هغه نه چې ښکاره شوے وو (دوی ته) ګويا چې دوی راښکلے شي
الْمَوْتِ وَ هُمْ يَنْظُرُوْنَ ⑥ وَ اِذْ يَعِدُكُمُ
مرګ ته او دوی ګوري * کله چې وعده اوکړه تاسو سره

(۱) چه لاره د الله کښې

اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ وَ
الله د يو د دوو ډلو چې يقينًا دا به وي تاسو لره او
تَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ
خوښوله تاسو چې يقينًا بې دبدبې والا شي (دغه ډله)
لَكُمْ وَ يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ
تاسو لره او اراده كړې الله دا چې ثابت كړي حق په خپل حكم باندې
وَ يَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ۝٧ لِيُحِقَّ الْحَقَّ
او پرې كړي مونډ د كافرانو *(دا كار الله اوكه) دې د پاره چې ثابت كړي حق
وَ يُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَ لَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ۝٨
او بې كاره كړي باطل اګر چې بد ئې ګنړي مجرمان *
اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ
كله چې فرياد كو تاسو رب خپل ته نو قبولوالے ئې اوكه تاسو لره يقينًا زه
مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ۝٩
امداد كونكے يم ستاسو په زرو فرشتو سره يو بل پسے راتلونكے *
وَ مَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَ لِتَطْمَئِنَّ بِهٖ
او نه دے ګرځولے دې لره الله مګر زيرے او دې د پاره چې مضبوط شي په دې
قُلُوْبُكُمْ ۚ وَ مَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ
زړونه ستاسو ، او نه ده فتح مګر د طرفه د الله نه ،
اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝١٠ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ
يقينًا الله غالب حكمت والا دے * كله چې پټ كه تاسو لره (الله)
النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ وَ يُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ
په جوتے تسلي وه د طرفه د الله نه او راوئې ليږه په تاسو باندې د

السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَ يُذْهِبَ
بره نه باران دي د پاره چي پاک کي تاسو په دي سره او لري کي
عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ
ستاسو نه گند د شيطان او چي پتي اولگئ ستاسو په زړونو باندي
وَ يُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ﴿١١﴾ اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ اِلَى
او مضبوط کي په دي سره قدمونه(ستاسو) * کله چي حکم اوکه ستا رب
الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ
فرشتو ته يقيناً زه تاسو سره يم نو مضبوط کړئ هغه کسان چي ايمان ئي راوړے دے ،
سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ
زر دے چي اوبه غورځوم په زړونو د هغه کسانو کښي چي کفر ئي کړے دے يــــره
فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَ اضْرِبُوْا مِنْهُمْ
پس اووهئ دوی لره د پاخه د ختونو او اووهئ د دوی
كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ
هر يو بند * دا ځکه چي دوی خلاف کړے دے د الله
وَ رَسُوْلَهٗ ۚ وَ مَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ
او د پيغمبر د الله ، او چا چي خلاف اوکه د الله او د پيغمبر د الله
فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذٰلِكُمْ
نو يقيناً الله سخت عذاب والا دے * دغه عذابونه
فَذُوْقُوْهُ وَ اَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابَ النَّارِ ﴿١٤﴾
نو اوڅکئ دي لره او يقيناً د پاره د کافرانو عذاب د اوور دے *
يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ
اے مــــومنانو کله چي مخامخ شئ تاسو هغه کسانو سره

كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ ۚ ﴿١٥﴾

چې کفر ئې کړے دے په جنګ کښې نو مه اړوئ دوی ته شا ګانې

وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا

او چا چې واړوله دوی ته په دغه وخت (د جنګ کښې) شاخپله مګر چل کونکے وي

لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ

د پاره د جنګ یا راتلونکے خپلے ډلے ته تحقیق سره راګیر شو دے

بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ

په غصه کښې د طرفه د الله نه او ځائے د ده جهنم دے ، او بد دے

الْمَصِيرُ ﴿١٦﴾ فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

ځائے د راتلو (دا جهنم) *نو نه دي وژلي تاسو دوی لیکن الله

قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

وژلي دي دوی لره او نه دي رسولي تا (شګي سترګو د کافرو ته) کله چې اوېشتي تا (د لاس نه) لیکن الله

رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ۚ

اورسولي (۱) ، او دي د پاره چې امتحان اوکي (الله) په مومنانو د خپل طرف نه امتحان ښائسته،

إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾ ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ

یقینًا الله اوریدونکے پوهه دے * دا رنګے یئ تاسو کلک او یقینًا الله دے

مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ ﴿١٨﴾ إِنْ تَسْتَفْتِحُوا

کمزورے کونکے چل د کافرانو لره * که غلبه غواړئ تاسو (اے کافرو)

فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ ۖ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ

نو تحقیق سره راغله تاسو ته غلبه (د مومنانو) ، او که منع شوئ تاسو نو دا

خَيْرٌ لَكُمْ ۖ وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ ۚ وَلَنْ تُغْنِيَ

غوره دي د پاره ستاسو، او که راګرځئ تاسو (مقابلے د مومنانو ته) نو راګرځو موږ (امداد د مومنانو ته)، او هیچرې فائده به در نه کي

(۱) سترګو د کافرانو ته

عَنۡكُمۡ فِئَتُكُمۡ شَيۡـًٔا وَّلَوۡ كَثُرَتۡ ۙ وَ اَنَّ اللّٰهَ

تاسو نه ډله ستاسو هیڅ شے اګر که زیاته وي ، او یقینًا (امداد) الله

مَعَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۹﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا

سره د مومنانو دے * اے مومنانو

اَطِيۡعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوۡلَهٗ وَ لَا تَوَلَّوۡا عَنۡهُ وَ

تابعداري اوکړئ د الله او د پیغمبر د الله او مه اوړئ تاسو د دې نه او

اَنۡتُمۡ تَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۰﴾ وَ لَا تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ

تاسو اورئ (قرآن لره) * او مه کیږئ په شان د هغه کسانو چې

قَالُوۡا سَمِعۡنَا وَ هُمۡ لَا يَسۡمَعُوۡنَ ﴿۲۱﴾ اِنَّ شَرَّ

وئیلي وو دوی واوریدل مونږه او دوی نه منل * یقینًا ناکاره

الدَّوَآبِّ عِنۡدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الۡبُكۡمُ الَّذِيۡنَ

د زنده سرو نه په نیز د الله کانړه چاړا ګان هغه کسان دي

لَا يَعۡقِلُوۡنَ ﴿۲۲﴾ وَ لَوۡ عَلِمَ اللّٰهُ فِيۡهِمۡ خَيۡرًا

چې عقل نه کار نه اخلي * او که پوهه وے الله په دوی کښې د اخلاص

لَّاَسۡمَعَهُمۡ ؕ وَ لَوۡ اَسۡمَعَهُمۡ لَتَوَلَّوۡا وَّ هُمۡ

نو منلے به ئي وو په دوی (قرآن)، او که واورئ الله دوی ته (قرآن) خامخا دوی اوړي او وي دوی

مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۲۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اسۡتَجِيۡبُوۡا

اعراض کونکي * اے ایمـــان والو قبولوالے اوکړئ

لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوۡلِ اِذَا دَعَاكُمۡ لِمَا يُحۡيِيۡكُمۡ ۚ وَ

د الله او د پیغمبر د الله کله چې راغواړي تاسو هغه (جهاد) ته چې ژوندي کړي تاسو لره ، او

اعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوۡلُ بَيۡنَ الۡمَرۡءِ وَ قَلۡبِهٖ

پوهه شئ یقینًا الله واقع کیږي په مینځ د سړي او زړه د ده کښې

وَ اَنَّهٗٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَ اتَّقُوْا فِتْنَةً

او يقينًا شان دا دے دي الله ته به تاسو پورته كړے شئ * او اوبريږئ د داسي عذاب نه

لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ

چي اوبه نه رسيږي هغه كسانو ته چي ظلم ئي كړے دے ستاسو نه يواځے ،

وَ اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ وَ

او پوهه شئ چي يقينًا الله سخت عذاب والا دے * او

اذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي

ياد كړئ كله چي وئ تاسو لږ كمزوري شوي په

الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ

زمكه كښي يريدئ تاسو چي وابه رني تاسو لره (يو يو به كي) خلق

فَاٰوٰىكُمْ وَ اَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَ رَزَقَكُمْ مِّنَ

نو ځائے ئي دركه تاسو ته او مضبوط ئي كړئ تاسو په امداد خپل او رزق ئي دركه تاسو ته د

الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٦﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

پاكيزه څيزونو نه خامخا چي تاسو شكر اوباسئ * اے ايمان

اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ وَ تَخُوْنُوْٓا

والو خيانت مه كوئ د الله او د پيغمبر د الله سره او خيانت مه كوئ تاسو

اَمٰنٰتِكُمْ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَ اعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ

په امانتونو خپلو كښي او تاسو پوهيږئ * او پوهه شئ بے شكه

اَمْوَالُكُمْ وَ اَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ وَّ اَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ

مالونه ستاسو او اولاد ستاسو امتحان دے ، او يقينًا الله ده سره

اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٨﴾ ۧ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا

اجر لوئي دے * اے م مومنانو كه اوبريدئ تاسو

اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا وَّ يُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ

د الله نه اوبه کرځئ تاسو لره برے (فتح) او لرې به کي ستاسو نه تکليفونه ستاسو

وَ يَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَ اللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝٢٩ وَ

او بخښنه به اوکي تاسو ته ، او دے الله خاوند د فضل لوئي * او

اِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ

کله چي فريب اوکه ستا خلاف هغه کسانو چي کفر ئي کړے وو دي د پاره چي اوتړي تا لره يا

يَقْتُلُوْكَ اَوْ يُخْرِجُوْكَ ؕ وَ يَمْكُرُوْنَ وَ يَمْكُرُ

اوژني تالره يا اوباسي تالره ، او دوی تدبير کئ (ستا د مرګ) او تدبير کئ

اللّٰهُ ؕ وَ اللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ۝٣٠ وَ اِذَا تُتْلٰى

الله (ستا د خلاصي) ، او الله غوره د تدبير کونکو دے * او کله چي لوستلے شي

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا قَالُوْا قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ

دوی باندي آيتونه زمونږه وائي دوی تحقيق سره واوريدل مونږه که خوښه وے زمونږه

لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَاۤ ۙ اِنْ هٰذَاۤ اِلَّاۤ اَسَاطِيْرُ

خامخا وئيلي به وو مونږه په شان د دي ، نه دي دا مګر قيصي د

الْاَوَّلِيْنَ ۝٣١ وَ اِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ

رومبنو دي* او کله چي اوئيل دوی اے الله که وي

هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا

دا پيغمبر رشتيا د طرفه ستا نه نو راوورے په مونږ باندي

حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ

کاڼي د بره نه يا راوړي مونږه ته عذاب

اَلِيْمٍ ۝٣٢ وَ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ اَنْتَ

درد ناک * او نه دے الله چي سزا ورکي دوی ته او ته ئي موجود

فِيْهِمْ ؕ وَ مَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَ هُمْ

په دوی کښې ، او نه دے الله سزا ورکونکے دوی لره او دوی

يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَ مَا لَهُمْ اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ

بښنه غواړي* او څه دي دوی لره چې سزا به نه ورکړي دوی ته

اللّٰهُ وَ هُمْ يَصُدُّوْنَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

الله او دوی بندئ (خلقو لره) د مسجد حرام نه

وَ مَا كَانُوْۤا اَوْلِيَآءَهٗ ؕ اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗۤ اِلَّا

او نه دي دوی دوستان د الله ، نه دي دوستان د الله مګر

الْمُتَّقُوْنَ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٤﴾ وَ

پرهيزګاران ليکن اکثر د دوی نه نه پوهيږي* او

مَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً وَّ

نه دے مونځ د دوی په نيز د بيت الله مګر سوړي او

تَصْدِيَةً ؕ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ

تاڼري ، پس اوڅکئ عذاب په سبب د هغه چې تاسو

تَكْفُرُوْنَ ﴿٣٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُنْفِقُوْنَ

کفر کو* يقيناً هغه کسان چې کفر ئې کړے دے خرج کئ دوی

اَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

مالونه خپل دي د پاره چې بند کي خلق د لارې د الله نه ،

فَسَيُنْفِقُوْنَهَا ثُمَّ تَكُوْنُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً

زر دے چې دوی خرج کئ به دي لره بيا به شي (دا مال لګول) په دوی باندې افسوس چې

ثُمَّ يُغْلَبُوْنَ ۬ؕ وَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا اِلٰى جَهَنَّمَ

بيا به دوی کمزوري کړے شي، او هغه کسان چې کفر ئې کړے دے جهنم ته

يُحْشَرُوْنَ ﴿٣٦﴾ لِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ مِنَ

پورته به کړے شي دوی* دي د پاره چې جدا کي الله پليت لره د

الطَّيِّبِ وَ يَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى

پاک نه او وګرځوي پليت بعضو لره د پاسه د

بَعْضٍ فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ ؕ

بعضو نو جمع به کي دي لره تول پس او به ګرځوي دي لره په جهنم کښې،

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ قُلْ لِّلَّذِيْنَ ع ١٨

دغه کسان هم دوی دي تاوانيان * او وايه هغه کسانو ته

كَفَرُوْٓا اِنْ يَّنْتَهُوْا يُغْفَرْ لَهُمْ مَّا قَدْ

چې کفرئي کړے دے که منع شو دوی ببښنه به اوکړے شي دوی ته د هغه (ګناهونو) چې تحقيق سره

سَلَفَ ۚ وَ اِنْ يَّعُوْدُوْا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ

تير شوي دي، او که دوی راګرځي (کفر ته) نو تحقيق سره تيره شوي ده طريقه

الْاَوَّلِيْنَ ﴿٣٨﴾ وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ

د رومبنو* او جنګ اوکړئ دوی سره تر دي چې پاتې نه شي

فِتْنَةٌ وَّ يَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ ۚ فَاِنِ

شرک او شي غاره کيخودل تول الله ته، نو که

انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٣٩﴾

دوی منع شو نو يقيناً الله د هغه چې کئ دوی ليدونکے دے*

وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ ؕ

او که دوی واوړيدل نو پوهه شئ چې يقيناً الله دوست ستاسو دے،

نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿٤٠﴾

څه ښائسته دوست دے او څه خائسته امدادي دے*

وَ اعۡلَمُوۡۤا اَنَّمَا غَنِمۡتُمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ

او پوهه شئ يقينًا هغه چي غنيمت حاصل كه تاسو ده څه شي نه يقينًا د پاره د الله

خُمُسَهٗ وَ لِلرَّسُوۡلِ وَ لِذِی الۡقُرۡبٰی وَ الۡیَتٰمٰی

پنځمه حصه د هغي ده او د پاره د پيغمبر او د پاره د خپلوخپلوانو او د يتيمانو

وَ الۡمَسٰکِیۡنِ وَ ابۡنِ السَّبِیۡلِ ۙ اِنۡ کُنۡتُمۡ

او د مسكينانو او د مسافرو ، كه تاسو

اٰمَنۡتُمۡ بِاللّٰهِ وَ مَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلٰی عَبۡدِنَا یَوۡمَ

ايمان راوړے وي په الله او په هغه چي نازل كړے دے مونږه په بنده خپل باندي په ورځ

الۡفُرۡقَانِ یَوۡمَ الۡتَقَی الۡجَمۡعٰنِ ؕ وَ اللّٰهُ

د بيلتون (د دوى) په هغه ورځ چي مخامخ شوي دوه ډلي ، او الله

عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ ﴿۴۱﴾ اِذۡ اَنۡتُمۡ بِالۡعُدۡوَةِ

په هر يو شي باندي قدرت والا دے * كله چي تاسو په كناره

الدُّنۡیَا وَ هُمۡ بِالۡعُدۡوَةِ الۡقُصۡوٰی وَ الرَّکۡبُ

نزدي وئ (مديني ته) او دوى په كناره لري وو (د مديني نه) او قافله (د ابو جهل)

اَسۡفَلَ مِنۡکُمۡ ؕ وَ لَوۡ تَوَاعَدۡتُّمۡ لَاخۡتَلَفۡتُمۡ

لاندي (تيريده) ستاسو نه ، او كه تاسو وعده كړي وه نو خامخا خلاف به كړے وو تاسو

فِی الۡمِیۡعٰدِ ۙ وَ لٰکِنۡ لِّیَقۡضِیَ اللّٰهُ اَمۡرًا

په وعده كښي ، ليكن دي د پاره چي پوره كي الله هغه كار

کَانَ مَفۡعُوۡلًا ۬ۙ لِّیَهۡلِکَ مَنۡ هَلَکَ عَنۡۢ

چي دے كيدونكے ، دي د چي هلاک كي (الله) هغه څوک چي هلاک شو پس د

بَیِّنَةٍ وَّ یَحۡیٰی مَنۡ حَیَّ عَنۡۢ بَیِّنَةٍ ؕ وَ اِنَّ

دليل نه او ژوندے كي هغه څوک چي ژوندے شو پس د دليل نه ، او يقينًا

اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿٤٢﴾ اِذْ يُرِيْكَهُمُ اللّٰهُ فِيْ

الله خامخا اوریدونکے پوهه دے * کله چي اوخودل دوی تا ته الله په

مَنَامِكَ قَلِيْلًا ط وَ لَوْ اَرٰىكَهُمْ كَثِيْرًا

خوب ستا کښي لږ ، او که خودلي ني وو تا ته دوی ډیر

لَّفَشِلْتُمْ وَ لَتَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَ لٰكِنَّ

خامخاسست شوي به وئ تاسو اوخاماجګړي به کړي وي تاسو په کار کښي لیکن

اللّٰهَ سَلَّمَ ط اِنَّهٗ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٤٣﴾

الله بچ کړئ تاسو ، یقیناً الله پوهه دے په رازونو د سینو باندي *

وَ اِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْٓ اَعْيُنِكُمْ

کله چي وني خودل تاسو ته دوی کله چي مخامخ شوئ تاسو په سترګو ستاسو کښي

قَلِيْلًا وَّ يُقَلِّلُكُمْ فِيْٓ اَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ

لږ او کم ني ښکاره کړئ تاسو په سترګو د هغوي کښي دي د پاره چي پوره کي

اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ط وَ اِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ

الله هغه حکم چي دے کیدونکے ، او خاص الله ته واپس کولے شي

الْاُمُوْرُ ﴿٤٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمْ

تول کارونه * اے مـــــومنانو کله چي مخامخ شئ تاسو

فِئَةً فَاثْبُتُوْا وَ اذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ

یو ډلي سره نو کلک شئ او یادوئ الله لره ډیر خامخا تاسو به

تُفْلِحُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ لَا

کامیاب شئ * او تابعداري کوئ د الله او د پیغمبر د الله او

تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا وَ تَذْهَبَ رِيْحُكُمْ

جګړي مه کوئ ګني سست به شئ تاسو او لاړه به شي دبدبه ستاسو

وَاصۡبِرُوۡا ؕ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيۡنَ ۚ﴿۴۶﴾ وَلَا

او صبر کوئ ، يقينًا (امداد د) الله سره د صبر کونکو دے • او

تَكُوۡنُوۡا كَالَّذِيۡنَ خَرَجُوۡا مِنۡ دِيَارِهِمۡ

مه کيږئ په شان د هغه کسانو چې اوتل دوی د کورونو خپلو نه

بَطَرًا وَّرِئَآءَ النَّاسِ وَيَصُدُّوۡنَ عَنۡ

په مستئ او د پاره د ځان ښودلو خلقو ته او بندول دوی (خلقو لره) د

سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا يَعۡمَلُوۡنَ مُحِيۡطٌ ﴿۴۷﴾

لارې د الله نه ، او الله په هغه څه چې کئ دوی گيره اچونکے دے •

وَاِذۡ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيۡطٰنُ اَعۡمَالَهُمۡ وَقَالَ

او کله چې ښائسته کړل دوی ته شيطان عملونه د دوی او اوئيل شيطان

لَا غَالِبَ لَكُمُ الۡيَوۡمَ مِنَ النَّاسِ وَاِنِّىۡ جَارٌ

نشتے زوآور په تاسو نن ورځې د خلقو نه او يقينًا زه پناه گيريم

لَّكُمۡ ۚ فَلَمَّا تَرَآءَتِ الۡفِئَتٰنِ نَكَصَ عَلٰى

تاسو ته ، پس هر کله چې اوليده دواړو ډلو يو بل اوگرځيده (واپس شه شيطان) په

عَقِبَيۡهِ وَقَالَ اِنِّىۡ بَرِىۡٓءٌ مِّنۡكُمۡ اِنِّىۡۤ

پوندو خپلو او اوئيل ده يقينًا زه بيزاره يم ستاسو نه يقينًا زه

اَرٰى مَا لَا تَرَوۡنَ اِنِّىۡۤ اَخَافُ اللّٰهَ ؕ وَ

وينم هغه چې تاسو ئې نه وينئ يقينًا زه يريږم د الله نه ، او

اللّٰهُ شَدِيۡدُ الۡعِقَابِ ﴿۴۸﴾ ع اِذۡ يَقُوۡلُ

الله سخت عذاب والا دے • کله چې وئيل

الۡمُنٰفِقُوۡنَ وَالَّذِيۡنَ فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ مَّرَضٌ

منافقانو او هغه کسانو چې په زړونو د هغوي کښې مرض (د نفاق) وو

ركوع ٦ ٢

غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ ؕ وَ مَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى

دهوکه کړي دي دغه کسان (مومنان) دین د دوی، او چا چي خان اوسپاره په

اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۴۹﴾ وَ لَوْ تَرٰٓى اِذْ

الله باندي پس یقینًا الله زورآور حکمت والا دے * او که لیدلے وے تا کله چي

يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا ۙ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ

روح اغستهٔ هغه کسانو نه چي کفر ئی کړے دے فرښتو وهل ئي

وُجُوْهَهُمْ وَ اَدْبَارَهُمْ ۚ وَ ذُوْقُوْا عَذَابَ

مخونه د دوی او شاګاني د دوی ، (ورته ئي وئیل) اوڅکئ عذاب

الْحَرِيْقِ ﴿۵۰﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْكُمْ

سوزونکے * دا په سبب د هغه (عملونو) چي مخکښي کړي دي لاسونو ستاسو

وَ اَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۵۱﴾ ۙ

او یقینًا الله ندے هیڅ ظلم کونکے په هیڅ یو بنده *

كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَ الَّذِيْنَ مِنْ

(حال د مکي والا) په شان د حال د فرعونیانو دے او هغه کسانو چي

قَبْلِهِمْ ؕ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ

مخکښي وو د دوی نه ، کفر ئي کړے وو په آیاتونو د الله باندي نو اونیول دوی لره الله

بِذُنُوْبِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ شَدِيْدُ

په وجه د ګناهونو د دوی ، یقینًا الله طاقتور سخت

الْعِقَابِ ﴿۵۲﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ

عذاب والا دے * دا د دي وجي نه چي یقینًا الله نه دے

مُغَيِّرًا نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى

بدلونکے یو نعمت لره چي کړے ئي وي هغي لره په یو قوم باندي تر دي چي

يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ وَ اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ
بدل کړي هغوي هغه(احکام) چې لازم وي په نفسونو د هغوي ، او يقينًا الله اوريدونکے
عَلِيْمٌ ﴿٥٣﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَ الَّذِيْنَ
پوهه دے * (حال د مکي والو) په شان د حال د فرعونيانو دے او هغه کسانو
مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ
چې مخکښې د دوی نه وو ، دروغ ئې ګڼړلي وو آياتونه د رب خپل
فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَ اَغْرَقْنَآ
نو هلاک کړل مونږ دوی لره په وجه د ګناهونو د دوی باندې او غرق کړل مونږه
اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَ كُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥٤﴾ اِنَّ شَرَّ
فرعونيان ، او ټول وو دوی ظالمان * يقينًا ناکاره
الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَهُمْ
زنده سر په نزد د الله هغه کسان دي چې کفر ئې کړے دے پس دوی
لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٥﴾ ع اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ
ايمان نه راوړي * هغه کسان چې وعده کړې ده تا هغوي سره د دوی نه
ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ
بيا ماتئ دوی وعده خپله په هر خل
وَّ هُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٦﴾ فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي
او دوی ځان نه بچ کئ(د وعدي ماتولو نه)* نو که ته اومومے دوی لره په
الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ
جنګ کښې نو اوتروه په دوی باندې هغه څوک چې روستو د دوی نه دي خامخا چې دوی
يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَ اِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ
پند واخلي * او که ته يريږې د يو قوم

ع ۳

خِيَانَةً فَانْۢبِذْ اِلَيْهِمْ عَلٰى سَوَآءٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

د خيانت نه   نو اوغورځوه دوی ته (وعده) چې شي برابر (په دعوی د سورت)، يقينًا   الله

لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ وَ لَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ

مينه نه کوئ   د خيانت کوونکو سره *   او   گمان دې نه کوئ   هغه کسان چې

كَفَرُوْا سَبَقُوْا ؕ اِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُوْنَ ﴿۵۹﴾

کفر ئې کړے دے چې دوی به مخکښې شي (بچ به شي زمونږ نه)، يقينًا دوی نه شي خلاصيدے *

وَ اَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ

او   تيارے کوئ   دوی لره   څومره چې طاقت لرئ تاسو   د طاقت (د غشو ويشتلو) نه

وَّ مِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ

او   د   تړلو   د   اسونو نه   چې يروئې تاسو په دې سره   دشمنان د

اللّٰهِ وَ عَدُوَّكُمْ وَ اٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ

الله   او   دشمنان ستاسو   او   نـور   سيوا د دوی نه

لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ؕ وَ مَا تُنْفِقُوْا

نه   پيژنئ تاسو دوی لره ،   الله   پيژني دوی لره ،   او هغه چې خرچ کوئ تاسو

مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ

څه   شے   په   لاره د الله کښې پوره به درکړے شي تاسو (د هغې اجر)

وَ اَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿۶۰﴾ وَ اِنْ جَنَحُوْا

او   په تاسو به   ظلم اونه کړے شي *   او   که   دوی مائل شو

لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَ تَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ

صلح ته   نو ته هم مائل شه دې ته   او ځان اوسپاره   په   الله باندې،

اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶۱﴾ وَ اِنْ يُّرِيْدُوْٓا

يقينًا   دا الله   اوريدونکے   پوهه دے *   او   که   دوی اراده کوئ

اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ

دا چې تګي اوکي تا سره (صلح کښې) نو يقينًا کافي دے تا لره الله ، دا (الله)

الَّذِیْۤ اَیَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَ بِالْمُؤْمِنِیْنَ ۙ﴿۶۲﴾

هغه ذات دے چې مضبوط کړے ئي دے ته لره په امداد خپل او په (جماعت د) مؤمنانو *

وَ اَلَّفَ بَیْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِی

او مينه ئي اچولے ده په مينځ د زړونو د دوی کښې ، که خرچ کړے وے تا هغه چې په

الْاَرْضِ جَمِیْعًا مَّاۤ اَلَّفْتَ بَیْنَ قُلُوْبِهِمْ

زمکه کښې دي ټول مينه به نه وه اچولے تا په مينځ د زړونو د دوی کښې

وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَیْنَهُمْ ؕ اِنَّهٗ عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ ﴿۶۳﴾

ليکن الله مينه واچوله په مينځ د دوی کښې ، يقينًا دا الله دے زورآور حکمت والا *

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ حَسْبُكَ اللّٰهُ وَ مَنِ اتَّبَعَكَ

اے پيغمبره (عليه السلام) کافي دے تا لره الله او هغه چا لره چې تابعداري ئي کړي ده ستا

مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۶۴﴾ ع یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ حَرِّضِ

د مومنانو نه * اے پيغمبره (عليه السلام) تيز که

الْمُؤْمِنِیْنَ عَلَی الْقِتَالِ ؕ اِنْ یَّكُنْ مِّنْكُمْ

مومنان په جنګ باندې ، که وي ستاسو نه

عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ یَغْلِبُوْا مِائَتَیْنِ ۚ

شل / ۲۰ کسان صبر کونکي زورور بري په دوؤ سوؤ / ۲۰۰

وَ اِنْ یَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ یَّغْلِبُوْۤا اَلْفًا مِّنَ

او که وي ستاسو نه سل / ۱۰۰ کسان نو زورور بري به په زرو / ۱۰۰۰ د هغه

الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا یَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾

کسانو چې کفر ئي کړے دے دي وجه نه چې دوی يو قوم دے چې نه پوهيږي *

اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَ عَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ

اوس آسانتيا اوكړه الله . ستاسو نه او پوهه دے الله چې يقينًا په تاسو كښې

ضَعْفًا ؕ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ

كمزورتيا ده ، پس كه وي ستاسو نه سل / ۱۰۰ كسان صبر ناك

يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَ اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ

زورآور به شي په دوو سو / ۲۰۰ ، او كه وي ستاسو نه زر / ۱۰۰۰ كسان

يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ مَعَ

زورآور به شي په دوو زرو / ۲۰۰۰ په حكم د الله ، او الله دے سره د

الصّٰبِرِيْنَ ﴿۶۶﴾ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ

صبرناكو نه * نه شي كيدے د پاره د پيغمبر (عليه السلام) دا چې شي

لَهٗٓ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِى الْاَرْضِ ؕ

ده لره قيديان تر دې چې وينې توئې كې په زمكه كښې ،

تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَ اللّٰهُ يُرِيْدُ

اراده لرئ تاسو د سامان د دنيا ، او الله اراده لري

الْاٰخِرَةَ ؕ وَ اللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۷﴾ لَوْ لَا كِتٰبٌ

د آخرت (د اجر ستاسو د پاره) او الله زورآور حكمت والا دے * كه نه وے حكم

مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ اَخَذْتُمْ

د طرفه د الله نه تير شوے (۱) خامخا رسيدلے به وو تاسو ته په هغه څه چې اغستي دي تاسو

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۶۸﴾ فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا

عذاب لوئې * پس خورئ د هغه څه نه چې غنيمت حاصل كه تاسو حلال

طَيِّبًا ۖ وَّ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

پاک ، او اويريږئ د الله نه ، يقينًا الله دے بښونكے

(۱) په فديې اغستو

رَّحِيْمٌ ﴿٦٩﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّمَنْ فِيْۤ اَيْدِيْكُمْ
مهربان * اے پيغمبره (عليه السلام) اووايه هغه چا ته چې په اختيار ستاسو کښې دي

مِّنَ الْاَسْرٰۤى ۙ اِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ
د قيديانو نه که معلوم کړي الله په زړونو ستاسو کښې

خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّاۤ اُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ
اخلاص در به کړي تاسو ته غوره د هغه نه چې اغستلے شوي دي ستاسو نه او ببښنه به اوکړي

لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧٠﴾ وَاِنْ يُّرِيْدُوْا
تاسو ته ، او الله دے ببښونکے مهربان * او که اراده کړې دوی

خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ
د خيانت تا سره نو تحقيق سره دوی خيانت کړے وو د الله سره مخکښې (د دې نه)

فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٧١﴾ اِنَّ
پس بدله ئې واغسته د دوی نه ، او الله دے پوهه حکمت والا * يقينًا

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ
هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے او هجرت ئې کړے دے او جهاد ئې کړے دے په مالونو خپلو

وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا
او نفسونو خپلو په لاره د الله کښې او هغه کسان چې ځائے ئې ورکه (مهاجرينو ته)

وَّنَصَرُوْۤا اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ
او امداد ئې اوکه (د دوی) دغه کسان بعضے د دوی دوستان د بعضو دي

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ
او هغه کسان چې ايمان ئې راوړے دے او هجرت ئې نه دے کړے نشتے ستاسو د پاره د

وَّلَايَتِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا ۚ وَاِنِ
دوستئ د دوی نه څه شے تر دې چې هجرت اوکړي دوی، او که

اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ

دوی امداد اوغواړي ستاسو نه په دين کښي نو لازم دے په تاسو باندي امداد کول

اِلَّا عَلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ ؕ

